شهامت

یوولسم کال، څلورمه، پرلپسې ٦٦مه گڼه، ربیع الاول١٤٣٩هق، دیسمبر٢٠١٧م

نړۍ ته!

په نړیوال سیاست کې د امریکا برتري نور د زغملو نده ....

محدث العصر مولانا محمد یوسف بنوري رحمة الله علیه

فقه د حدیث له نظره

او په ظاهریه مذهب یوه کتنه

بیت المقدس د تاریخ

په لوړو او ژورو کې

فلسطین ته یهودان

څنگه، کله او چا راوستل؟

ټرامپ، یهود، القدس وما مسلمانها

روابط تنگاتنگ ترامپ و یهود

- امریکایان ولې مدارس او دیني عالمان په نښه کوي؟!
- طالبان پوځي تجهیزات له کومه تر لاسه کوي؟!
- د مزار لوبه
- د مسلمانانو اصلي ستونزه، اسرائیل ؛ که امریکا؟!
- د برما د مهاجرینو په اړه خطرناکه پریکړه

فلسطین کې

د امریکا او د هغې د ملگرو شوم عزایم....!

شهامت

علمي، کلتوري او اسلامي مجله

يوولسم کال، څلورمه، پرلپسې ۶۶مه ګڼه، ربيع الاول ۱۴۳۹هق، ډيسمبر ۲۰۱۷م

دامتيازخاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کميسيون

مسؤل مدير :

ابو ظهير

کتنپلاوی :

لطيف عزم ،
حسن " علوي" بلال "وحيد"
نعيم " صافی " عابد مجاهد
قاري حبيب

بيـــه :

يوه ګڼه ۲۰ افغانۍ او ۳۰
کلدارې په پاکستان کې

تخنيکي مسؤل :

تخنيکي څانګه

يادونه

شهامت له سرمقالې پرته دنورو
ليکنو مسؤليت په غاړه نه اخلي.

لړليک

ګڼه	عنوان	مخ
۱	سرليکنه....................................	۱
۲	طالبان پوځي تجهيزات له کومه ترلاسه کوي؟...............	۳
۳	د مسلمانانو اصلي ستونزه، اسرائيل که امريکا؟.............	۷
٤	بيت المقدس د تاريخ په لوړو او ژورو کې.....................	۹
٥	فقه دحديث له نظره او په ظاهريه مذهب يوه کتنه	۱۴
٦	طالبان او د امريکايي اشغال په مقابل کې يې مقاومتي تدرج...	۲۱
۷	امريکايان ولې مدارس او ديني عالمان په نښه کوي..............	۲۵
۸	فلسطين ته يهودان څنګه کله او چا راوستل؟.................	۲۷
۹	فلسطين کې د امريکا او دهغې دملګرو شوم عزايم............	۲۹
۱۰	د عام وژنې بهانه !...............................	۳۳
۱۱	اشغال نه د بيت المقدس ازادولو لپاره يواځې اعلاميه کافي....	۳۴
۱۲	ترامپ، يهود ، و مامسلمانها روابط تنګا تنګ ترامپ ويهود..	۳۶
۱۳	ګلوريني پاڼې......................................	۳۸
١٤	برما ته د مهاجرينو دبېرته ستنيدلو خطرناکه پريکړه............	۴۰
۱۵	صليب او کليسا په ارګ کې................................	۴۳
١٦	دوه تقاعد شوي سپي او دوه برحاله وزيران !!................	۴۶
۱۷	له بناغلي ليکوال سيد سعيد صاحب سره مرکه..................	۴۸
۱۸	د اسلامي نړۍ سرمشريزې له ستيجه د يو موثر غبرږ زوږ.........	۵۴
۱۹	زموږ ساده ولس دنوي، وروسته او سبا اصطلاحاتو په دام کې..	۵۷
۲۰	مسلمانان ولې ستونزمن ژوند لري؟.........................	۵۹
۲۱	د مزار لوبه	۶۳
۲۲	۱۰هغه قوانين چې تنها يې په شمالي کوريا کې ليدلای شي!!..	۶۴
۲۳	د ټرمپ نوی اعلان او داسلامي نړۍ کمزوری دريځ............	۶۶
٢٤	امام شهاب الدين بن ارسلان رحمه الله.........................	۷۰

ادرس : کابل کارته پروان عقب سينمای بهارستان
بريښناليک : Sham.shahamat@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

نړۍ ته

په نړیوال سیاست کې دامریکا برتري نورد زغملو نده ....

د امریکا لخوا داسراییلو پلازمینې په توګه دبیت المقدس منلو له اعلان وروسته په ټوله نړۍ کې قهرجن غبرګونونه او لاریونونه راپاریدلي، دعربي او اسلامي هېوادوپه غوښتنه دملګروملتونو دعمومي اسمبلۍ د۱۹۳غړو هېوادو دبېړنۍ اوځانګړې غو ندې جوړېدو دامریکا او اسراییلوپه وړاندې نړیوال ذهنیت عکاسي کړ.

دخبري سرچینو په راپور: دملګرو ملتونو دعمومي اسمبلۍ بېړنۍ غونډې دبیت المقدس په اړه دټرمپ پریکړه رد کړه اود۱۳۸ هېوادونو استازو بیت المقدس ښار دحیثیت په اړه دامریکا دولسمشر ټرمپ پریکړه لغوه او باطله اوګرځوله او په اړه یې د بیرته اخستلو هوکړه لیک تایید کړ

ددینه وړاندې دملګرو ملتونو امنیت شورۍ څلورو مستقلو او لس غیر مستقلو هېوادونو هم دورته یو هوکړه لیک دتایید لپاره رایې ورکړې وې خو یوازې دامریکا دمخالفت له کبله هغه پریکړه لیک نه و منل شوی او دا ځکه چې امریکا دامنیت شورۍ مستقل غړی هېواد دی.

او دامنیت شورۍ پریکړه په هغه صورت کې منل کېږي چې ټول پنځه غړي هېوادونه امریکا، برتانیا، فرانسه، روسیه اوچین یې دتایید لپاره رایې ورکړې .

دملګرو ملتونوعمومي اسمبلۍ کې درایو شمیرنې مخکې دامریکا ولسمشر ډونلډ ټرمپ ګواښ وکړچې دعربي او اسلامي هېوادو پریکړه لیک ته دتایید رایو ورکونکو هېوادو سره به خپلې مرستې او ځنډوي، خوددې ګواښ باوجود دملګرو ملتونو دعمومي اسمبلۍ غړوهېوادو هغه هوکړه لیک په درونداکثریت سره تایید کړ په کوم کې چې امریکا نه غوښتنه شوې چې داسراییلود پلازمینې په توګه دبیت المقدس ښاراعلانولو په اړه خپله پریکړه دې بیرته واخلي.

دکتونکو په اند: که څوهم دا یواځې یوه علامتي پریکړه ده او دامریکا په پریکړې ډېر اغیز نلري ځکه امریکا دنړۍ داسې مغرور او کبرجن هېواد دی چې دغه ډول پریکړې ورته کوم اهمیت نلري البته په دې سره

دامریکا سیاسي غرور ضرور مات او ټکان اوخوړ،امریکا دا نه انګیرله چې دملګرو ملتونودعمومي اسمبلی په تالار کې به د دومره رسوایي اوخجالت سره مخ کېږي ،معلومه شوه چې ټوله نړۍ داسراییلو اوامریکاخلاف پر یوه ستیج ولاړه ده او دا هم سمه ده چې ټرمپ له خپلې پریکړې نه تیرېږي لیکن ټرمپ پخپل حماقت سره نړۍ دي اعلان کولو ته اړکړه چې: [بیت المقدس داسراییلو دپلازمینې په توګه ورته دمنلو وړندی] په دې سره اسراییل په سیاسي ډګرکې تنها او دنړۍ څخه جلاپاته شو

دسیاسي چارو شاندو په وینا: له شک پرته دامریکا او اسراییل لپاره دا یواخلاقي او سیاسي شکست دی خو دفلسطین او اسلامي نړۍ لپاره هم کوم ستر اودپام وړ بری ندی،ځکه په دې سره کوم خاص څه لاس ته نه ورځي ، بل دا لومړی ځل ندی چې ملګروملتونو کې امریکا د اسراییل دملاترپه سر دیواځیتوب سره مخ کېږي وړاندې هم له اویاوو څخه زیات پریکړه لیکونه چې داسراییل په خلاف منل شوي وو ا مریکا هغه ټول د ویټو په کارولو بې اثره ګرځولي، لنډه داچې په تیرو اووه لسیزو کې مسلمانانوته دملګرو ملتونو یا دامنیت شورى له ستیج کوم خیر ندی رسیدلی او نن چې ددې ستیج نه په ناوړه ګټه امریکادخپلو ایتلافي ملګرو، ناټو غړو هېوادو اونورو خپلواکو هېوادو رایې ترپښو لاندې کوي داد ټولې نړۍ او بشریت لپاره دشرم او خجالت ځای دی

هغه امریکا چې په افغانستان کې دخپل بد شکست وروستۍ شیبې لنډوي وربانديې داسې څوک ولسمشرې کوي چې هغه ته نه یواځې په نړۍ کې دعصبي او ذهني ناروغ په توګه کتل کېږي بلکې خپله امریکا کې دهغه په باب داسې ګنګوسې مخ پر زیاتیدودې چې باید دټرمپ نه داتومي برید دقومندې واک واخیستل شي ؛ځکه هغه په هیڅ صورت یو دباوروړانسان ندی د اسراییلو دپلا زمینې په توګه دبیت المقدس ښار اعلانولو وروسته ښکاري نړیوال دیته اړشوي چې په نړیوال سیاست کې ورته نور دامریکا برتري دزغملو نه ده او داییې درک کړې چې دامریکا شتون او پالیسیانې نړۍ د نورو خطرونو او ګواښونو سره مخ کولی شي د تجربه کارو کتونکوپه نظر دا یو مهم ، پرځای او مثبت بدلون دی چې دامریکا په اړه په نړیوال ذهنیت کې رامنځته شوی په دې لړ کې نړیواله ټولنه او په خاصه توګه دنړۍ مخکښ هېوادونه رښتیا هم مسؤلیت لري چې پورته شي او نړۍ دامریکا له شره وژغوري.

بل پلو ته د نړۍ هرڅلورم وګړی ددې پوښتنې حق لري چې آخر دملګرو ملتونو په امنیت شورى کې دمسلمانانو دحقوقو غږ ولې هرځل دویټوپه تار زندۍ کېږي؟ او دا لړۍ به ترکومه روانه وي؟ هغه ورځ به کله راځي چې له دغه ستیج څخه دمسلمانانو ددفاع په حق کې کومه پریکړه یا غږ واریدل شي؟

هو! که په نړۍ کې امنیت راوستل ، دنړیوالې ټولنې اجندا وي او یا ورته امنیت راوستل اهمیت لري باید نړۍ دمسلمانانو پوښتنو ته ځواب اووایي او په امریکا فشار راوړي چې له افغانستان، عراق او نورو هېوادو نه خپل ځواکونه اوباسي او په خاصه توګه دبیت المقدس په اړه دمسلمانانو دریځ اوغوښتنې دکوم قید او شرط پرته ومني ...

طالبان پوځي تجهیزات له کومه تر لاسه کوي؟!

شاهد غزنیوال

افغانستان له تیرو ۱۶ کلونو راهیسې د امریکايي اشغال تر وحشت لاندې دی .

په همدې اوږده موده کې طالبان د امریکايي اشغالګرو، د هغوی د ایتلافي اشرباڼو او ګوډاګي رژیم په مقابل کې مقاومت کوي ، داسې مقاومت چې امریکایان ، د ناټو پوځي تړون او له هغوی سره یو ځای د ۴۸ هیوادونو مجهز ځواکونو يې په پوځي ډګر کې له ښکاره شکست سره مخ کړي .

پوښتنه داده چې طالبان دا مقاومت څه ډول پرمخ بیايي او د پرمخبیولو لپاره يې وسلې ، امکانات او پوځي مهمات له کومه کوي ؟

مونږ مخکې تر دې چې دې پوښتنې ته ځواب ووایو غواړو په مختصر ډول د امریکا د متحده ایالاتو د نړیوال قوت او د هغوی د مجهز پوځ او د طالبانو(اسلامي امارت) د ډیرو محدودو وسائلو او پوځي امکاناتو ترمنځ یوه لنډه مقارنه وکړو او بیا د هغوي په مقابل کې د طالبانو د پوځي وسائلو او امکاناتو په ترلاسه کولو خبره وکړو.

د امریکايي پوځ د رسمي ویب سایت د معلوماتو له مخې د امریک د متحده ایالاتو وسله وال پوځ د لاندې امکاناتو لرونکی پوځ دی:

امریکايي پوځ ((Military of the United States په نړیواله کچه د نړۍ د لومړۍ نمبر قوي پوځونو له جملې څخه ګڼل کیږي.

د امریکايي پوځ نظامي او تخنیکي تجهیزات په نړیواله کچه پرمختللي او په عسکري لحاظ د نړۍ هیڅ هیواد هم ورسره د مقابلې توان نه لري.

د امریکايي پوځ د داخل خدمت پوځیانو شمیر (۱۴۰۰۰۰۰) دی.

کلنی بودیجه يې (۵۹۷) ملیارده ډالره ده

د هوايي ځواک د جنګي الوتکو شمیر يې (۱۳۸۹۲)

د زغروالو جنګي وسائطو شمیر يې (۱۵۰۸۹)

او د بحري ځواکونو د جنګي بیړیو شمیر يې (۴۷۳) دی. (۱)

چین ، روسیه او شمالي کوریا د امریکا پوځي ، سیاسي او اقتصادي

سیالان دي ، خو کله یې هم له امریکا سره د مقابلې خیال په سرکې نه دی ورگرځولی.

امریکا د همدې مجهز او له تسلیحاتي او تخنیکي پلوه پرمختللي پوځ له طالبانو سره مقابله پیل کړې.

یواځې امریکا نه بلکې له هغوي سره په دې مقابله کې د نړۍ تر ټولو ځواکمن پوځي تړون (ناټو) او نور ۴۸ غربي هیوادونه هم ملگري دي .

خو طالبانو پوره ۱۶ کاله له امریکا، ناټو او د ۴۸ هیوادونو له مجهزو ځواکونو سره په تش لاس داسې مقابله وکړه چې د نړۍ ټول پوځي ماهرین ورته گوته په غاښ دي.

د نړۍ پوځي ماهرین د خپلې نظامي پوهې او مسلک له مخې په دې خبره پوهیږي چې د امریکا، ناټو او ۴۸ هیوادونو له ایتلافي ځواکونو سره مقابله ناشونې ده.

طالبان چې په تش لاس د هغوی مقابله کوي دا مقابله یې په مادي امکاناتو او پوځي تجهیزاتو نه ؛ بلکې د یوه داسې معنوي ځواک په مټ ده چې بشر یې له خپل ټول توان ، تخنیک او کمال سره له مقابلې څخه عاجز دی.

د الله نصرت ، پر الله توکل او د خپل هیواد له جهادي قضیې سره اخلاص او هغې ته وفاداري د دې لامل شوی چې تش لاسې طالبان د نړۍ د ترټولو سترمادي ځواک د ظالمانه یرغل مقابله وکړي ، په دې مقابله کې د هغوي په زرگونو مغرور سرتیري ووژني، په لکونو ژوبل او یو شمیر هم ژوندي ونیسي.

راځۍ وگورو چې له پوځي ، تخنیکي او اقتصادي پلوه وروسته پاتې طالبان د امریکا ، ناټو تړون او د هغوي له ۴۸ ایتلافي ځواکونو سره دا مقابله څرنگه پرمخ وړي ؟

دهغې لپاره پوځي امکانات څرنگه برابروي؟

او د هغې لپاره پوځي وسائل له کومه ترلاسه کوي؟

په دې کې شک نشته چې د امریکا ، ناټو تړون او ۴۸ هیوادونو مجهزو ځواکونو په مقابل کې که په فرض محال سره طالبان له کوم جهت څخه وسلې او پوځي امکانات ترلاسه کوي هم نو هغه به په نشت حساب وي.

ځکه چې طالبان نه په نړۍ کې له کوم هیواد یا رسمي سازمان سره دیبلوماتیک روابط لري چې هغه دې د وسلو او پوځي تجهیزاتو د راکړې ورکړې قرار داد ورسره وکړي ، او نه هم خپله دوی وسلو جوړولو داسې کمپنۍ لري چې وکولای شي د امریکا او متحدینو غوندې پرمختللیو پوځي وسائلو مقابله دې ورباندې وکړي.

نبه نو طالبان وسلې او پوځي مهمات له کومه کوي؟

د طالبانو د رسمي منابعو او د جگړې په ډگرکې د عیني واقعیتونو له مخې طالبانو له اشغالگرو امریکایانو سره د مقاومت پیل په خپلو پخوانیو لاس لرلو وسلو شروع کړی.

وروسته یې د مقاومت په جریان کې له امریکایي یرغلگرو د هغوي له متحدینو او همدا راز د هغوي له مزدرانو څخه دومره وسلې او امکانات غنیمت کړي چې دا مقابله او مقاومت وربانډې جاري وساتي .

مونږ په دې اړه دلته یو شمیر هغه ارقام او حقائق را اخلو چې زمونږ د دې ادعاء سپیناوی کوي.

الف : د طالبانو له رسمي ويب پاڼې (الاماره) سره د هلمند ولايت لپاره د طالبانو د پخواني مرستيال والي حاجي ملا ناصر د مرکې په اساس د تير دوبي په دوه نيمو ميشتو کې طالبانو يواځې د هلمند په ولايت کې ۴۰۰ ميله مختلف النوع امريکايي وسلې له دولتي ځواکونو څخه غنيمت کړي.

چې د هغو په جمله کې همدا د شپيې دوربين لرونکې لايزري وسلې، توغندي ويشتونکي راکيټ لاينچرونه ، اتومات ماشين دار او غير اتومات (Sniper) او نوري بيلابيلې هغه وسلې دي چې امريکايانو د ملي اردو ځواکونو ته ورکړې او طالبانو د جګړې په ترڅ کې ترې ولجه کړې دي. (۲)

دا يواځې د هلمند ولايت د يوې برخې د دوه نيمو مياشتو غنائيم دي چې په هغه کې فقط د وسلو ارقام ښودل شوي ، حال دا چې له همدې وسلو سره د غنيمت شويو لا محدودې اندازه پوځي مهماتو او همدا راز زغروالو وسائطو کوم تذکر نه دی شوی .

د دې ترڅنګ د هيواد په شمال

او شمال ختيځو ولايتونو کندوز، بدخشان ، بغلان، سرپل ، جوزجان او فارياب ولايتونو کې طالبانو دومره وسلې او پوځي مهمات له دولتي ځواکونو څخه غنيمت کړي چې د ډير وخت لپاره وربانديې د خرپ او ترپ په بريدونو کې هم د امريکايانو او هم د داخلي ځواکونو مقابله وربانديې کولای شي .

په يادو وسلو کې پوځي شوبلې، هاموي زغرګاډي ، درنې او سپکې مختلف النوع وسلې او د هغوي پريمانه پوځي مهمات شامل دي.

په شمال کې د طالبانو په لاس د دولتي غنائمو ولجه کيدل د شمال دولتي چارواکي هم مني او له مختلفو خبري رسنيو سره يې وربانديې مرکې هم کړې دي .

مونږ غواړو دلته د شمالي زون د مختلفو ولايتونو د دولتي چارواکو هغه اعترافات را واخلو چې په دې اړه يې له رسنيو سره کړې دي .

د کندوز دولتي چارواکو د تيرعقرب په مياشت کې خبر ورکړ چې په شمال کې د وسله والو طالبانو نظامي قطعې او ګرځنده وسله وال ګروپونه له ۲۲۰ څخه زيات دولتي ټانګونه او رينجر موټرونه په اختيار کې لري او هره ورځ يې د افغان ځواکونو پرضد جګړو کې استعمالوي.

د يادو چارواکو په خبره په دغو وسائطو کې ۷۰ هاموي زغرګاډي او له ۱۵۰ څخه زيات پوځي رينجر موټرونه دي، چې يواځې په کندوز، تخار او بدخشان کې د طالبانو له سيارو قطعاتو سره موجود دي.

که څه هم چې د کندوز او بدخشان ولايتونو مسئولين ادعا کوي، چې د داخلي ځواکونو په هوايي بريدونو کې زياتره دغه

وسایل له منځه وړل شوي؛ خو د جګړې په ډګر کې د طالبانو محاربوي فعالیتونه بیا دا په ډاګه کوي، چې لاهم سلګونه پوځي وسایط او ټانګونه د هغوی لخوا د دولتي قوواو په خلاف کارول کیږي.

د کندوز امنیې قومانداني د امنیت امر محمد صفر وایي:

((د کندوز د سقوط پرمهال طالبانو په زیاته شمېره کې پوځي وسایط او ټانګونه له امنیتي ځواکونو څخه ونیول چې یوشمېر یې په هوایي بریدونو کې له منځه تللي؛ خو دې ډلې سره په دشت ارچي، قلعه یې ذال، ګول تپه او نورو سیمو کې شاوخوا ۲۰ هاموې زغروال ګاډي او ۷۰ رینجر په واک کې دي)) (۳)

پورتني ارقام یواځې هغه وسائل په ګوته کوي کوم چې طالبانو د کندوز او بدخشان په ولایتونو کې له دولتي ځواکونو څخه غنیمت کړي .

داچې په جنوبي ولایتونو پکتیا، پکتیکا او خوست کې طالبانو د روان کال د فتوحاتو په ترڅ کې په کومه پیمانه پوځي وسائل، زغرګاډي ، او پوځي مهات غنیمت کړي د هغوی په اړه له رسنیو سره کوم معلومات نشته خو طالبانو د رواني لیندۍ په میاشت کې د جاني خیلو په ولسوالۍ کې د غنیمت کړل شویو وسائلو هغه تصویري ویډیو خپره کړه په کومه کې چې د یادې ولسوالۍ د نیولو په مهال یې له دولتي ځواکونو څخه غنیمت کړي وو.

خلاصه دا ویلای شو چې له امریکایانو ، ناټو ترون او د هغوي له غربي ایتلافیانو سره د طالبانو مقاومت یواځې په هغو وسائلو تر سره کیږي کوم چې له دوي څخه په مخامخ جګړو کې غنیمت کړي او یایي هم په ځینو حالاتو کې د هغوي له داخلي مزدورانو څخه د پیسو په مقابل کې تر لاسه کوي .

هغه څه چې امریکایان او د هغوي تبلیغاتي ډنډورچیان وایي چې طالبان له بهرنیو هیوادونو څخه د امریکایي د وهلو لپاره وسلې او پوځي مهات تر لاسه کوي هغه ټول داسې بې اساسه ادعاوي دي چې د اثبات لپاره یې په تیر ۱۶ کلن مقاومت کې یوه بیلګه هم نشي-وړاندې کولای.

په یادې لیکنې کې له لاندې منابعو څخه استفاده شوې:

د امریکا د وسله وال پوځ رسمي ویب پاڼه :

https://www.defense.gov/

د طالبانو الاماره رسمي ویب پاڼه

http://shahamat 1.com/

خبر پاڼه خپلواکه رسنۍ

https://www.khabarpana.com/

دمسلمانانو اصلي ستونزه

اسرائیل ده: که امریکا؟!

عبید / تنویر

ددسمبرپه ۱۳ نیټه دترکي هیوادپه پلازمینه استانبول کې د۵۷ اسلامي هیوادونومشرانو اواستاځو داسلامي همکاری دسازمان ترچترلاندې دیوې ځانګړي ناستي په ترڅ کې له نړۍ څخه وغوښتل چې بیت المقدس دفلسطین د پایتخت په توګه په رسمیت وپیژني

سازمان په خپل پریکړه لیک دټرامپ هاغه پریکړه چې دمسلمانانورومبی قبله (بیت المقدس) یې د اسرائیلي رژیم دپلازمیني په توګه اعلان کړه باطله او بې اعتباره وبلله اوله امریکاڅخه یې وغوښتل چې په خپله پریکړه له سره غوروکړي .

داسلامي همکاری سازمان په پریکړه لیک کې راغلي چې هغه دولتونه ، بنسټونه ، شرکتونه اومقامات چې بیت المقدس داسرائیلي رژیم دپایتخت په صفت مني ؛ اسلامي هیوادونه بائیدله هغوسره خپلې ټولي اقتصادي اوسیاسي اړیکي وشلوي .

نوموړې ناسته چې دترکي ولسمشر (طیب اردګان) رهبري کړه دخپلې ویناپه ترڅ کې یې اسرائیلي رژیم غاصب اوترهګروباله اوژمنه یې وکړه چې په خپل ټول قوت به دامریکادورستي تصمیم په وړاندې ودریږي .

داسلامي هیوادونو روان وضعیت اووربانـدي مسلط حالت دومره ځورونکی اوله ناامیدیوډک دی چې د استانبول دناستي په څیرغونډه چې داسلامي هیوادونو مشران اواستاځي دې پکې راټول شي اودخپلې رومبی قبلې په موضوع دې په صراحت بحث وکړي داکار هم ناشونی بریښیده ، ځکه چې په مقابل کې یې امریکاولاړه ده او ناشوني ده چې داسلامي هیوادونوواکمن اوشاهان دې ترډیره ځایه دامریکادنبض اورضایت خلاف کوم حرکت اوګام ترسره کړي

ځکه امریکاهرمسلمان چارواکی ګواښلی چې که خلاف ورزي یې وکړه اودامریکاله ګټواومصالحوې پښه واړوله نودقدرت ګدی به یې متزلزله کیږي اوپه یوه اوبله پلمه به وربانـدې تورونه اوبندیزونه لګیږي .

داستانبول په ناسته کې ولیدل شول چې دسعودي ، مصر ـ اومتحده اماراتو واکمنوداتکلیف ځانته ورنکړچې دبیت المقدس دسرنوشت په اهمه موضوع اوتصمیم نیونه کې په خپله ګډون وکړي ، بلکي استاځي یې ورته رالیږلي وو چې داپه خپله ددې حقیقت ښکارندوینه کوي چې امریکا دخپلو ناولو او اسلام دښمنه موخودټینګښت په برخه کې څومره کار او زمینه سازي کړی !!

که څه هم داسلامي همکاری سازمان ورستی ناسته اوپریکړه لیک به ترډېره ځایه عملي جنبه ونلري ؛ ولې نوموړي ناستې داخبره په ډاګه کړه چې که داسلامي هیوادونوواکمن له خپله ځانه دغفلت اوتذبذب وزري وځنډي اوله خپلواقتصادي ، سیاسي اوجغرافیوي امکاناتوګټه واخلي له شک پرته داځواک اوامکان شته چې امریکا اودامریکا بچوړي اسرائیل مهاراوسمي لاري ته یې راولي.

یعني که لږترلږه دیوې اونی لپاره اسلامي هیوادونه له امریکاسره اقتصادی اوسیاسي معاملي ودروي اودیوې حربي په توګه یې وکاروي په ترڅ کې به یې دنړۍ دغه لوی ابرقدرت دیوه فقیرهیوادپه توګه خامخخي ته رازي .

اوکه اسلامي هیوادونه په دې متفق اووتوانیږي چې یومشترک اسلامي پوځ اوګډ اقتصادي ځواک ولري څوک څه فکرکوي چې دامریکااواسرائیلوپه ځیرغاصب اوښکیلاګرهیوادونه به دمسلمانانوپښوته سرونه ټیټ نکړي ؟

خودغه حالت راتلل تراوسه دمسلمانانوپه اذهانوکې له تش خیال اوخوب څخه پرته بل کوم مفهوم او تعبیرنلري ، علت یې دادی چې تراوسه دډېرواسلامي هیوادونوواکمن خپل عزت اونجات په دې کې ګوري چې په اوړوپې دامریکاباج اوراج حاکم اوواکمن وي .

په صراحت وایوچې داسلامي دنیا او مسلمانانو دستونزي اوکړاو ځای اسرائیل ندی ، داسرائیلو دمهارلو او ګونډو کولولپاره دفلسطین دحماس جهادي ډله هم کافي ده ؛ خوداامریکاده چې له تیرو۷۰ کلونو راهیسي په مستقیم ډول دفلسطیني مسلمانانو ویني تویوي اوهم یې دمسلمانانوړومبی قبله یې اشغال کړیده

که مسلمانان غواړي په فلسطین اونوري نړۍ کې دمظلومیت او محکومیت له حالت څخه نجات پیداکړي او خوداراديت ولري ؛نوداسرائیلوپرځای دې خپل مشکل اول له امریکاسره حل اوفصل کړي اوله امریکاسره دې نورهیڅ نکوي ،بلکې دخپل اقتصاد، سیاست او ملي اساساتو واګی اواختیاردې خپل اودامریکا له سلطي او سیطري څخه بچ کړي.

قاري حبیب

بیت المقدس د تاریخ

په لوړو او ژورو کې

فلسطین د عربي ټاپوزمې په لویدیځ کې د پخواني شام د هغې برخې نوم دی چې د اردن سیند او مدیترانې بحیرې تر منځ پرته ده.که څه هم ټول شام ارض الانبیاء بلل کیږي خو فلسطین بیا په شام کې هغه ځانګړې ټوټه ده چې الله تعالی یې په سورة الاسرا کې د فیض او برکت امتیاز په صراحت بیان کړی دی.د تاریخي روایاتو له مخې د فلسطین اصلي اوسیدونکي هغه سامي عرب قبائل وو چې له جزیرة العرب نه دغې زرخیزې سیمې ته کوچیدلي وو، وروسته دا سیمه د یهودانو تر واک لاندې راغله او بیا د پیړیو په اوږدو کې د مختلفو قومونو او مذهبي پیروانو تر منځ لاس په لاس په شوه.

په اسلامي تاریخ کې د فلسطین له نوم سره له هغه مهاله آشنا کیږو کله چې له اوس نه شاوخوا څلورزره کاله پخوا د ابراهیم علیه السلام عبرتناک سرګذشت او تاریخي سفر پیلیږي. ابراهیم علیه السلام د عراق په اُور سیمه کې وزیږېد، له هغه ځایه یې د ترکیې حران سیمې ته هجرت وکړ،وروسته له حران څخه د شام په خوا روان شو او په فلسطین کې میشت شو. په فلسطین وچکالي راغله او ابراهیم علیه السلام مصر ته لاړ خو ډیر ژر بیرته فلسطین ته راستون شواو همدلته د اوسیدو له امله الخلیل ښار دده په نوم مسمی شو.

په فلسطین کې د بیت المقدس اوسنی ښار چې وروسته په ایلیاء او قدس سره ونومول شو د ابراهیم علیه السلام په زمانه کې د یبوس په نوم یادېده، ابراهیم علیه السلام لکه څنګه چې د ځمکې د مخ لومړنی ودانی بیت الله شریفه له سره ودانه کړې وه د مسجد الاقصی په نوم هغه تاریخي مسجد یې هم له سره ودان کړ چې د ادم علیه السلام له زمانې راهیسې د قدس په سیمه کې پر الله تعالی د باور لرونکو عبادتځای و. په صحیحینو کې د أبوذر غفاري رضی الله عنه نه روایت دی چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه مې وپوښتل چې په ځمکه کې تر ټولو لومړی کوم مسجد جوړ شوی دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم ځواب راکړ چې لومړی مسجد الحرام جوړ شوی دی. ما وپوښتل او دوهم کوم مسجد جوړ شوی؟ ځواب یې راکړ چې مسجد الاقصی. أبوذر غفاري رضی الله عنه وایي ما وپوښتل چې د دوی د تاسیس تر منځ څومره موده وه؟ نبي علیه السلام ځواب راکړ : څلویښت کاله.

له دیني لیدلوري مسجد اقصی د کومې مشخصې ودانۍ یا عمارت نوم نه دی، بلکې د هغه ځای نوم دی چې له څو زریزو راهیسې د پیغمبرانو د عبادت ځای پاته شوی دی.هغه ساحه چې د مسجد الاقصی اطلاق وربانديې کیږي د څه کم پنځه سوه متره طول او شاوخوا درې سوه متره عرض درلودونکې هغه ساحه ده چې اوسنی مسجد الاقصی، قبة الصخره او نور متبرک مقامات احاطه کوي.

دا مبارکه ځمکه لکه څنګه چې د ادم علیه السلام او ابراهیم علیه السلام د عبادت ځای پاته شوی، وروسته حضرت یوشع علیه السلام، موسی علیه السلام او یعقوب علیه السلام هم د الله تعالی په عبادت پاللی دی. داود علیه السلام دلته د عبادت لپاره

خانګړی محراب ودان کړی و او زوی یې حضرت سلیمان علیه السلام همدلته یو لوی معبد ودان کړ چې په هیکل سلیمان یې شهرت وموند او بیا د بخت نصر د یرغل په مهال ونړول شو.

د سلیمان علیه السلام له زمانې وروسته دا سیمه د یهودانو تر تصرف لاندې راغله، خو څرنګه چې یهود یو سرکشه قوم و الله تعالی ورباندې بیا بیا آفتونه نازل کړل. که څه هم د آخري نبي حضرت محمد صلی الله علیه وسلم له بعثت وړاندې د فلسطین یهود بیا بیا ترمختلفو یرغلونو لاندې راغلي خو په دوی دوه ستر عذابونه هغه راغلي چې قران کریم هم ورته په سورة الاسراء کې اشاره کوي. الله تعالی فرمایي: *وَقَضَيْنَا إِلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ* فِي الْكِتَابِ لَتُفْسِدُنَّ فِي الْأَرْضِ مَرَّتَيْنِ وَ لَتَعْلُنَّ عُلُوًّا كَبِيراً. الاسراء ۴ آیت

د فلسطین د یهودو لومړی ستر فساد هغه و چې د الله تعالی د استازو په نه منلو سربیره یې ځینې پیغمبران قتل کړل، الله تعالی د بابل حاکم بخت نصر په فلسطین حاکم کړ، بخت نصر په لسګونو زره یهود قتل کړ، نور یې له فلسطین څخه وشړل او ډیر یې دغلامانو په ډول له ځان سره بوتلل، بخت نصر د سلیمان علیه السلام له وخته پاته معبدهم ونړاوه، فلسطین تر ډیرو کلونو د یهودو له تصرف څخه وتلی و تر دې چې د فارس حاکم کوروش په بخت نصر-بری وموند او یهودانو ته یې اجازه ورکړه چې بیرته فلسطین ته راوګرځي.

د یهودو دوهمه لویه ناروا د عیسی علیه السلام د قتل هڅه وه، دوی په خپل باطل زعم هغه په دار کړ مګر په حقیقت کې الله تعالی هغه تړې نه اسمان ته پورته کړ، ددې جرم له امله الله تعالی په دوی د روم حاکمان مسلط کړل او دوی یې بیا بیا سخت وټکول، زرګونه یهود یې مړه اوګڼ نور یې له فلسطین څخه د نړۍ بیلابیلو برخو ته په تیښته مجبور کړل.

په څلورمه میلادي پیړۍ کې چې د روم امپراطور قسطنطین مسیحیت قبول کړ، نو فلسطین چې د عیسی علیه السلام د تولد او د دوی په زعم د تصلیب ځای و د نوموړي لپاره یې ځانګړی تقدس درلود، د رومي امپراطور همدا دلچسپي ددې لامل شوه چې بیت المقدس د یهودو له واک څخه ووت او د روم مسیحي واکمن یې متولیان شول، د روم د امپراطورۍ له تقسیم وروسته بیت المقدس د ختیځ روم د امپراطورۍ تر واک لاندې پاته شو. د اوومې میلادی پیړۍ په لومړیو کې هغه مهال چې اسلام په جزیرة العرب کې ظهور کړی و، د فارس او روم واکمن له یو بل سره په جګړو بوخت وو، دغه وخت بیت المقدس د لنډوخت لپاره فارسیانو ونیو، خو د شام رومي حاکم هرقل ورباندې حمله وکړه او بیرته یې ددې مهم ښار واک په لاس کې واخیست.

د اسلام په راتګ سره د نورو اسماني ادیانو په شان په محمدي دین اسلام کې هم بیت المقدس لومړنی قبله وګرځول شوه. کله چې د اسراء او معراج واقعه راغله او نبي علیه السلام لومړی بیت المقدس ته لاړ، هلته یې د انبیاء کرامو امامت وکړ او بیا اسمانونو ته پورته شو، په دې سره په اسلام کې د بیت المقدس اهمیت او فضیلت نور هم څرګند شو. الله تعالی د اسراء د واقعې په اړه نازل کړیو آیتونو کې د بیت المقدس متبرک مقام په مسجد الاقصی سره ونوماوه او بیا د لومړنی قبلې همدا نوم شو.

وروسته که څه هم د مسلمانانو قبله بیت الله شریفه وټاکل شو، خو رسول الله صلی الله علیه وسلم بیت المقدس یو له هغو دریو مساجدو څخه وباله چې مسلمانان یې باید زیارت وکړي. عن أبي هريرةرضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: "لا تشد الرحال إلا إلى ثلاثة مساجد: المسجد الحرام، ومسجد الرسول صلى الله عليه وسلم، ومسجد الأقصى. متفق عليه

هغه وخت چې اسلام د پراخیدو په حال کې و او اسلامي فتوحات روان و، په فلسطین او بیت المقدس کې که څه هم یهود موجود وو اما ددې ټولې ساحې واک د رومي مسیحیانو په لاس

کې و، يهودان د څلورمې ميلادي پيړۍ را وروسته نور د فلسطين او قدس شريف د واک په موضوع کې فريق نه بلل کيدل، حتی وروسته هم د صليبي جګړو په مهال د بيت المقدس د واک اصلي دعوه داران صليبي مسيحيان او مسلمانان ول او د يهودو لپاره چا دا حق په رسميت نه پيژاند چې په دې مهمه ساحه دې واک ولري. دا چې څرنګه وروسته ددې سيمې واک يهودو ته ورکړل شو او په فلسطين کې يهودي دولت تشکيل شو، دې موضوع ته به وروسته کتنه وکړو.

په نبوي دور کې له رومي مسيحيانو سره د مؤته غزا قدس ته نږدې د اردن سيند په ختيځ غاړه وشوه، وروسته رسول الله صلی الله عليه وسلم ددې سيمې د فتحې لپاره د اسامه بن زيد په مشرۍ لښکر تيار کړ، د ابوبکرصديق رضی الله عنه په دور کې د ارتداد فتنې د شام او بيت المقدس فتحه ځنډوله، تر دې چې د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په دور کې د ابوعبيده بن الجراح په مشرۍ اسلامي لښکر قدس ښار چې هغه مهال يروشيلم او ايلياء بلل کيده محاصره کړ. له څه وخت محاصرې وروسته د ښار مسيحي مشر- پادري صفرونيوس په دې شرط تسليمي ته غاړه کيښوده چې د مسلمانانو خليفه حضرت عمر رضی الله عنه به قدس ته راځي او دی به په خپل لاس د ښار واک ورسپاري. په ۱۵ هجري کال کې چې ٦٣٦ ميلادي سره سمون خوري حضرت عمر رضی الله عنه پرته له جنګ څخه د قدس ښار ته ننوت، د اسلامي خلافت برخه يې کړاو په بيت المقدس يې ونوماوه.

قدس له هغه وروسته د راشده خلافت دغه راز اموي او عباسي دولتونو په مهال د مسلمانانو تر واک لاندې و. په اموي دوران کې عبدالمالک بن مروان قبة الصخره ودانه کړه دغه راز يې د مسجد اقصی له سره تأسيس کړ چې د نوموړي زوی وليد بن عبدالمالک دغه ودانۍ پسې تکميل کړې. د امويانو له سقوط وروسته چې واحد اسلامي دولت ټوټه ټوټه شو، قدس بيا د عباسيانو، فاطيميونو او قرامطه وو تر منځ لاس په لاس شو. تر دې چې په ۱۰۷۱ ميلادي کال کې د سلجوقيانو تر واک لاندې راغی.

دغه مهال چې اسلامي واکمنۍ له يو بل سره په خپلمنځي جګړو اخته وې اروپايي مسيحيانو فرصت غنيمت وباله او د صليبي جګړو په اغاز سره يې د مديترانې له اړخه په اسلامي قلمرو بريدونه پيل کړل، په ۱۰۹۹ ميلادي کال کې صليبي مسيحيانو د شام د نورو برخو په شان بيت المقدس هم ونيو او دلته يې له ۷۰ زره زيات مسلمانان په قتل ورسول. د صليبي جګړو په وړاندې اسلامي جهاد پيل شو ، د بيت المقدس د آزادۍ لپاره ډيرې هڅې وشوې تر دې چې په ۱۱۸۷ ميلادي کال کې د حطين په جنګ کې له بريا وروسته صلاح الدين ايوبي وتوانيد چې په بيت المقدس کې هم صليبيان مات کړي او دغه متبرک مقامات يو ځل بيا تر واک لاندې راولي. صلاح الدين ايوبي په قبة الصخره لګول شوی صليب مات او رانسکور کړ او له ۸۸ کاله بيلتون وروسته يې قدس شريف يو ځل بيا له اسلامي جغرافيې سره پيوند کړ.

د سلطان صلاح الدين ايوبي له وفات وروسته په ۱۲۲۹ ميلادي کال کې بيت المقدس د لنډې مودې لپاره يو ځل بيا صليبيانو ونيو خو د ايوبي واکمنو لخوا بيرته ورڅخه ازاد شو. کله چې د ختيځ لخوا په اسلامي نړۍ چنګيزي فتنه راپورته شوه، د ماوراء النهر، خراسان، فارس، عراق او شام د ډيرو برخو له نيولو وروسته تاتاريانو د فلسطين د نيولو اراده هم وکړه، خو په ۱۲۵۹ ميلادي کال کې د مصر- مملوکي حاکم سلطان قطز د بيت المقدس ختيځ ته د عين جالوت په ساحه کې تاتاريانو ته پريکنده شکست ورکړ چې همدا شکست د تاتاري يرغل د شکست پيلامه هم ثابت شو.

له دې وروسته د شپاړسمې ميلادي پيړۍ تر وروستيو بيت المقدس د مملوکي سلطنيت تر واک لاندې و، تر دې چې په ۱٦۱٦ ميلادي کال کې د عثماني سلطنيت مشر- سلطان سليم الاول دا سيمه په خپله واکمنۍ کې

شامله کړه. په په ۱۸۳۱ – ۱۸۴۰ م کلونوکې د مصر حاکم محمد علي فلسطين له مصر سره ملحق کړی خو عثمانيانو بيرته تري ونيو، له دې لنډې مودې پرته د ۱۷ – ۱۸ او ۱۹ ميلادي پيړيو په ټولو کلونو کې بيت المقدس د عثماني دولت تر واک لاندې و تر دې چې په ۱۹۱۷ ميلادي کال کې د لومړي نړيوال جنگ په مهال د انگريزانو لخوا اشغال شو.

دا چې فلسطين او په خاص ډول بيت المقدس چې عثماني شاهانو د قدس الشريف لقب ورکړی و څرنگه چې په وروستي خل د مسلمانانو له لاس ووت او بيا څرنگه دلته يو اسرائيلي دولت تشکيل شو يو اوږد مبحث دی. خو سرټکي يې دا دي چې يهودو له پيړيو پيړيو دا انتظار درلود چې دوی به د نړۍ له گوټ گوټ څخه بيرته خپل وطن کنعان(فلسطين) ته راگرځي. د نولسمې پيړۍ په وروستۍ نيمايي کې چې د يهودو صهيوني حرکت په زور کې و، يهودي مفکر هرتزل په ۱۸۹۵ ميلادي کې يو کتاب وليکه چې نوم يې و(يهودي دولت) نوموړي په دې کتاب کې د يهودو لپاره په ديني نظريه د ودان شوي هيواد تيوري تشريح کړه او د داسې يوه دولت د جوړيدو لپاره يې د فلسطين، ارجنټاين او يا هم په افريقا کې د يوگنډا کومه برخه د احتمالي سيمې په حيث وړانديز کړه.

په ۱۸۹۷ کال کې د همدې نظريې په اساس د سوئيس په بال ښار کې د يهودو نړيوال کانفرانس جوړ شو او د يهودي دولت په عملي لارو چارو يې غور او پريکړې وکړې. په داسې حال کې چې د يهودو هڅې روانې وې په ۱۹۱۴ ميلادي کال کې لومړۍ نړيواله جگړه ونښته چې يوې خواته د انگليس او فرانس په مشرۍ ډيری اروپايي هيوادونه او بل اړخ ته المان او عثماني دولت وو. د جنگ په اوږدو کې دامريکا متحده ايالات د نندارچي په رول کې و او په دواړو اړخونو يې وسلې خرڅولې. په دې وخت کې انگلستان هڅه کوله چې امريکا هم په خپله ننگه په جگړه کې داخله کړي.انگريزان چې د فلسطين په گاونډ کې مصر يې تر واک لاندې او عرب يې د عثماني ترکانو خلاف پاڅولي وو د فلسطين راتلونکي احتمالي واکمن بلل کيدل. انگريزانو دغه مهال له يهودو سره يوه پټه معامله وکړه، هغه دا چې يهودي صهيوني تحريک به په امريکا کې د خپلې يهودي لابۍ د فشار په توسط امريکايي حکومت د متحدينو په گټه په جگړه کې گډيدو ته هڅوي او په مقابل کې به انگليستان په فلسطين کې يهودو ته د دولت جوړولو لپاره ځمکه ورکوي.

د همدې معاهدې په اساس په ۱۹۱۷ ميلادي کال کې چې کله انگريزانو د سويز په جگړه کې عثمانيانو ته شکست ورکړ او بيت المقدس يې اشغال کړ څو مياشتې وروسته د همدې کال د نومبر په دوهمه د انگليس د بهرنيو چارو وزير آرتور بالفور د يهودي دولت د تشکيل اعلاميه صادره کړه. د بالفور اعلاميه د يهودي دولت د تشکيل لومړۍ خښته شوه، له دې اعلاميې وروسته دنړۍ له گوټ گوټ څخه فلسطين ته د يهودانو راتگ پيل شو، په جرمني کې د يهودو په وړاندې د هټلر سخت چلند دغه بهير نور هم توند کړ، انگليس غوښتل د بالفور د اعلاميې په تعقيب يهودي دولت رسما رامنځته کړي، خو د دوهم نړيوال جنگ پيښيدو دغه کار تر ۱۹۴۸ ميلادي کال پورې وځنډاوه.

د لومړۍ او دوهمې نړيوالې جگړې تر منځ کلونو کې فلسطين ته د يهودو راتگ په قوت سره روان و، دغه راز فلسطين ميشتو يهودو د انگليس تر څار او ملاتړ لاندې له عربو مسلمانانو څخه پرلپسې ځمکې اخيستې او قبضه کولې، انگريزان چې فلسطين يې تر استعمار لاندې و يهودو ته يې ډول ډول امتيازات مهيا کول خو بالمقابل عرب يې تر سختو محدوديتونو لاندې ساتلي وو. په دې ډول د انگريز په هڅو د دوو لسيزو په ترڅ کې په فلسطين کې د يهودو شمير له زرگونو څخه لکونو ته ورسيد او په فلسطين کې يوځل بيا يوه د پام وړ يهودي ټولنه رامنځته شوه.

د دوهم نړيوال جنگ له پای ته رسيدو وروسته چې انگريزانو د خپلو

مستعمرو نه د وتلو اراده درلوده همدا وخت یي د یهودي دولت د رسما جوړولو لپاره مناسب وباله،مخکې لـه دې چـې انگریـزان لـه فلسـطین څخـه ووځـي، انگلیستان او امریکا د ملل متحد له لارې د ۱۹۴۷ کال د نومبر په میاشت کې په رسمي توگه د فلسطین تقسیم او د یهودي دولـت جوړیـدل اعـلان کـړل. د ملگرو ملتونو د پریکړې له مخې د فلسطین خاوره په دریو برخـو ویشـل شـوې وه، په دې ډول چې د قدس ښار او مقدسـو مقامـاتو واک بـه د ملـل متحـد پـه مشرۍ د یوې بې طرفه ادارې سره وي. د فلسطین د نورې خمکې ۴۳ فیصده به عربو او ۵۷ فیصده به یهودانو ته ورکول کیږي تر څو پـه کـې لـومړنی یهـودي دولت جوړ کړي.

خو یهودان چې له دې وړاندې یې پوځـي ډلې جوړې کړې وې او د سـترو قدرتونو ملاتړ هم ورسره و، هڅه یې کوله چې له ورکړل شوي سهم زیاته برخه د خان کړي. تر دې چې کله د ملل متحد خانگړی استازی کونت برنادوت د ملل متحد د پریکړې د تطبیق او د تقسیم د عملیي د څار لپاره فلسطین ته راغـی، د یهودانو لخوا ووژل شو، یهودانو په لومړي قدم کې د نقب صحرا چې د پریکړه لیک له مخې د عربو برخه وه، په جبر سره ونیوله اووروسته یې د نورو سیمو د لاندې کولو او د مسلمانانو د شړلو لپاره زورزیاتی پیل کړ.

یهودانو د څو کلونوپه ترڅ کـې د قـدس ښـار د ډیـرو برخـو پـه شـمول د فلسطین اکثره سیمې قبضه کـړې او مسـلمانان یـې لویـدیځ اړخ تـه دغـزې ترانگـې او ختـیځ خواتـه د ضـفه الغربیـه(د اردن سـیند لویـدیځې غـاړې) محدودې ساحې ته وشړل. د قدس ښار چې لویدیځه برخه یې له پیله د یهـودو او شرقي خوا یې دمسلمانانو په لاس کې وه، وروسته یې شرقي خوا چې مقدس مقامات په کې دي هم یهودو ونیوله او د مسلمانانو د تدریجي شړلو عملیه یې پیل کړه.

د ۱۹٦۷ کال په جنگ کـې چـې اسرائیلـو د کفـري نـړۍ پـه ملاتـړ پـه لویدیځه غاړه سربیره د مصر سینا ټاپوزمه او د سوریې د جـولان لـوړې قبضـه کړې،عرب دولتونه او فلسطیني مقاومت یې لـه سـخت حالـت سره مخـامخ کړل. وروسته مصر او اردن د اسرائیلو دولـت پـه رسـمیت وپیژانـد چـې دا د اسرائیلو په وړاندې د عربو لومړی تنزل و. همدې چلنـد اسرائیلـو تـه جـرأت ورکړ او په ۱۹۸۰ میلادي کال کې د اسرائیلو پارلمان بیت المقدس رسـما خپلـه پلازمینه وبلله،د خلیج د جگړې په مهال چې دفلسطیني مقاومت مشر یـاسر عرفات صدام حسین ته د کویټ د نیولو مبارکي ورکړه، فلسطینیان نور هم له عربي ملاتړ څخه محروم او اسرائیلو ته یوازې شول.

اسرائیلو که څه هم له تیرو څلورو لسـیزو راهیسـې بیـت المقـدس خپلـه پلازمینـه بللـه، مگـر نـورې نـړۍ د اسرائیلو دغه سیاست په رسـمیت نـه پیژاند، نو ځکـه نـړدې ټولـو هیوادونـو خپل سفارتونه په تل آبیب کې ساتل او پـه بیـت المقـدس کـې یـې یـوازې کونسلگرۍ درلودې. اوس چـې د امریکـا ولسمشر ډونالډ ټرامپ بیـت المقـدس د اسرائیلو رسمي پلازمینه وبللـه او اراده لري چې دامریکا سفارت ورته را انتقال کړي، دا یوه داسې هڅه ده چې شاید نور له امریکـا سره تـړلي هیوادونـه هـم دې چارې ته تشویق کړي.

په امریکـا کـې یهـودي لابـی ژور نفوذ لري. لکـه څنگـه چـې پـه لـومړۍ نړیواله جگړه کې د امریکا یهودي لابـی د دې هیواد واکمن د انگلیس په گټه په جگـړه کـې داخلیـدو تـه وادار کـړي وو اوس هم ویل کیږي چې د تیرو ټاکنو په مهـال یهـودي لابـی چـې د امریکـا پـه اقتصاد او رسنیو قبضه لـري لـه ډونالـډ ټرامـپ سره یـې پـه دې شرط پراخـې مرسـتې کـړې وې چـې نومـوړی بـه د امریکا سفارت بیت المقدس ته نقلوي.د همدې معاملې په پایله کې اوس داسـې ښـکاري چـې د اسـلامي امـت لـومړنی کعبه یو ځل بیـا لـه اسـلامی جغرافیـې بیلیږي او مسلمانان به یې بیا د یوه بل صلاح الدین د ظهور تر وخت پـه فـراق کې خوریږي.

و الی الله المشتکی و به نستعین

... په تیرپسې

فقه د حدیث له نظره
او په ظاهریه مذهب یوه کتنه

محدث العصر مولانا محمد یوسف بنوري رحمة الله علیه
ژ: بشیر

محدث العصر مولانا محمد یوسف بنوري رحمة الله علیه دهند وستان ویشلو(یعني دپاکستان او هند وستان له جوړیدو مخکي) ډابیل په جامعه اسلامیه (ګجرات هند) کې دتدریس پر مهال لاندې ژوره علمي او تحقیقي مقاله لیکلې وه ، بیا د دارلعلوم دیوبند په ترجمانه میاشتنۍ مجله [دار العلوم] کې هم خپره شوې وه، د مقالي علمي او تحقیقي اهمیت ته په کتو سره دشهامت له لارې دعوامو او خواصو ورونو دپوهاوي په نیت یې پښتو ژباړه وړاندې کوو.

په قرآن وحدیث کې داستنباط ، اجتهاد او تفقه لپاره پریمانه زخیره شتون لري ، دلته دکتاب وسنت څخه دټولو دلایلو وړاندې کولو اراده نلرم، یواځې دحضرت معاذ رضي الله عنه حدیث وړاندې کوم، کوم چې په دې موضوع کې خورا صاف او صریح دلیل دی ، ابن حزم پخپل [کتاب الاحکام او کتاب النبذ] کې ددې حدیث د تضعیف پوره کوښښ کړی او په [کتاب النبذ] کې ښکاره ویلي چې دا حدیث باطل دی؛؛ او ځیني خلک دهغه له اعتراضاتو نه په تاثراخستلو دهغه سره هم فکره شوي ،موږ په دې فرصت کې دیاد حدیث دتوثیق ا و تصحیح هغه وجوه راوړو کوم چې مونږ دامت داکابرو علماوو او سلفود تحقیقاتو نه فهم او اخذ کولی شو چون اسلامي فقه ددین ډېره مهمه موضوع ده او د زیاتې توجه وړ هم ده و الله الموفق

دحضرت معاذ رضي الله عنه
دحدیث محققانه تحقیق

مسند دارمی ، سنن ابي داود او جامع ترمذی کې دحضرت معاذ رضي الله عنه یاد روایت په مختلفو لفظونو کې روایت شوی دسنن ابی داود روایت الفاظ ملاحظه کړئ:

حدثنا حفص بن عمر عن شعبة عن أبی عون عن الحارث بن عمرو ابن أخی المغیرة بن شعبة عن أناس من أهل حمص من اصحاب معاذ بن جبل أن رسول الله صلى الله عليه وسلم لماأراد أن یبعث معاذ اِلی الیمن قال: کیف تقضی اِذا عرض لک قضاء ؟ قال اقضی بکتاب الله، قال : فاِن لم تجد فی کتاب الله ؟ قال: فبسنة رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: فاِن لم تجد فی سنة رسول الله صلى الله عليه وسلم ولافی کتاب الله ؟ قال: أجتهدُ برأیی ولا آلو، فضرب رسول الله صلى الله عليه وسلم صدره ،

فقال: الحمد الله الذي وفق رسولَ رسول ِ الله صَلَّىٰٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ لما يرضى رسول الله

دحـديث شـريف حاصـل دادی: چـې کلـه رسـول اللـه صَلَّىٰٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ معاذ بن جبل رَضِيَٱللَّهُعَنْهُ دیمـن قاضـي او حـاکم پـه حیـث دهغـه دلیږلـو اراده وکـړه، هغـه تـه ویې و فرمایل:ته به فیصلې څنګه کوي؟ هغه عرض وکړ:په کتاب الله به فیصلې کوم ،که کتاب الله کې او نه مندل شي؟ بیا به درسول الله صَلَّىٰٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ په سنت فیصلې کوم او که په دې دواړو کې او نه مندل شي بیا بـه (دکتاب وسنت په رڼا کې)پخپل اجتهاد او قیاس فیصلې کـوم ،د دې خـواب پـه اوریـدو رسـول اللـه صَلَّىٰٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ زیـات خوشـال شـو او دهغـه پـر سینه یې لاس تیر کړ وي فرمایل: دخدای شکر دی چې درسول الله صَلَّىٰٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ اسـتازي تـه یـې د داسې خبرې توفیق ورکړ چې په سبب یـې دخدای جَلَّجَلَالُهُ رسـول خوشال شو.

پورتـه حـدیث پـه اسـتدلال بالقیـاس کـې صـاف او صـریح حجت دی او په ټولو اسلامي دورو کې دصحابه وو، تابعینو او دامت فقهاوودعمل او نظام دستور و، که په کتاب وسنت کې به کوم صـریح حکـم او نـه منـدل شـو ،دیـادو دواړو سـر چینـو(کتـاب وسنت) نه چې کوم دوه نهرونه وتلي، پـه هغـو کـې لـه مختلفـو جهـاتو نـه دغـور او سـوچ کولـو وروسته دهغو دواړو په رڼا کې کوم څه فهم ته راغلل دهغسو سره سم یې فیصلې کولي، تردې چې کله د نظام په نوم معتزلي راغی هغه دقیاس ابطال وکړ ، یوشمیر نورو مبتدعینو وروسته په هغه پسې اقتداء وکړه دکوم تفصیل چې وړاندې تیر شو.

په پورتني حدیث نیوکې:

دقیـاس منکرینـو پـه پـورتني حدیث لاندې نیوکې کړې:

۱ .... ابوعون محمد بن عبد الله الثقفي [مړ۱۱۶هق) د حدیث له روای (حارث بن عمرو) نه په روایت کولو کې متفرد دی.

۲ ..... حارث بن عمرو ددې حـدیث راوي مجهـول الحـال دی، امام بخاري او نورو محدثین وایي: له دې روایت پرته یې بل روایت نه مندل کېږي.

۳.....لـه حضـرت معـاذ رَضِيَٱللَّهُعَنْهُ نـه نقـل کونکي،دهغـه اصـحاب ، نـا معلـوم دي، چـې هغوی څوک دي؟ دهغوی نومونه ذکر ندي.

دپورته نیو کو ځوابونه:

۱ .... ابوعون ثقفي دصحیح بخـاري او و مسـلم دواړو راوي دی ، امام اعمش ، امام ابـو حنیفـه ، سـفیان ثـوري ، مسعربن کـدام ، شـعبه بـن الحجـاج ، ابـو اسـحاق شیباني رَحِمَهُمُٱللَّهُ او نـورو... دامـت اکابرو او دحدیث امامانو دهغه نه روایت کړی دی، غرض دادی چې ابوعون د رجالُ د ټولو ایمه وو په اتفاق ثقه دی، دهیڅ راوي تفرد؛ پـه دې شـرط چـې هغـه ثقـه وي، دحدیث په صحت کې خلل نه راولي، پـه بخـاري او مسلم دواړو کې په زیات شمیر داسې روایتونه شته، چې دهغو روایان په روایت کې متفرد دي او بل متابع نلري، خو بیا هم درجالُ علماوو په نـزد داستدلال وړ او صحیح دی، البته ضـروري ده چـې د متفـر د راوي څخـه بـه بـل ثقـه مخـالف راوي شتون ونلري او دلته ثقه مخا لـف راوي هم نشته ، اوثق خو درکنار ، دا تفرد دامت دمحدثینو داصولو سره برابر دضعف او یادحدیث دسقوط دلیل نشي کېدای ، بیا دا حدیث چې دابو عـون څخه کومو

نورو محدثینو روایت کړی د هغوی نومونه په لاندې ډول دي:

ابو اسحاق او شعبه بن الحجاج:

د شعبه بن الحجاج په اړه په محدثینو کې اتفاق دی چې هغه په رجالُ کې زیات متشدد دی او کوم حدیث چې هغه روایت کړي ، دا د هغه حدیث دتوثیق لپاره کافي ده نو اوس یواځې دشعبه لخوایې روایت کیدل ددې کفیل دی چې د حدیث ټول رواة داحتجاج وړ دي، کنه شعبه به دهغه څخه نه روایت کاوه، بیا دشعبه څخه چې کومو محدثینو روایت کړی دهغوی نومونه دادي:

یحیی بن سعید القطانی، عبد الله بن مبارک، ابوداود طیا لیسي ، عثمان بن عمر العبدي على بن الجعد، محمد بن جعفر، عبد الرحمان بن مهدي اونور ،....او دابو اسحاق شیباني څخه ابو معاویه بن خازم روایت کړی اوله هغه نه سعیدبن منصور او ابوبکر بن شیبه .

۲..... حارث بن عمروبن ثقفي له کباروتابعینو څخه دی ، دنوموړي په باره کې د هیڅ یومحدث له لوري //جرح مفسر„ شتون نلري ، صرف دومره وایي: چې معروف ندی او سیوا دابوعون ثقفي نه بل کوم راوي نشته.

دهر تابعی مجهول الحال او مستور کیدل دابن حبان او ځینو محدثینو لپاره کافي دي ځکه چې کله هغه له کبارو تابعینو څخه دی او په// قرون مشهود لها بالخیر„ کې دی بله کومه مفسره جرح چې دهغه په حق کې مؤثره وې؛ نده نقل، داد هغه دعدالت او توثیق لپاره کافي او شافي ده، هم دا راز حضرت مغیره بن شعبه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پشان جلیل القدر صحابي د وراره په توګه یې پیژند ګلوي کفایت کوي، که یو راوي مجهول الحال وي او له کبارو تابعینو څخه هم نه وي، خو دوه ثقاتو له هغه نه روایت کړی وي دادهغه توثیق و تعدیل او ګڼل کېږي ، بلکې حافظ ابن قیم او نورو محدثینو خو تردې پورې لیکلي: //ورواية العدل من غیر تعدیل له مالم یعلم فيه جرح„ دیو ثقه روایت ددې دلیل دی چې هغه راوي ثقه دی، اوس لاندې نتایج ملاحظه وکړئ:

الف: حارث بن عمرو، دمغیره بن شعبه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورا ره دی

ب: د کبارو تابعینو څخه دی

ج: دابوعون ثقفي پشان منلي او جلیل القدر محدث ورنه روایت کړی

د: له ابو عون څخه شعبه او ابن المبارک پشان محدثینو روایت کړی

ه: ابن حبان حارث بن عمرو په کتاب الثقات کې ذکر کړی دی او ابن حبان په رجالُ کې په // متشدد و متعنّت„ مشهور دی ځکه چې حافظ شمس الدین ذهبی او نورو تصریح کړې

پورته بحث ته په کتو //حارث بن عمرو„ په توثیق و تعدیل کې دهیڅ منصف لپاره دکلام مجال نشته

۳... دمعاذبن جبل داصحابو نومونه، نه معلومیدل دحدیث دضعف دلیل نشي کیدای قاضي ابوبکر بن العربي دترمذی په شرح کې فرمایي:

ولا أحد أصحاب معاذ مجهولاً ویجوز أن یکون فی الخیر آ سقاط الأسماء عن جماعة ولایدخله ذلک فی حیز الجهالة وإنما یدخل فی المجهولات إذا کان واحدا، فیقال: حدثنی رجل أو حدثنی انسان ولایکون الرجل للرجل صاحبا حتی یکون له به

اختصــاص، فكيــف؟ وقــد زيــد تعريفاً بهـم، أن أضيفوا إلـى بلـد، وقــدخرج البخــارى الــذى شــرط الصحة فى حديث عروة البارقى ولم يكن ذلك الحديث فى جملة المجهــولات وقــال مالــك فــى القسامة :// أخبرنى رجال من كبراء قو مه„ وفى الصحيح عن الزهرى حدثنى رجال عن أبى هريرة : //من صلى جنازة فله قيراط„ ـ

دحضــرت معــاذرَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ پــه ملګــرو او شــاګردانو کــې څــوک مجهول نشته، اوکیدای شي دکوم حدیث په اسناد کې که څو نومونه په یوځای وي؛ حذف کړای شي او سره ددینه هغه اسناد مجهول، مجهول اسناد نه ګرځي، مجهول هغه وخت ګرځي ، چې چیرې دیو ، راوي نوم وي اوهغه حذف شي لکه //حدثنی رجل„ او نور ... او یو شاګردته // صاحب„ هغه مهال ویل کیږي چې کله دخپل شیخ سره دهغه خصوصیت وي، بیا ددینه ها خوا کوم ښار ته دهغه نســبت کــول نــور تعریــف دی؛ دصحیح بخاري شرط صحت دی هغه د//عروه بارقي„ حدیث کې فرمــایي: ســمعت الحــی الــخ „ یعنې// دیوې قبیلې خلکوله عروه نه اوریدلي „ امام مالک// رَحِمَهُ اللَّهُ

په موطــا کــې فرمــایي: // اخبرنــی رجال من کبراء قومه„ هم داشان صحیح بخاري کې شته ://حدثنی رجــال عــن أبــی هریــرة رض„څــو ســړیو ماتــه دابــوهریرة نــه روایــت کړی.

دحدیثو حافظ ابوبکر خطیب بغــدادي دتــاریخ بغــداد مصــنف „کتـــاب الفقیـــه والمتفقـــه// (ناچاپ) کې فرمایلي:

// وقول الحارث بن عمرو (عن أناس من اصحاب معـاذرض) یـدل علـى شـهرة الحـديث وكثـرة روايــة وقــد عــرف فضــل معــاذ رض،وزهــدهُ ،والظــاهر مــن حــال أصحابه الــدين، والتفقـه والزهـد والصلاح، وقد قيل: اِن عِبادة بن نسی رواه عن عبد الرحمان بن غنم عــن معــاذ، وهــذا إسنادمتصــل ورجالــهُ معروفـون بالثقـة، علـى أن أهـل العلم قـدتقبلوهُ واحتجـوا بـه فوقفنا بذلك على صحته عندهم „//

دحـارث بـن عمـرو داویـل چې دمعاذ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ له څو ملګرو څخه روایت کوي، دا دحدیث په شــهرت دلالــت کــوي او د اکثــرو روایتــو نــو نــه د حضــرت معــاذ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ زهد ښکاره دی او دمعاذ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ملګرو حالت هم دتدین،

ثقاهت، زهد او و صلاح نه ډک وو، هم دديي حديث بل اسناد هم شته،کوم چې متصل صحیح دی او په دې عــلاوه دامــت علمــاوو قبول کړی ،چې داپخپله ددې دلیل دی چې دهغوی په نزد داحدیث صحیح دی.

دامــام ابــوبکر رازي رَحِمَهُ اللَّهُ په // کتاب الفصول فی الأصول„ (مخطـوط) کـې فرمـایي: //إنمـارواهُ عـن قَومِهِ مجهـولين مـن اصـحاب معاذ، قيل له: لايضرهُ ذلک لِأن الاِ ضافة ذلک اِلی رجال من أصحاب معـاذ رض،توجـب تاكيـدهُ، لأنهُـم لاينسبون اِلـيه، بـأنهُم مـن اصـحابِهِ اِلا وهـم ثِقـات مقبولوالرواية عنه، ومـن جهـة أخـرى اِن هـذا الخَبـَرَ قدتلقاهُ الناس بالقبول، واستفاض، واشتهر عندهم من غير نكير، من أحـد مـنهم علـى رواتِـه،ولا ردّلَـهُ ، أيضــاً: فَــاِ نّ أكثــرَ أحوالــهِ أن يصيرمرســلاً، والمرســل عِنــدنا مقبول ـ

// دمعــاذ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دملګــرو مجهولیــت دحــدیث لپــاره مضــر نــدی، ځکــه حضــــرت معــاذ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ تــه منسـوبول یــې هــم د ثقاهــت لپــاره کــافي دی، دهغــه اصحاب هغه څو ک کیدای شي، چــې هغــوی ثقــات او مقبــول

الروایت وي، دوهمه خبره داده چې امت دا راویت داسې قبول کړی چې د استفاضې اوشهرت درجې ته رسیدلی او په سلفو کې له هیچا نه یې رد او انکار ندی منقول ، هم داشان زیات نه زیات دومره کیدای شي چې مرسل روایت اوګرځول شي، او مرسل زموږ په نزد حجت دی.

دي حقایقو ته کتنه دحدیثو امام قاضي ابوبکر بن العربی دترمذی په شرح کې فرمایي:

// الذی أدین به القول بصحتهِ فإنهُ حدیث مشهور، یرویه شعبة بن الحجاج رواهُ عنه جماعة من الفقهاء والأئمة„

زما عقیده خو داده چې دا حدیث صحیح دی، زکه داحدیث مشهور دی، دشعبه په څېرمحدث رووایت کړی او دهغه نه فقهاوو او ائیمه وو روایت کړی-

ابوبکررازی، ابوبکر بن خطیب بغدادي او ابوبکر بن العربي تولو اکابرو دحدیث دتوثیق لویه وجه دابیان کړي چې دامت فقهاوو او ددین ائمه وو تسلیم کړی حافظ ابو عمربن عبد البر او نورو محدثینو تصریح کړې چې دحدیث دصحت لپاره دومره کافي ده چې دامت علماوو تسلیم کړی وي که څه هم په اسناد کې یې کلا م وي، څنګه چې په // تدریب الراوی„ او نورو کې راغلي...

دابن ابی خثیمه په تاریخ (مخطوط) او // جامع بیان العلم „ کې دعلی بن الجعد نه داسې روایت شوی :

// عن شعبة عن أبی عون قال: سمعتُ الحارث بن عمرو، ابن أخی المغیرة بن شعبة یحدث عن اصحاب رسول الله ﷺ عن معاذ بن جبل الخ -„

واخلئ! دمعاذ رضي الله عنه ملګرو مجهولیت په اړه چې کومه شبه وه هغه هم له منځه لاړه؛او دي روایت اوښوده چې داصحاب معاذ رضي الله عنهم نه مراد درسول الله ﷺ اصحاب دي؛؛ هغوی دا حدیث دمعاذ بن جبل رضي الله عنه څخه نقل کړی ؛؛ او صحابه رضي الله عنهم داهل سنت په نزد ټول عدول دي؛ دهغوی نومونه، نه معلومیدل دهیچا په نزد هم دحدیث دضعف باعث نه ګرځي ،ددي ورروسته دیاد حدیث په صحت، حجت او قبولیت کې هیڅ شبه پاتې نشوه خلاصه داشوه که یاد حدیث یو اسناد هم ولري بیا هم دصحت لپاره کافي دی:

الف..... د محمدي امت، ټولو فقهاوو د چون چرا پرته یاد حدیث قبول کړی

ب..... په اسناد کې هیڅ مجروح راوي شتون نلري ، حارث بن عمرو،اګرکه مستور الحال دی خو دکبارو تابعینو څخه دی ابو عون ثقفي په څیر محدث دهغه نه روایتونه نقل کړي دا دهغه دتوثیق دلیل دی.

ج..... دشعبه بن الحجاج پشان متشد د محدث یې راوي دی؛ که په حدیث کې ضعف وای! شعبه به هیڅکله روایت کړی نه و؛ او بیا دشعبه نه جلیل القدر محدثینو لکه عبد الله بن مبارک ، عبد الرحمان بن مهدي ، یحیی بن سعید القطان او نورو به نه وو روایت کړی! دعلم پورتنواکابرو علماوو لخوا یې روایت کول او وربانديې جرح او قدح نه کول دحدیث دصحت دلیل دی

د..... امام ابو داود ددې حدیث نقل کولو وروسته په اړه کوم کلام ندی کړی او سکوت یې کړی ، دټولو محدثینو په نزد مسلم دی دامام ابوداود لخوا په اړه یې کلام نه کول او روایت کول ددې

دلیـل دی چـې دهغــه پــه نــزد داحتجاج وړ او صالح للعمل دی

ه..... داصــــحاب معـــــاذ نامعلومیت دحدیث دضعف لامـل نـدی ځکـه چـې دمعـاذ اصـحابو (ملګـرو) زهـد، تقـوا مسـلمه او ټولــو تــه ښـکاره ده او هغــوی مجهولین نـدي بلکې ډیر ځلي د نومونـو زیـاتوالي پـه وجـه نومونـه حــذف شـي، چـې حـدیث تـه دضعف په ځای نور قوت ورکوي

و..... اوکـه دمعـاذ دملګـرو (اصــحابو) نــه درســول اللــه ﷺ صــحابه مــراد وي؛ څنګه چې د ″جامع بیان العلم″ په روایت کې راغلي، نوبیـا پـه اتفـاق داهـل سـنت صـحابه عـدول و ثقات دي په دې سره حدیث کې نورهم قوت راغی.

ز..... ددې اسناد څخه عـلاوه ددې حدیث نـور اسناد هـم شـتون لـري هغـه دشـک پرتـه صـحیح او ومتصـل دي څنګـه چـې دخطیـب بغـدادي پــه ″کتــاب الفقیــه والمتفقیه″ کې تصریح شوې، ددې وجوهُ په بنا اوس موږ ″علی رؤس الاشهاد″ اعلان کوو چې ابن حـزم یـا بـل هرڅوک چې ددې حـدیث تضـعیف یـا اسـقاط پسې نښـتي، هغوی د علم او تحقیق په لمـن بـد رنګــه داغ پــورې کــوي؛ مــوږ داختصـــار پـــه غـــرض دعلـــم دخاونـدانو لپـاره پـه ځینـو اشـاراتو اکتفا وکړه او د ټول تفصیل راوړو لپـاره مسـتقل تصـنیف تـه اړتیـا ده خو بیا هـم تمـه لـرو چې دعلمـاوو لپاره به داشارې هم کافي او ګرځي

تنبیــه.... ابـن حـزم او دهغـه پیـروان د″ رایـې اوقیـاس″ پـه ذم بیانولو کې د ځیني روایاتو او اثارو په راوړو سره دقیاس بـاطلولو لپـاره لارې جوړول غواړي ″ جامع بیان العلم″ اونورو کې یې یوره زخیـره شته ،په دې سربیره دا چې دسلفو پــه زمانــه کــې ځینــو علمــاوو ″ اصــحاب الــرئ″ او ″ اصــحاب الحـدیث″ پـه نومـو نـو دوه ډلـې جــوړې کــړې او پــه ″اصــحاب الرأیـه″ کـې امـام ابوحنیفـه رَحِمَهُ ٱللَّهُ ،دهغه ملګري او اتبـاع شمارلي او دامام مالک رحمه الله ملګري او اتبـاع یـې پـه ″اصـحاب الحـدیث″ کـې شمار کـړي ، دا موضـوع مسـتقلې مقالې لیکلو ته ضرورت لـري دلتـه یوائې څو اشارې عرض کوم:

د اسـتنباط، تفقـه او اجتهـاد داهمیت لپاره دعظـیم الشان قـرآن ″آیــات بینــات″ او نبــي کــریم ﷺ ارشادات ، دراشـدینو خلفاوو دوخت کارنـامې ، دفقهـاء صحابه وو قضایا او فتاواوې کافي شــواهد اوبینـات دي - پــه مکـه معظمه کې ابـن جـریج، عطـاء بـن ابي رباح او نور په مدینه منوره کې فقهـاء سـبعه، کوفـه کـې علقمـه و اسود، سعید بن جبیر، بیا ابـراهیم نخعـی بیـا حمـاد بـن سـلیمان پـه بصره کې حسن بصري، ابن سیرین اونـور پـه مصـر کـې یزیـد بـن ابـی حبیب ، بیا لیث بن سعد، شام کې مکحــول، بیــا اوزعــی، لــه اجــلا فقهـاوو څخـه وو ابوحنیفه،سـفیان ثوري ، ابن ابي لیلی، ربیعه الرأی ، مالـک، شـافعي، احمـدبن حنبـل، عبـد اللـه بـن مبارک، اسـحاق بـن راهویــه او نــور... ددیــن دیــادو امامانو او محمدي امت داساطینو دژونــد ټــول ســاعتونه ددې پــه اهمیـت بـراهین او دلایـل دي پـه هغـو ″ اثـارو″ کـې چې پکـې د″ رأیـې″ ذم راغلـی دهغـو نـه مـراد ″هـوا او نفسـاني خواهشـات دي″ او د″اصحاب الرأیه″ څخه ″اهـل اهواء″ مـراد دي، چاچې ددیـن پـه اصـولو کې خپلې ″رأیـې″ داخـل کـړې ، چې نتیجه یـې د معتزلـه، مرجئه، قدریه، جبریه، جهمیـه، او نورو په شکل کې دنیا لیدلې، دعبـد اللــه بــن مبــارک رحمه الله نــه چــا اوپوښـتل پـه حـدیث کـې راغلـي ″اصحاب الرأی أعداء السنة″ یعني

درأيـې څښـتنان دسـنت دښـمنان دي؛ ايا ددينه ابو حنيفه، او دهغه امثال مراد دي؟ عبد الله بن مبارک اوفرمايل:

سبحان الله! أبوحنيفه يجهد جهدهُ أ ن يكون عمله على السنة فلايفارقها فى شىء منه فكيف يكون من أعادى السنة؟ اِنما هم أهل الهواء والخصومات الذين يتركون الكتاب والسنة ويتبعون أهواء هم۔

سبحان الله ! ابوحنيفه خو نهايتي کوښښ کوي چې په سنت پوره عمل وکړي دذرې اومره هم ترې نه جلا نه کېږي، نو هغه څنګه دسنت له دښمنانوګرځوی؟ ، ددينه مراد هغه اهل هواء دي چې څوک په کتاب وسنت عمل نکوي او دهواء اتباع کوي

د//رأيـې„ معنى ده هغه حوادث او واقعات چې په کتاب الله او سنت کې نه وي بيان شوي په هغو کې دغور او سوچ نه وروسته دهغو قواعدو او احکامو مناسب مسايل ، احکام استخراجول، داسې رايه محموده رايه ده اوپکې د مذمت څه نشته، ددين هيڅ يوامام له دې رأيې څخه مستغني کيداى نه شي، چا چې ځانونه مستغني کړي په پورته مضمون کې دهغوی نمونې تيرې شوې امام محمد ابن الحسن وايي:

// لايستقيم الحديث اِلابالرأى ولا يستقيم الرأى اِلا بالحديث

حديث له رايې پرته درست ندی او رايه د حديث پرته سمه نه ده:

غرض داچې داحاديثو لپاره درايې اړتيا ده چې دهغو په معانيو او مقاصدو غور وکړای شي او صحيح نتايج واخستل شي او يواځي په رايه باندې عمل هم سهي ندی، څو چې دنبوي احاديثو څخه دهغې تاييد نه وي راغلی، په سلفو کې ابو حنيفه، او دهغه دملګرو نومونه چې په اصحاب الرايه کې شمارل کېږي، وجه يې داده چې دحديث و روايت فن دټولو مشترک فن و؛ په تفقه او درايت کې هغوی ممتازوو او دهغوی خاص فن و، ځکه په دې لقب يادیدل، نو دا دزيات منقبت څيز و، کوم ته چې ښاغلو دمذمت لقب ورکړ ګواکي درايې معنى هم هغه معنى وه کومې ته چې نن سبا په عرف کې رايه ويل کېږي او داصحاب الرايه معنى چې نن ورته ذی رايه ويل کيدل امام مالک رحمه الله فرمايي:

يو وار مې دامام ابوحنيفه رحمه الله سره وليدل او ورسره د څو مسايلو او څو علمي نکاتو په اړه مې خبرې اوشوې او بيا مو سره څو مجلسونه اوکړل //فما رأيت رجلا أفقه منه ولا أغوص منه فى معنى وحجة„

ما دهغه نه زيات افقه، په معانيو او دلايلو کې له هغه زيات ژور غوپه وهونکی ندی ليدلی د امام شافعي رحمه الله مقوله مشهوره ده :// من أراد أن يتبحر فى الفقه فهو عيال أبى حنيفة „څوک چې په فقه کې دتبحر اراده لري ،هغه ابوحنيفه ته محتاج دی امام ابو عبيد بن القاسم بن سلام نه منقول دي چې امام شافعي فرمايل: //من أراد الفقه فليلزم آبى حنيفه„ څو ک چې دفقهې يادولو اراده لري نو هغه دي دامام ابو حنيفه دشاګردانو صحبت غوره کړي

داسلامي فقهې تاريخ دجواهراتو نه ډکه دی، تفصيل مې غرض ندی، يواځې دومره عرض دی چې د// اصحاب الرايه„ او //اصحاب الحديث„ دتفريق مشهوره معنى غلطه او ناسمه ده حقيقت دا دی چې ورته اشاره مو وکړه والله الموفق

طالبان

او د امریکایي اشغال په مقابل کې یې مقاومتي تدرُج

احمد مختار

په افغانستان باندې د امریکایانو یرغل د افغانستان د تاریخ یو تر ټولو حساس پړاو دی.

په دې تاریخي پړاو کې په داسې حال کې چې له نظامي ، اقتصادي او تخنیکي پلوه یوه تر ټولو مقتدر ځواک پر افغانستان یرغل وکړ په مقابل کې یې داسې یو تش لاسی او جګړو ځپلی ملت ولاړ و چې تر همدې لحظې یې لا د شوروی اشغال له جګړو او ستونزو څخه د ارامي سا نه وه اخیستې.

هو که ! د وخت د ترټولو ځواکمن غلیم په مقابل کې افغان مجاهد ولس د طالبانو په مشرۍ په تش لاس جهادي مقاومت پیل کړ، داسې مقاومت چې په خورا استقامت او ثبات یې د اشغالګرو له ټول پوځي برلاسي سره د بریالیتوب تر مرحلې ورساوه ، نه یې د مقاومت په دې ستونزمنو شرائطو کې له خپل جهادي مسیره انحراف وکړ او نه یې هم له خپلو جهادي او شرعي اهدافو څخه تنزل وکړ.

غواړو په مختصره توګه د قرن د دې حیرانوونکې معجزې (د امریکایي اشغال په مقابل کې د طالبانو جهادي مقاومت) او د هغه تدریجې مرحلو ته ځغلنده نظر وکړو.

د مقاومت ابتدایي مرحله

طالبانو د امریکایي اشغال په پیل کې د یوه پوځي تکتیک په توګه له ښارونو او پوځي مراکزو څخه پرشاتګ وکړ.

هغوی په دې پرشاتګ سره د امریکا او متحدینو د اوږدې او درنې جګړې په مقابل کې دوه مهم اهداف تر لاسه کړل:

لومړی هدف دا چې خپل بشري ځواک یې د امریکا او متحدینود درنو بمباریو له کبله له تلف کېدو څخه وژغوره.

دوهم دا چې خپلې لاس لرلې وسلې او پوځي تجهیزات یې د مقاومت د بیا پیلولو په غرض نسبتا خوندي ځایونو ته له ځان سره ولیږدول.

د ۲۰۰۵ او ٦ کال په پیل کې کله چې د امریکایي اشغالګرو خلاف د اسلامي امارت پوځي تشکیلات اعلان او مقاومت په سرتاسري ډول پیل شو نو طالبانو

ټولې خونډې کړې وسلې را سربېره او له امريکايانو او د هغوی له متحدينو سره يې ورباندې مقاومت پيل کړ.

د مقاومت په ابتدايي مرحله کې طالبانو په تدريجي ډول د اشغالګرو په وړاندې خپل پوځي فعاليتونه منسجم کړل.

په يادو پوځي فعاليتونو کې د هغوی اساسي ترکيز د خپلو ځواکونو په تنظيمولو او هغوي ته د اشغالګرو خلاف د مقاومتي روحيې ورکولو باندې و.

په دې مرحله کې طالبانو د اشغالګرو په و ړاندې له جبهې جګړو او په رڼا ورځ له غلچکي بريدونو ځخه ځان ساته .

د ۲۰۰۲ کال د دسمبر په مياشت کې يواځې د پکتيا په شاهي کوټ د طالبانو د يوه تکړه قومندان شهيد سيف الرحمن منصور، په خوست کې د مولوي جلال الدين حقاني او د کندهار په بولدک کې د شهيد مولوي عبدالرحيم له جبهاتو پرته چې د امريکايي ځواکونو په مقابل کې يې جبهه يې مقاومت کاوه نور د ټول هيواد په کچه طالبانو خپل پوځي فعاليتونه تر محدودو غلچکي بريدونو محدود وو.

په ۲۰۰۴ کال کې افغانستان ته د آيساف تر تشکيل لاندې د صليبي يرغلګرو ځواکونو په رارسيدو سره په تدريجي ډول په هلمند، کندهار، نورستان ، کونړ، غزني ، زابل او اوروزګان کې جهادي عملياتو زور واخيست.

د مقاومت منځنۍ مرحله

له ۲۰۰۷ ځخه وروسته مقاومت د هجومي روحيې په خپلولو سره تقريبا هيواد شموله او د هلمند، کونړ، نورستان او خوست په ځينو عملياتو کې طالبانو د لومړي ځل لپاره د عملياتو په مهال امريکايي وسلې غنيمت کړې.

له ۲۰۰۷ نه تر ۲۰۱۰ کال پورې د بهرنيو يرغلګرو په وړاندې د مقاومت ځپه ډېره ګرمه او سرتاسري وه.

په دې مرحله کې په هلمند ، کونړ، کندوز، کندهار ، خوست ، کاپيسا ، ميدان وردګ ، غزني ، لوګر، زابل ، پکتيا ، بدخشان او د هيواد ګوټ ، ګوټ کې د اشغالګرو په وړاندې د مقاومت سنګرونه داسې ګرم شول چې د ۲۰۱۰ کال د اګست په مياشت کې په افغانستان کې ميشتو بهرنيو ځواکونو اعلان وکړ چې دا مياشت د هغوی لپاره تر ټولو خونړۍ او په ټول افغانستان کې د طالبانو د پوځي عملياتو د تشديد له وجې د ۲۰۱۰ کال د بهرنيانو لپاره تر ټولو خونړی کال وو چې په ترڅ کې يې تر ۷۰۰ زيات بهرني پوځيان د طالبانو په هجومي بريدونو کې مړه او په زرګونو نور ټپيان شول .

د امريکايي يرغل په تيره ۱۶کلنه دوره کې دا مرحله تر ټولو ګرمه او د اشغالګرو لپاره خونړۍ مرحله وه چې بالاخره يې د امريکا د وخت جمهور رئيس بارک اوباما مجبور کړ چې د ۲۰۱۴ کال د جولای مياشت له افغانستان ځخه د بهرنيو ځواکونو د پرشاتګ وروستۍ نيټه اعلان کړي.

پر دې سربېره دا مرحله په نړیواله کچه د مقاومت د شهرت او د امریکا په شمول د یو شمیر لویوځواکونو لخوا د طالبانو د په رسمیت پیژندلو لامل هم شوه.

په همدې مرحله کې امریکایان مجبور شول له طالبانو سره د خپل اسیر پوځي افسر- بو برگدال د خلاصون لپاره مخامخ مذاکرات وکړي چې د هغو په ترڅ کې د امریکایانو له وحشي زندان گونتنامو څخه (۵) تنه لوړ پوړي طالب بندیان تبادله شول.

همداراز په دې مرحله کې امریکایان مجبور شول له طالبانو سره د خبرو لپاره هغوی ته په قطر هیواد کې دد فتر خلاصول ومني.

همدا ډول د دې جهادي مرحلې له برکته پر نړیوالو هغه امریکایي اغیز چې ټوله نړۍ یې تر دهشت لاندې وه او هیڅا یې په مقابل کې د څه ویلو او کولو جرئت نه درلود کمزوری او بې اغیزه شو چې له امله یې د امنیت شورا د دائمو غړیو په شمول (روسیې او چین) ډیرونورو هیوادونو هم په افغانستان کې د جهادي مقاومت (طالبانو) په مشروعیت اعتراف او ځینو یې غیر رسمي حمایت وکړ.

د مقاومت فعلي مرحله

د امریکایي اشغال په وړاندې د طالبانو په مشرۍ افغان جهادي مقاومت د دې لامل شو چې بالآخره د امریکا د وخت ولسمشر- بارک او باما د ۲۰۱۵ کال د جنوري په لومړۍ نیټه اعلان وکړ چې تر دې وروسته مونږ په افغانستان کې هغه عملیات چې په ۲۰۰۱ کې مو پیل کړي پایته ورسوو او نور غواړو خپل ټول ځواکونه له افغانستانه پرشا کړو.

نوموړي وویل چې یواځې ۸۲۰۰ امریکایي پوځیان به په افغانستان کې د داخلي ځواکونو د روزنې او هغوي ته د مشورې ورکولو لپاره پریږدي.

له افغانستان څخه د امریکایي اشغالگرو او دهغوی د صلیبي ملاترو د عقب نشیني اعلان په حقیقت کې د افغان ویاړلي ولس په لاس تر انگریزي او شوروي امپراتوریو ورسته د امریکایي امپراتوري د ماتې اعلان هم و چې غربي مستکبرینو ته د دې ترخه

حقیقت منل د هغوي د نړیوال وجاهت له تړپښو لاندې کولوسره معادل و.

هماغه و چې د امریکا جمهوریت غوښتونکي گوند واکمنانو له افغانستان څخه د ټولو امریکایي عقب نشیني د امریکایي غرور او وجاهت د تړپښو لاندې کولو په معنی وباله .

د ۲۰۱۷ کال په پیلیدو سره د امریکا نوي ولسمشر ډونلډ ټرمپ د تحلیف په مراسمو کې د جمهوریت غوښتونکو په استازیتوب له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو د عقب نشیني په اړه د بارک اوباما پریکړه معطله او د بیلابیلو پلمو په ارائه کولو سره یې په جزئي ډول په افغانستان کې د امریکایي پوځیانو د پاتې کیدو پریکړه وکړه.

که څه هم چې په امریکا کې د بهرني سیاست اساسي کرښې د هغه هیواد کانگریس ترسیموي خو په کانگریس کې د امریکا د دوو سیاسي گوندونو (دیموکراتانو او جمهوریت غوښتونکو) د غړیو نظر هم له پامه نشي غورځید لای.

په افغانستان کې د جهادي مقاومت رواني بریالی مرحلې په مجموع کې اوس امریکایان ، د هغوي کانگریس او پنټاگون دواړه له داسې تردد سره مخ کړي چې نه له افغانستان څخه د کلي پرشاتگ او نه هم دلته د پاتې کیدو تصمیم نیولی شي.

خو افغان مجاهد ولس په خپل برحق مشروع جهاد باندې د بریالیتوب په باور او د الله په نصرت باندې په پوره اعتماد سره د امریکایي اشغال په مقابل کې خپل مقاومت ته دوام ورکوي.

د اشغالگرو په وړاندې د مقاومت فعالي مرحله د مقاومت له ابتدایي مرحلې سره د قربانیو ، سرښندنو او فداکاریو نه شلیدونکی تسلسل دی چې امریکایان ، ناټو ترون او ټول یرغلگر یې له شکست او رسوایي سره مخ کړي دي .

که ټرمپ او د هغه نړیوال متحدین او همدا راز په افغانستان کې د هغوي بې ننگه مزدوران هرڅومره د غیرتي مجاهدینو په خلاف تبلیغات کوي ، دا شرعي مقاومت په ناسمو نومونو یادوي ، د هغه په خلاف له وحشت نه کار اخلي او د ډول ډول وحشتونو او جنگي ستراتیژیو په اعلانولو سره دلته د اشغال اوږدولو او جگړې غزولو کوښښ کوي خو افغان ولس به یې د مجاهدو طالبانو په قیادت کې په وړاندې خپل مشروع جهاد جاري ساتي او د دغو ټولو وحشتونو د ختمولو لپاره به یې بیاهم اساسي او آخیري پریکړه د مقاومت د فعلي مرحلې په تداوم سره د قربانیو ، سرښندنو او مسلح جهاد په برکت د بریالیتوب وروستي پړاو ته ځان رسول وي.

ان شاء الله

امریکایان ولې مدارس او دیني عالمان په نښه کوي؟!

معین احمد

څلور میاشتې وړاندې د ټرمپ د جنګي ستراتیژۍ تر اعلانیدو وروسته د امریکایانو لخوا پر ولسي وګړو د بمباریو ترڅنګ داخلي ځواکونو پر مدارسو او دیني عالمانو باندې هم بریدونه زیات کړې دي.

د دې بریدونو وحشیانه لړۍ د تیر سپتمبر په میاشت کې د پکتیا له ولایت نه هغه وخت پیل شوه چې د یاد ولایت د زرمت ولسوالۍ په اوریا خېلو سیمه کې اربکي وحشیانو د یوه برید په ترڅ کې د ښوونځي ښوونکی (معلم جان محمد) شهید او د نومړي دوه زامن یې ټپیان کړل.

تر هغه وروسته د نومبر د میاشتې په ۲۲ د میدان وردګ ولایت نرخ ولسوالۍ په عمر خیلو کلي کې بهرنیو او داخلي عسکرو پر یوې دیني مدرسې برید وکړ چې د مدرسې د یوه تن استاد په ګډون یې اته تنه معصوم حافظان شهیدان کړل.

د سیمې د عیني شاهدانو په خبره امریکایي یرغلګرو او د هغوی بې ننګه ملاتړو پریادې مدرسې د چاپې پرمهال لومړی د قران حافظان او نور طالبان په یوه ځای کې را غونډ او وروسته یې ورباندې پیرونه وکړل.

د همدې شهید کړل شویو حافظانو په جمله کې له ۱۲ کلونو نیولې تر ۱۵ کلونو پورې کم عمره ماشومان هم موجود ول.

د یادو مظلومو حافظانو د شهادت بورنوونکې پیښه ډیره دردمنه او د سیمې ټول اوسیدونکې یې د اعتراض په ډول په غبرګون کې راووتل ، خو د ولایت په مرکز کې د ګډ حکومت والي او همداراز په کابل کې د رژیم بې ضمیره چارواکو ورباندې هیڅ غبرګون نه کړ ښکاره.

غبرګون څه چې د دې غمیزې په تعقیب یې د ډسمبر په ۱۱مه د خوست ولایت مندوزیو ولسوالۍ په دورزي سیمه کې پر یوې بلې دیني مدرسې برید وکړ چې په ترڅ کې یې د یادې مدرسې ۲۶ تنه دیني زده کوونکي بندیان او د مدرسې ټوله ممتلکات غلا کړل.

وحشي-اشغالګرو او د هغوی ملاتړو پر دیني مدارسو باندې د بریدونو ترڅنګ په کلیوالو سیمو کې دیني عالمان او د مدارسو

ښوونکي هم په نښه کړي چې د بیلګې په ډول یې د نومبر د میاشتې په ۲۸ د پکتیا ولایت په احمد اباد ولسوالۍ کې د سیمې یومخور شخصیت او د دیني علومو استاد مولوي حمد الله یادوو چې د تدریس او ښوونې په جرم د اربکي ملیشو لخوا شهید کړای شو.

د امریکایي اشغالګرو او د هغوي د ملاتړو د دې جنایتکارانه کړنو په وروستې پیښه کې د زابل ولایت یوتن دینی عالم مولوی منګل چې د یاد ولایت د سیوری ولسوالی اوسیدونکی و هم د دښمن د استخباراتو لخوا په نښه او شهید کړای شو.

شهید مولوي منګل له ډیرې مودې راهیسې د مرکزقلات ښارته نیردې د شادو په کلي کې امام او وخت ناوخت به یې د ولسي بندیانو په راخلاصولو کې د سیمې له خلګو سره مرسته کوله.

په زابل کې د دښمن استخباراتي اداري د نومورې عالم د په نښه کولو لپاره د ځانګړې استخباراتي تیم په تاکلو سره نوموړې د قران کریم د تفسیر د دورې په مهال تر ځار لاندې نیولی و.

د رژیم استخباراتي تیم پر نوموړي شهید باندې د قرآن کریم له تفسیر او ترجمې پرته بل هیڅ کوم جرم او الزام نه درلود او فقط دهمدې جرم (تفسیر او ترجمې) په تور یې له مسجد څخه کورته په لاره په ډزو سره شهید کړ.

د شهید مولوي منګل تر شهادت وړاندې یې د عین جرم په تور یو بل دیني عالم مولوي نعمت الله هم د مرکز قلات اړوند د خوړې اندړو په کلي کې په شهادت ورساوه.

پوښتنه داده چې اشغالګراو د هغوي ملا تړي پرنورو جنایاتو سر بیره ولي د هیواد دیني مراکز، مساجد او مدارس او د هغوي امامان په نښه او له منځه وړي.

د پوښتنې ځواب واضح دی او هغه دا چې امریکایان او د هغوي بیدینه مزدوران پوهیږي چې د دوي د کفري اشغال په مقابل کې همدا دیني مراکز او د هغوي ویښ عالمان او دیني ښوونکي دي چې د خپل شرعي مسؤلیت له مخې ملت تحریکوي او د کفري اشغالګرو په مقابل کې جهادي روحیه ورکوي.

تر امریکایي اشغالګرو وړاندې شوروي اشغالګرو هم د خپل اشغال په مهال لومړی حمله پر دیني مدارسو، مساجدو او دیني عالمانو باندې وکړه چې له امله یې په لسګونزره دیني عالمان لومړی بندیان او بیا په څرخي پله او پلیګون کې په شهادت ورسول.

فلسطين ته يهودان څنګه، کله او چاراوستل؟

حمزه شامي

په ۱۹۱۷ز کې عثماني خلافت دړنګيدو وروسته فسلطين دمتحدينو د سازمان نړيوالې ټولنې دپريکړې له مخې بريتانيې ته په واک کې ورکړل شو، په دې سره فسلطين ته ديهودو ورتګ پيل شو، دوهم نړيوال جنګ وروسته ديهودانو دورتګ بهيرنورهم چټک شو او په لوی شمير يهودان دنړۍ له ګټ، ګټ څخه راغلل فلسطين کې ميشت شول

په همدې وخت کې يهودانو ځانونه تقويه کړل دخپلې دفاع لپاره يې جنګې ډلې جوړې کړې ، پريمانه وسلې او جنګي توکي يې ترلاسه کړل او ځانونه دنظامي پلوه پوره اکمال او مجهز کړل

په ۱۹۳٦ زکې د برتانويانو پرضد پاڅون او کار بنديز اوشو، په ۱۹۴٦ زکې دارګون صهيونتي ځواکونو په برتانوي عسکرو يوه نمايشي حمله وکړه په خاصه توګه په دادود هوټل چېرته چې دبرتانويانو جنرالان او چارواکي پکې ميشت وو او په ترڅ کې څوتنه برتانويان ووژل شول په ۱۹۴۷ زکې دملګرو ملتونونړيواله ټولنه رامنځته شوه، هغې د فلسطين دويش پريکړه اعلان وکړه، ليکن بيت المقدس او بيت اللحم يې دملګرو ملتونو واک لاندې ځانګړی وضعيت لرونکو ښارونو په نوم اعلان کړل، کله چې انګريزان له فلسطين څخه وتل واک يې يهودانو ته او سپاره، په ۱۹ ۴۸ز کال کې دمی په ۱۴مه نيټه داسرايل غاصب دولت رامنځته شو او هغه ژر لويديځ بيت المقدس ونيو او اردني ځواکونو دبيت المقدس ختيځ ،زوړ ښار او نورې پراخې سيمې يې ونيوې ،په دې سره ښار اوويشل شو، نيم داسرايل لاس ته ورغی او نيمايې څخه زيات داردن حکومت لاس ته، په ۱۹۴۷ز کې دعربو او اسرايل ترمنځ اوربند اوشو ليکن ترمنځ يې دسولې کوم تړون اونشو، په همدې کال اسرايل بيت المقدس دخپلې پلازمينې په توګه اعلان کړ، خو نړيوالې ټولنې په رسميت او نه مانه؛ دبيت المقدس لويديځې برخې ته اسرايل شپږ کاله وروسته خپل دفترونه ليږدول پيل کړل، په ۱۹٦۷ز کې اسرايل د فلسطين دسيند لويدځه غاړه هم ونيوه او هم په دې کال کې دبيت المقدس ختيځه برخه هم قبضه کړه، چې په دې سره دختيځ بيت المقدس ښاروالۍ يې ونړوله او سره يې يوه يې کړه او دخپلې خاورې برخه يې او ګڼله ملګروملتونو او نړيوالو داسرايلو دغه ټول

او دمسلمانانو شمیر یې دیرش سلنې ته راټیټ کړي

اسرایل دفلسطین دهغو خلکو داقامت اسناد لغوه کړل کوم چې دبیت المقدس ښار نه بهر اوسیدل، هغوی ته یې په بیت المقدس کې د بیاکورونو جوړولو اجازه ورنکړه په ۲۰۰۰ زکال کې ایریل شارون ,,جبل هیکل'' ته دزروعسکرو په ملتیالاړ، په دې سره فلسطین کې پاڅونونه پیل شول په ۲۰۰۳ زکې اسرایل سلګونه کیلومتره دیوالونه جوړکړل هدف یې دفلسطینیانو دبریدونو مخنیوی ښود، یوکال وروسته نړیوالې ټولنې دغه دیوال ناقانونه اوباله او هم یې پریکړه یې وکړه چې داسرایل لخوا دختیځ بیت المقدس نیول ناقانونه دي اوس سږ(۲۰۱۷ز) دامریکا له لوري بیت المقدس داسرایل دپلازمینې په توګه رسماً اومنل شو او دتل ابیب څخه بیت المقدس ته دامریکایي سفارت خونې دلیږدولو اعلان وکړ څو ورځې دمخه دمصر لخوا دملګرو ملتونو دامنیت شورى ته دټرمپ ددغه حکم دمستردولو غوښتنلیک وړاندې شو دکوم په پلوی چې دامنیت شورى ۱۴غړوهېوادو لخوا دټرمپ یاده پریکړه رد کړای شوه او دمصر دغوښتنلیک په پلوی یې رایې ورکړې خو امریکا هغه دویټوصلاحیت په کارولو رد کړ او پخپله کړې پریکړه یې ټینګار وکړ. نو ددینه خپله دانتیجه واخلئ چې په لومړي سرکې یهودان فلسطین ته برتانویانوراوستل او ورته واک یې اوسپاره، دبرتانیې وروسته دهغې میراث امریکا ته پاته دی، امریکا دې ټوله موده کې داسرایل ترشاده او هرکله چې نړیواله ټولنه داسرایل په ضد کومه پریکړه کوي یا کوم تصمیم نیسي سملاسي امریکا هغه دویټو په ځواک بې اثره ګرځوي او څوک نه پرېږدي چې داسرایل نه دهغه دظلمونو او جنایتونو پوښتنه وکړي نو اړتیا ددې خبرې ده چې مسلمانان ترڅو په نړیواله سطحه دملګرو ملتونو په تشکیل او جوړښت کې تغیررا نه ولي ترهغې ګرانه ده چې څوک داسرایل نه دهغه دظلمونو او جنایتونو په اړه پوښتنې وکړای شي نو اسلامي هېوادونه باید متحد شي دملګرو ملتونو په منشور او تشکیل کې داصلاحاتو راوستلو لپاره یوه اجندا وړاندې کوي او پکې دمسلمانانو لپاره هغومره سهم او ځواک اوغواړي څومره چې امریکا، برتانیا، فرانساه، چین او روسیه لري ددې پرته دمسلمانانو ټول کوښښونه او غوندې کومه ګټه نه لري.

حرکات او غندل او پرضد یې پریکړه لیکونه صادر کړل خو اسرایل دملګرو ملتونو یوه غوښتنه هم او نه منله

نړیواله ټولنه دفلسطین خلکو په خواکې ودریده په ۱۹۸۰ز کې داسرایل پارلمان پریکړه وکړه چې ټول بیت المقدس داسرایل پلازمینه دی، له امله یې په نړیواله کچه غبرګونونه راوپاریدل

په ۱۹۸۷ زکې دفلسطینیانو لومړی پاڅون پیل شو چې تر ۱۹۹۳ ز پورې یې دوام وکړ، دغه موده کې داسرایل او فلسطین ترمنځ درنې جګړې اوشوې په ۱۹۹۳ زکې داوسلو تړون اوشو په دې سره د دواړو غاړو دبیت المقدس برخه لیک تاکلو په اړه هوکړه اوکړه دهمدې تړون له مخې دفلسطین ځینو ادارو ته اجازه ورکړل شوه بیت المقدس ولیږدول شي، داوسلو تړون وروسته اسرایل په بیت المقدس دخپلو وګړو دشمیر زیاتولو کوښښ وکړ،چې په پایله کې یې نن دیهودو شمیراویا سلنې لوړشوی

فلسطین کې

د امریکا او د هغې د ملګرو شوم عزایم.....!

مولانا زاهد اراشدي
ژباړه:بشیر.....

دامریکا ولسمشر (ډونلډ ټرمپ]رسماً بیت المقدس ښار داسرایل حکومت دپلازمینې په توګه اومانه او خپل دبهرنیو چارو وزیر ته یې حکم وکړچې په تل ابیب کې دامریکا شته سفارت اودیپلوماتان دي بیت المقدس ته ولیږدوي، ټرمپ پخپل دې اعلان سره داسلامي نړۍ سربیره دملګرو ملتونو او نړیوالې ټولنې دادریځ چې بیت المقدس داسرایل پلازمینه نه مني رد کړ، په غبرګون کې یې په ټولو اسلامي هېوادو کې قهرجن لاریونونه او احتجاجونه روان دي په کومو کې چې دنړیوالې عامه رایې خپلواک او بیطرف وګړي هم ګډون لري او په ګډه ټول دټرمپ یاده پریکړه او دریځ محکوموي ، لیکن پوښتنه داده چې د اسلامي کانفرانس تنظیم یا عرب لیګ داحتجاجونو او لاریونو سربیره کوم عملي ګام هم پورته کړی که یواځې د لاریونو او تظاهراتو په ویستلو خپل دیني او ملي مسؤلیتونه پوره بولي ؟ ځکه که یو ائې په لاریونو او احتجاجونو ستونزه حل کیدای نو له تیرې یوې پیړۍ راهیسې روان دي؛هو! اړتیا د عملي ګامونو پورته کولوده؟ او دهمدې لپاره دنړۍ سترګې داسلامي هېوادو په واکمنو او په خاصه توګه دعربي هېوادو په لور دي ، چې هغوی به په دې لړکې په عملي کړنو لاس پورې کوي کنه؟ خدای جَلَّجَلَالُهُ دي وکړي چې هغوی ټول دټرمپ پالنې له سحره ځانونه بهر کړي او عملي ګامونه واخلي.

له نن څخه څوارلس کاله وړاندې [چې فلسطین؛څه ډول اسرایل اوګرځول شو؟] ما دبرتانیې پر کردار یومضمون لیکلی ، هغه کې ما لیکلي و چې: // فلسطین کې دامریکا اوسنی کردار دبرتانوي کردار دوام دی؛ چې د برياوو پر لور درومي,,دټرمپ له لوري دتازه اعلان وروسته هغه لیکنه یوځل بیا دوستانوته وړاندې کوم چې په لوستلوسره یې هغوی دبیت المقدس او فلسطین په اړه دامریکا او دهغې دملګرو په عزایمو پوهیدای شي.

د تیرې څه کم پیړۍ په اوږدو کې دنړیوال ښکېلاک قبضه او په نړیوالو چارو کې دهغه سلطه او ځواک ته په دوامدار شکل ځواک او پراختیا په برخه کېږي او په ډېره زړورتیا ، داډ اوبې فکرۍ یې دخپلې

تاکلي اجندا پراخولو لپاره کوښښونو او هڅو ته دوام ورکوي کومه چې د نړۍ اود سیمې مسلمانانو لپاره ځورونکي او له خطرونو ځخه ډکه ده

په مقابل کې د اسلامي نړۍ قیادتونه دغفلت او لاپرواهۍ په غرق خوب ویده دي او د عملي بیدارۍ او خوځښت یې کوم څرک نه لیدل کیږي

لاهورڅخه خپریدونکي ورځپاڼې(نواى وقت) په کال ۲۰۰۳ زکال دمارچ په ۵مه نیټه دیوې اسرایلي ورځپاڼې په استناد خبر خپور کړ چې داسرایل دفاع وزیر جنرال (موفاذ) ویلي: په لنډو ورځو کې به عراق زموږ (یهودانو) تر واک لاندې را شي او هر څوک چې د دوى (یهودو) په وړاندې خنډ کېږي دهغه حشربه دعراق په څېر وي... جنرال موفاذ عثماني خلافت ړنګولو ته په اشاره ویلي: عثماني خلیفه سلطان عبد الحمید فلسطین کې موږ ته له ځاى راکولو انکارکاوه ،په غبرګون کې یې موږ (یهودو)

نه یواځي هغه دواک نه معزول کړ بلکې د زمکې دمخ نه مو دعثمانې خلافت تغر ټول کړ هرڅوک چې داسرایل په وړاندې مزاحم کېږي له ورته انجام سره به مخ کېږي .

داسرایلي دفاع وزیرپورتنۍ وینا ددې حقیقت ښکارندویه ده چې په عراق دامریکا دیرغل موخه داسرایل عزایمو سرته رسول وو او د هغه نړیوال سازش یا پلان برخه وه کوم چې داسلامي نړۍ په زیرمو او شتمنیو دقبضې کولو لپاره په موخه جوړ شوى اوپر دي علاوه داسرایل جغرافیوي پولو غځول او پراخول یې هم عمده هدف دى ،په دې ټولو کې امریکا، برتانیا او دهغوى نور ایتلافیون عملاً ګډون او ونډې لري

یوه پیړۍ وړاندې سلطان عبد الحمید (ثاني) دعثماني خلافت تاجدار و، دچا یادونه چې جنرال موفاذ پخپلو خبرو کې هم کړې دعثماني خلافت پلازمینه (دارالسلطنت) استنبول (قسطنطنیه) و،فلسطین، اردن، عراق، مصر، شام، او د حجاز په ګډون زیاتره عربي سیمې یې تر او بړدې مودې پورې ترواک لاندې وې، فلسیطن دعثماني خلافت ترواک لاندې ولایت و او دبیت المقدس ښار دعثماني خلافت دواک په قلمرو کې یو له لویو ښارو څخه و، فلسطین کې دیهودانو میشت کول او بیا هلته داسرایلي دولت رامنځته کول د یهودانو او په نړیواله سطحه دیادو قدرتونو یو ګډ سنجول شوى پلان او هدف و، دکوم په ترڅ کې به چې اسرایل القدس ښارقبضه کوي او داقصی مسجد پر ځاى دسلیماني هیکل جوړولو پلان ته عملي شکل ورکوي ددې لپاره عملاً له مختلفو جهتونو څخه په مختلفو حربو او دسیسو لاس پورې کړ او کارېې پیل کړ.

اروابناد سلطان عبد الحمید پخپلو یادابنتونو کې لیکلي: دیهودانو دنړیوال سازمان لخوا ورته یو وفد راغى او غوښتنه یې وکړه چې (یهودانو) ته په فلسطین کې دمیشت کیدو اجاز وکړه، ځکه دشلمې پیړۍ ترپیله یهو دانو په ټول فلسطین کې یو کلى هم نه لاره هغوى په نړۍ کې خواره واره اوسیدل، یو ښار هم مستقل د دیهودانو په واک کې نه و، سلطان عبد الحمید دعثماني خلافت اصولو او قوانینو ته په کتو(فلسطین کې په یهودانو دزمکو پر خرڅولاو بندیز و) انکار وکړ ،عثماني سلاطین دیهودانو له عزایمو نه خبرول په دې وجه هغوى (یهودانو) ته په فلسطین کې د میشتیدواجازه نه ورکوله.

کیدو اجازه ورکړه؛ سلطان دخپل دفتر کارمندانوته په غوسه شو اوحکم یې وکړ چې بیا دده سره یهودوته دکتلو اجازه مه ورکوئ

ددې وروسته ترکیه کې دعثماني خلافت پرضد او دسلطان عبد الحمید په خلاف خو ځښتونه پیل شول او دمختلفو تورونو په لګولو سره خلک پورته کړای شول، چې په ترڅ کې یې سلطان عبد الحمید له واک نه معزول کړای شو.

دخلافت څخه دمعزولولو وروسته نوموړي پاته ژوند په اسارت کې تیر کړ او په همدې زمانه کې یې خپل یاداښتونه ولیکل نوموړی لیکي: خلافت نه د لرې کولو وروسته دمعزولۍ فرمان ورته چې کومو خلک راوړو په هغوی کې دترکیې پارلمان کې دیهودو وکیل(قروصو) هم و؛ څوک چې دیهودانو په پورته یادو درې وفدونو کې ګډون لاره او دا ددې خبرې دلیل و چې دنوموړي (سلطان) معزولول دیهودو سازش و؛همدیته یوه پیړۍ وروسته داسرایل ددفاع جنرال موفاذ اشاره کړې

سلطان عبد الحمید یو زړور، مدبر او خبرلرو نکی واکمن و، نوموړي پخپل ټول وس کوښښ وکړ چې دیهودانو سازشونه او پلانونه خنثا کړي دهغه وروسته چې نورکوم عثماني واکمن راغلل هغوی دبرتانیې ګوډاګي ثابت شول دهغوی په شتون کې غربي هېوادو او یهودي سازمانو دعثماني خلافت ړنګولو پلان بشپړ کړ، او په کال ۱۹۲۴ زکې یې دعثماني خلافت سقوط اعلان کړ

ترکان دعربي نړۍ څخه لاس په سر شول او دترک ملت پالنې په اساس هغوی دترک سیکولر دولت بنسټ کیښود او بل پلو دمکې مکرمې والي حسین شریف مکي (څوک چې داردن داوسني پاچا عبد الله ورنیکه و) هم دخلافت نه په بغاوت کولو وسلوال پاڅون وکړ هغه انګریزانو دعربي خلافت رامنځته کولو په لالچ بغاوت کولوته اماده کړ څو دعثماني خلافت نه دعربي سیمو خپلواکي اعلان کړي ، بیا وروسته برتانیې ورسره دکړو ژمنو څخه په شا شوه، دعربي خلافت ارمان یې پوره نشو ، پاته ژوند یې په اسارت کې تیر کړ، برتانویانو دهغه یو ځوی ته دعراق پاچاهي ورکړه او بل ځوی یې داردن پاچاکړ او حجاز کې یې د سعودکورنۍ سره د واک په ترلاسه کولو کې مرسته وکړه، حسین شریف یې نظر بند کړ او په اسارت کې ومړ.

اروابښاد سلطان عبد الحمید وړاندې لیکي: دوهم ځل ورته دیهودي مشرانو بل وفد راغی، داځل هغوی ځانو سره یو وړاندیز راوړی و هغه دا چې دوی(یهودان) تیاردي فلسطین کې دعثماني خلافت لپاره یو ستر پوهنتون جوړکړي اوور ته دنړۍ دمختلفو هېوادونه وتلي یهودي ساینس پوهان راوستل غواړي څو په ساینسي پرمختیاوو او ترقۍ کې دعثماني خلافت لاسونه مضبوط کړي؛ دپوهنتون لپاره تاسو یواځې زمکه ورکړئ پاته نورټول لګښتونه موږ(یهود) پوره کوو؛ سلطان ځواب ورکړ پوهنتون جوړولو اجازت درکوم په اړه یې اسانتیاوې هم درته برابروم؛ خو په دې شرط چې پوهنتون به دفلسطین پرته په بله کومه سیمه یا ښار کې جوړوئ ! یهودانو اونه منله او ووتل

سلطان عبد الحمید لیکي: دریم ځل دیهودي مشرانو دریم وفد ورته راغی دا وړاندیز یې وکړ چې ته هرڅومره پیسې غواړې موږ به یې درکړو خو یواځې فلسطین کې دیهودانو کم شمیر خلکو ته دمیشت

دې دوران کې فلسطین ته هم برتانوي ځواکونه ننوتل او ورته خپل والي يې مقرر کړ، برتانويانويهودانو ته اجازه ورکړه څو فلسطین ورشي اوزمکې او جایدادونه واخلي او دعثماني خلافت قانون يې لغوه کړ، دې سره دنړۍ له مختلفو هېوادونه د منظم پلان سم يهودان ورغلل او فلسطین کې يې د ځانو لپاره زمکې واخستې او پکې میشت شول ، هغوی(يهودو) د فلسطنیانو څخه زمکې په لوړو او دوه چنده بیه رانیولې او ځانوته يې پکې کورونه او کلي ودان کړل په یوه، یوه سیمه کې زرګونه او لکونه یهودان میشت شول، ددیني علماوو لخوا دمنع کولو باوجود فلسطینیانو دلوړو بیو په لالچ او حرص دکوم ډار او خطر پرته پر یهودو خپل جایدادونه او ملکیتونه وپلورل ،هغه مهال جید عالم او مفتي (مفتی اعظم) الحاج سید امین الحسیني او دهغه ملاترکوونکو علماوو لخوا ورکړې فتوا دنړۍ دجیدو علماوو لخوا تائید شوه چې له مخې يې پر یهودو د فلسطین زمکې پلورل حرام او ناروا عمل ا علان شو ، ځکه یهود فلسطین کې دزمکو په اخستو سره غواړي یهودي دولت رامنځته کړي او په بیت المقدس دقبضې پلان لري چې په سبب يې په یهودانو باندې فلسطین کې دزمکوپلورل ناروا دي

له هندوستان څخه حکیم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رَحِمَهُ اللّٰهُ هم ورته فتوا ورکړه چې په یهودو باندې دفلسطین زمکې خرڅول حرام عمل دی، دفتوا متن دنوموړي په کتاب [بوادر النوادر] کې چاپ شوی لیکن دفسلطین خلکو يوه هم وا نه وریده؛ هغوی د لوړو بیو لالچ دومره بې سده کړي وو چې يودلیل هم ورته دمنلو وړ نه وو، په دې چل او دوکه دنړۍ له مختلفو هېوادو څخه یهودان لاړل فلسطین کې دځانونو په میشت کولو بوخت شول کرار، کرار يې ځانونه منظم کړل جنګي ډلې او ملیشې يې جوړې کړې ډول ډول وسلې يې ترلاسه کړې عربانو سره يې پرلپسې جنګونه وکړل او نورې سیمې يې ترلاسه کړې په ۱۹۴۷ زکې ملګرو ملتو نو یهودان د فلسطین دیوې برخې څښتنان او حقدار اعلان کړل او هم يې دیهودانو دولت په رسمیت اوپیژانده ، په دې سره په يو فلسطین کې دوه دولتونه رامنځته شول ، کله چې د برتانیې والي فلسطین پرېښود واک يې یهودو ته اوسپاره لنډه داچې که داسرایل ددفاع وزیر (موفاذ) دوینا تاریخي شالید ته اوکتل شي چې په وینایې عثماني خلافت ړنګول او دسلطان عبد الحمید دواک نه غورځول دیهودانو کردارو؛ تري دا نتیجه واخلئ چې داسلام او مسلمانانو دښمن زیات بیدار، زیرک، خبر او مستعد دی او په مقابل کې يې زموږ بې حسې بې خبرې او دعواقبو دادراک سطحه یا ورتیا څومره ده؟

الله جَلَّجَلَالُهُ دې زموږ په حالت مهربان شي امین.

دعام وژني بهانه !؟

صلاح الدين صارم

له دېره وخته دامریکا متحده ایالات دنشه یې توکو له ضرره په ظاهره سرټکوي، خو په عمل کې یې په مخنیوي کې دېرپاته راغلي اونه دي توانیدلي چې په دې اړه یې له زرګونو پروژو څخه یوه هم کارنده ثابته شوې وي، اویاخپل هدف ته رسیدلې وي، په دې ډول یې بار بار عجز اوبې وسي ثابته شوې او ددې سرطاني مکروب له منځه وړل ورته ناشوني او ناممکن ګرځېدلي .

دغه ناممکن کار طالبانو په خپل وخت کې ممکن کړ او داچې په خپله یې هم دخپرواوي پلویان نه وو او دامریکا هم همدا بهانه وه، نو په یوه فرمان یې په ټول هیوادکې نېست اونابودکړل ....

اوس یې چې دپراختیا غوښتنې په هوس زمونږ پرهیوادیرغل راوړی، دشوروي وحشت په څېرېې زمونږ مظلوم ولس تربمباړونو لاندې نیولی اودغه تروریستي عمل او عام وژنې ته بېلابېلې بهانې لټوي .

په هلمندولایت کې یې پرولسی- وګړو دبمبارېو یوداسې ناتار جوړ کړی چې له یوې مخې کلي او بازارونه له منځه وړي، دهلمند د دیشو ولسوالی دبهرامچې، دنوزاد، موسی کلا، واشیر او سنګین ولسوالی چې دامریکایانو له تسلط نه بهر اودطالبانو تړواک لاندې دي په دې وروستیوکې یې ترسختو بمبارېو لاندې نیولي ، دسلګونو خلکو په وژلو یې نه هېرېدونکي بشري ضدجنایتونه ترسره کړل اولکه څنګه چې عیني شاهدانو ګواهي ورکړې ددغو بمبارېو نښه یواځې اویواځې ملکي او ولسي خلک دي او بس .

په ټولیز ډول ټول مطبوعات په دغو جنایتونو او تروریستي اعمالو پټه خوله دي، خو داچې داجنایات دپټېدو نه و ، نو نه یواځې داچې ددغه تروریستي اعمالو په ترسره کولو بښنه وغواړي، بلکې دغه جنایت ته یې دنشه یې توکو دکارخونو دله منځه وړلو په نوم دوام ورکړ .

له یوې خوا دناټو قوماندان خلکو ته دملکي تلفاتو دمخنیوي ډاډ او وعدې ورکوي له بل لوري امریکایان په ولسي- خلکو توغندي اوروي او ړندې بمبارۍ کوي .

دنړۍ په هره برخه کې یې همدا ډول دوه مخې سیاست اودمنافقت لوبه روانه کړې ده، له یوه لوري دداعش په ضد ددښمنۍ نارې وهي له بل لوري یې ملاتړ او اکمال کوي ، هم یې دنشه یې توکو په ضد کمپاینونه په لاره اچولي اوهم په دېرو ځایوکې دوی پخپله پکې ښکېل او ککړ وي ، ټول هغه حکومتونه او مافیایي ډلې چې په فساد او نااهلۍ په نړیواله سویه تورن وي او تربل هرچا یې دفساد او نا اهلۍ نارې هم دوی دېرې وهي، په عمل کې به یې په ننګه ولاړ او ټول په ټوله اکمالوي چې ښه بېلګه یې دکابل اداره ده، له یوې خوا یې دفساد او نا اهلۍ نارې وهي، له بل لوري یې هرڅه د دوی له خوا دي او ددوی په ژوند پورې یې ژوندتړلی، ځکه خو یې هغوی هم له هرډول تمیز پرته ټول بشري جنایتونه ورسره تائیدوي، بلکې مشروعیت ته یې بېلا بېل تاویلونه او حیلې لټوي .

اشغال نه دبیت المقدس ازادولو لپاره

اتل

یوائحې اعلامیه کافي نده..!

استنبول کې داسلامي هېوادو د فوق العاده سرمشریزې لخوا دیوې اعلامیې په ترڅ کې دامریکا د ولسمشر ټرمپ هغه اعلان (چې بیت المقدس یې داسرایل پلازمینه اومانه) رد او وغندل شو، دترکیې دولسمشر (اردوګان) په بلنه او کوربه توب جوړې اسلامي شرمشریزې په یوغږ دامریکا ددغه دریځ مخالفت وکړ او هغه یې په سیمه کې د نورو بې ثباتیو او ناامنیو دپېریدو بل پړاو او باله.

د کتونکو په اند:داسلامي هېوادو د فوق العاده غونډې اعلامیې لاندې ټکي دپام وړدي:

- داسلامي هېوادو په یوغږ دامریکا لخوا بیت المقدس ته دامریکا دسفارت انتقالولو اعلان مسترد کړ او په ځواب کې یې ختیځ بیت المقدس دفلسطین هېواد دپلازمینې په توګه اعلان کړ ،هم یې دنورې نړۍ له هېوادو او غوښتل: چې د ختیځ بیت المقدس ښار دي هغوی هم دفلسطین دپلازمینې په توګه رسماً اعلان کړي
- دامریکا دولسمشر دا علان په غبرګون کې داسلامي هېوادو دولسمشرانو اوچاروواکو په یوځای راغونډېدل یوه مهمه اړتیا وه ، او ضرورت یې له وړاندې احساسیده چې اسلامي هېوادو نه باید دمسلمانانو د اجتماعي ستونزو او مسایلوپه اړه اجتماعي دریځ یا پالیسې غوره کړي
- ددې فوق العاده سرمشریزې په رابللو او جوړولو کې دترکیې ولسمشر رجب طیب اردګان د نورو هېوادو دولسمشرانو په نسبت زیات متحرک او فعال کردار اداء کړ، دنوموړې هڅو او ویناوو ته په پام داسلامي نړۍ د زیاترو وګړو له لوري داډېښودل شوی چې مسلمانان په نړیواله کچه یو مخ دقیادت له فقدان سره هم مخ ندي ، دې لړ کې دترکیې دولسمشر کردار دځینو هغو اسلامي هېوادو مشرانو لپاره مثال دی چې هغوی په دې لړ کې پخ غبرګون اوښود او هغسي متحرک او فعال اونه لیدل شول چې ورنه تمه کیده او دترکیې ولسمشر داستعماري هېوادو په سترګوکې سترګې اچوي او په خورا زړورتیا سره داسلامي نړۍ دحقوقو نه د دفاع غږ پورته کوي
- مبصرین په دې اند دي که اسلامي نړۍ بیداره شوه او متحده شوه، نو په نړیواله سطحه دامریکا او لویدیځ برتري ننګولی شي، ددینه وړاندې دملیزیا پخواني صدراعظم مهاتیر محمد هم ترڅه ځایه داسلامي نړۍ

دحقوقو نه ددفاع غبږ پورته کړی واو داسلامي کانفرانس تنظیم دمشر په حیث یې کوښښ کړی و چې دملګرو ملتونو په نړیواله ټولنه کې دمسلمانانو په اړه یې دیو شمیر مثبت تغیراتو درامنځته کولو غوښتنه وکړه او دملګرو ملتونو امنیت شوری کې دمسلمانانو لپاره دویټو ځواک غوښتنه وکړه ځکه دویټو ځواک نه دمسلمانانو محرومیت یې لویه نا انصافي ګڼله، نوموړي په نړیوالو لوظنامو او تړونونو هم دبیا غور او کتنې غوښتنه وکړه او دې هدف ته درسیدو لپاره یې د اسلامي هېوادو مخ ته دا رایه وړاندې کړه: راځئ! موږ اسلامي هېوادونه دملګرو ملتونو د پنځوس کلنۍ جشن لمانځلو په مراسمو کې له ګډون کولو سره پریکون وکړو څو موږ ته هم هغه حقوق راکړای شي کوم چې نورو هېوادونه لري ،خو دمهاتیر محمد داغږ چا وانه ورید او پکې کوم پرمختګ هم رانغی اوس رجب طیب اردوګا ن داسلامي کانفرانس تنظیم

مشرې په غاړه لري، دترکیې ولسمشر طیب اردوګان په ورته توګه دمسلمانانو دحقوقو ددفاع غږ پورته کوي او مسلسل په امریکا ، اسرایل او غربي هېوادو اودهغوی په پالیسیو نیوکې کوي او په زیات جرئت، تدبراو هوښیارتیا داسلامي هېوادو او مسلمانانو دحقو قو نه ددفاع غږ پورته کوي

- داسلامي کانفرانس تنظیم فوق العاده غونډې ته په ویناارډوګان وویل: که القدس ښار دمسلمانانو له لاسو ووت سبا ته به مدینه منوره (خدای مکړه) هم دورته انجام سره مخ کړای شي، هغه په اسلامي نړۍ غږ وکړ : چې ولې موږ دالله تعالی داحکامو، او دخپلو وړاندینو امانتونه نشو ساتلی نوموړي وویل: نړۍ کې مسلمانان له یوسخت حالت تیریږي دبیت المقدس په وجه ټول منځني ختیځ کې اسلامي امت ترهدف لاندې دی او ددې لپاره نوې دسیسې پیل شوې او په مقابل کې یې مسلمانانو ته بیړني ګامونه پورته کول پکار دي
- څنګه چې دنوموړي ترشا د عثماني خلافت شانداره ماضې ده او دهغو نظریاتي ځوانانو لپاره چې داسلامي نړۍ دازادۍ او ترقۍ ارمانونه ورسره مله دي طیب اردوګان دامیدونو وروستی منار دی چې ورپورې خپلې هیلې او امیدونه تړي الله تعالی دې نوموړی دمسلمانانو دامیدونو په تول پوره اوخیږوي
- ترکومه ځایه چې دترکیې دفوق العاده سرمشریزې اعلامیه اړه لري دډېرو لپاره یې ځیني ټکي دخوشبینۍ وړدي او ترډېره داسلامي نړۍ ترجمانې یې بولي خو یوازې اعلامیه کافي نده اسلامي هېوادو ته پکار دی چې عملي ګامونه واخلي دامریکا په وړاندې راپورته شي دامریکا سره پریکون ګواښ وکړي که یواځې دمؤقت وخت لپاره پریکون هم وکړي ، ګټه به یې ډیره وي ځکه که امریکا بیرته پخپلو کړنو غور کولو ته اړکړای شي نودابه یو بری وي په خاصه توګه دځینو اسلامي هېوادو داګام دستاینې وړدی چې هغوی ختیځ بیت المقدس ته دخپلو سفارتونو دلیږلو اعلان کړی په دې لړ کې دچین لخوا هم ویل شوي: چې چین دخپلواک هېواد په حیث د فلسطین ملاتړ کوي او بیت المقدس به یې پلازمینه وي که په ورته توګه نور هېوادو نه هم ګامونه واخلي باور دی چې دامریکا او اسرایل ټولې دسیسې خاورې شي.

ترامپ، یهود، القدس و مسلمانها

روابط تنگا تنگ ترامپ و یهود

حبیبی سمنگانی

رسانه های اسراییلی (در اوائل ۲۰۱۷م) انکشاف نمودند که رییس جمهور امریکا دونالد ترامپ حمایت کننده‌ء بزرگ مالی یهودیان برای شهرک سازی ها در مناطق غصب شده‌ء فلسطینی است ، ترامپ برای اینکه یهودیان زمین های فلسطینیان را غصب نموده برای خود خانه های مسکونی ، ساختمان های تجارتی و ادارات تعلیمی بسازند پول فراهم می کند ، توسعه‌ء جبری محله های یهود نشین در سرزمین اشغالی فلسطین از مدت زیادی به یک فاجعه‌ء بزرگ مبدل شده است ، یهودیان در سال ۱۹۸۰مدر اثر فشارهای بین المللی از نوار غزه (جای که فلسطینیان در اکثریت هستند ۹) خارج شدند ، اما ترامپ از جمله کسانی بود که برای آبادی مجدد یهودیان درین منطقه ملیون ها دالر کمک نمود ، نه اسراییل این مهربانی های ترامپ را فراموش کرده است و نه هم یهودیانِ امریکایی ، از همین بود که یهودیان در انتخابات ریاست جمهوری امریکا آراء خود را در صندوق های ترامپ انداختند و در پیروزی وی سهم بارز گرفتند .

گفته می شود که یهودیانِ متعصب و خودخواه هیچگاه گروه یا شخصی را که مذهب خود را ترک نموده یهودیت را قبول کرده باشد قلباً از خود نمی پندارند ، اما در معامله‌ء ترامپ قضیه بر عکس است ، دختر بزرگ ترامپ « ایوانکا » که سی و شش سال سن دارد از عیسویت منحرف شد ودین یهودیت را قبول کرد تا با محبوب خود جرد کوشنر (چشم و چراغِ یک خانواده‌ء ثروتمند یهودی در نیویورک) ازدواج بکند ، ایوانکا در اثر فشار و یا هم برای خوشنودی خانواده‌ء کوشنر به یهودیت گروید ، دونالد ترامپ هم هیچ اعتراضی نکرد ، حالا این زوج سه فرزند دارند ، از سوی دیگر ایوانکا به پدر خود بسیار نزدیک است ، وی در همه امور تجارتی پدرِ ملیاردر اش شریک است و در مبارزات انتخاباتی نیز دوشادوش ترامپ نقش بارز داشت ، رسانه هایی امریکایی بارها چنین منظره‌ء را به نمایش گذاشتند که هرگاه ترامپ نزد حامیان یهودی خود حاضر می شود ایوانکا و پسران وی را نیز با خود می برد ، وی کودک های ایوانکا را در بغل می گیرد و می گوید : ازین بزرگ تر چه دلیلی برای محبت من با اسراییل و یهود می باشد که نواسه های من یهودی هستند ، دختر نازنین ام یهودی است ، داماد من هم یهودی است و شما می دانید که همه خانواده‌ء وی یهودی است .

حالا این دختر و داماد ۹مشاوران رسمی رییس جمهور ترامپ هستند ، دونالد ترامپ به سبب این دختر یهودی خود داماد یهودی اش را از پسران خود هم بیش تر اهمیت می دهد و از همینست که یک گونه رقابت درمیان خانم فعلی ترامپ (میلانیا ۹) و ایوانکا وجود دارد ، یک مثالی برای اینکه ترامپ بر ایوانکا چه اندازه اعتبار دارد اینست که صدر اعظم جاپان شانزوابی در یک سفر رسمی خود به امریکا به تاریخ ۱۸ نومبر ۲۰۱۶م با ترامپ نیز در نیویورک ملاقات نمود ، (در حالیکه ترامپ هنوز سوگند هم یاد نکرده بود ، اما شنزوابی چون به سفر

رسمی آمده بود مناسب دانست با رییس جمهور نو منتخب نیز ببیند)، اما یک واقعیت تکان دهنده برای جهان این بود که ایوانکا در جریان ملاقات حضور داشت ، موجودیت ایوانکا برای وزارت خارجهء جاپان شاید بسیارگران تمام شد اما آن ها به دلایلی سکوت کردند .

عروس اسراییل «ایوانکا» صاحبِ کاخ سفید شد ، نویسندهء مشهور امریکایی آین گریک هالک مقالهء مفصل در یک مجلهء نوشت ، وی در نوشتهء خود از روی آمار و ارقام روشن ساخت که همه مشاورین اصلی و واقعی ترامپ یهودی هستند و آن ها روابط دیرینه و صمیمانه با اسراییل دارند ، این مقاله به عنوان Meet The Jews in Donald Trump's inner Circle به نشر رسید ، مدیر مجله پیش از مقاله یک نوت نوشته است ، وی می گوید : « دونالد ترامپ در حصار یهودیانِ امریکایی و اسراییلی قرار گرفته است ، هم در سیاست ، هم در کاروبار و هم در مشاورت ، وی بدون آن ها یک گام هم برداشته نمی تواند ، می توان گفت که رییس جمهور تازهء امریکا در حقیقت بازیچهء یهودیان گردیده است » ، سپس آین گریک هالک در مقاله اش ازان ده تن نام برده است که رییس جمهور امریکا را در حصار خود گرفته اند ، نامهای آنان ازین قرار است : استیو بینن (استراتژیست ارشد کاخ سفید)، جین گرینبلات (مشاور ترامپ برای اسراییل) ، دیود فریدمین (مشاور ترامپ برای اسراییل)، جرد کوشنر (داماد و مشاور ترامپ) ، ایوانکا ترامپ (دختر و مشاور ترامپ) ، بورس آپشتن (نماینده و مشاور ترامپ در کمپاین انتخاباتی) ، استیفن ملر (مشاور ارشد رییس جمهور ترامپ ۹)، استیون منوچین (وزیر خزانه داری ایالات متحدهء امریکا) ، لیوس آئزن برگ (سفیر امریکا در ایتالیا) و مایکل گاسز (مدیر اجرایی کمپاین انتخاباتی ترامپ)، با در نظرداشت حرفهای که هالک در مورد شخصیت این ده تن نوشته است اگر ترامپ بر پالیسی ها و مشوره های ایشان عمل بکند هرگز سودی برای فلسطین ، خاور میانه و مسلمان های جهان نخواهد داشت ، نیز تلاشی برای خاموش ساختن آتش جنگ در خاور میانه صورت نخواهد گرفت .

ادیوسترمین ، نویسندهء روزنامهء مشهور اسراییلی « دی تایمز آف ازرائیل » در روز انتخابات ریاست جمهوری امریکا نوشته بود : همه رسانه های عبری (یا عبرانی) اسراییل از ترامپ حمایت می کنند ، مطبوعات چاپی و کانال های تلویزیونی این زبان همه تخم های خود را در خریطهء ترامپ انداخته اند ، تعجب آور اینست که حتی دو روزنامهء بزرگ اسراییلی (بدیعوت اخرونوت و هاآرتص) که خود را تنها و تنها پاسداران منافع و ارزش های یهود می دانند نیز از ترامپ حمایت دارند .

بنیامین نتنیاهو نخستین کسی بود که برای ترامپ پس از پیروزی در انتخابات مبارک باد گفت و ترامپ را دوست راستین و صمیمی اسراییل خواند ، ترامپ در جواب گفت : « امروز من برنده نشده ام بلکه برادر شما پیروز شده است » ، نتنیاهو نخستین رهبری بود که از سوی ترامپ به امریکا دعوت شد ، ترامپ در هفتهء اخیر سال ۲۰۱۶م یکبار دیگر الفت و محبت خود را با اسراییل برای جهان به نمایش گذاشت ، سازمان ملل قطعنامهء را به تاریخ ۲۷ دسمبر ۲۰۱۶م با اکثریت آراء به تصویب رسانید که از روی آن شهرک سازی های اسراییل در نوار غربی و منطقهء شرقی القدس خلاف قانون خوانده شد ، وزیر خارجهء آن وقت امریکا جان کیری در تایید آن قطعنامه گفته بود که اسراییل با حرکت های خودسرانهء خود طرح تشکیل دو دولت (اسراییل و فلسطین) را از بین می برد ، اسراییل ازین قطعنامه و حرفهای جان کیری به شدت خشمگین شد و در واکنش امریکا و همه کشورهای را که به تایید آن قطعنامه رای داده بودند شدیداً نکوهش کرد ، اما دونالد ترامپ به حمایت از اسراییل سازمان ملل را به طنز گرفت و گفت : « ملل متحد محلی خوبی برای خوش گذرانی است » ، وی همچنان برای نتنیاهو اطمینان داد و گفت : نتنیاهو ناشکیبای نکند و نه هم حوصله اش را از دست بدهد ، اسراییل خاطرِ جمع داشته باشد.

کلورینۍ پاڼې

دعا وکړه ملنګه!

اکرام الدين مفتون

پرې ننګ وکړه بې ننګه! غـورځېدلی دی پښـتون
پښتونه! سـتا تر څنګه غـورځېدلی دی پښتون

اوس مه وايه بچيانو ته چې چپ شـه پښـتون راغـی
اغـياره! لـه غورځنګـه غـــورځېدلی دی پښـتون

ارواح د غــزنوي بـه پـه ژړا شي کـه آګـاه شـوه
چې نـن صبا لـه جنګـه غورځېـدلی دی پښـتون

اوس ږيره،بريت،شمله او په پښـتو ژبه شــرميږي
له خــپل غيرتي رنګـه غـــورځېدلی دی پښتون

چينچـي د غلامـۍ يې د نفـاق کنـده کې خـوري
د جهــل لــه ګــړنګه غـــورځېدلی دی پښـتون

سـينګار چې يې د تـورې او ټوپـک دی غورځـولی
نـو پښـو تـه دې بدرنګـه غــورځېدلی دی پښـتون

ممکن نه ده چې پاڅي او بيا هاغـه ځای تـه لاړشي
افسـوس له دومـره دنګه غـورځېدلی دی پښـتون

چې پېغلو بـه پـه سـاندو او سـندرو کې سـتايلو
لـه هغـه شـور او شرنګـه غورځېـدلی دی پښـتون

سرتـور پـه تـوره شـپه "مفتونـه" رب تـه پـه ژړا
دعــا وکــړه مــلنګه! غـــورځېدلی دی پښــتون

د سکون ساه

سيد الهام

ته مې په روح، ژبه او زړه تـه مې پـه کـور کې هم
هلـه بـه ويارمـه کـه وې را سره ګـور کـې هـم

پړ يم، نيمګړی يمه، بيا هم بې تـا نـه يم پـوره
څه دی کـه يمه تـر هر چاو زه پـه زور کې هم

که څه هم وژني مې غليم د پاکې ميني پـه تـور
قسم دی اخلم د سکون ساه پدې تـور کـې هـم

نـه تنهـا وروڼـه مـې ښـاغلي پـه تـا سر ور کـوي
د غيرت نښې مـې ليـدلي دي پـه خـور کـې هـم

که خدای کـول نـه بـه يې زور، زر او زاری ماتوي
د الهـام سـپينه عقيـده ده پـه سره اور کـې هـم

ملنګه

اکرام الدین مفتون

قربان دې شم طالبه له قلنګه ملنګه
دنیا دې په سرزورو کړله تنګه ملنګه

مرمۍ دجنګ ډګر کې د سینې کچکول کې غواړې
عجیب توپیر لرې له هر ملنګه ملنګه

زه غواړم چې د سترګو په لېمو کې دې ویده کړم
چې ستړی او خمار راشې له جنګه ملنګه

د مستو حورو عشق کې په طلب د شهادت
خوند اخلې د کړو تورو له شرنګه ملنګه

ولس په تا ډاډه دی رب دې مه اخله زمریه
د ګران هېواد له دشت او له ګړنګه ملنګه

ته دومره هیبتي یې ای د وخت عمري ځوانه
چې هر مغرور دې غورځي له غورځنګه ملنګه

آخ څومره د جهاد او شهادت سره جوړېږي
ځواني دې نازولې ړنګه بنګه ملنګه

ښکلا په تا مئینه ده او ښکلي درته مات دي
د ګل په شان په په خپلو وینو رنګه ملنګه

مفتونه طالب جانه ګوره زه د ستا ښکلا یم
ما مه جدا کوه له خپله څنګه ملنګه

ګرانو زندانیانو!

#الیاس فاتح

هغوی ته ! چې دامت دازادۍ په خاطر د خپل خواږه ژوند ترخې شېبې د بدرنګو زندانونو په غېږ کې تېروي.

دخزان غېږ کې ګلانو هېر مو نه یئ
ای اسیرو طالبانو هېر مو نه یئ
دصلیب د وحشتونو په پنجرو کې
د اسلام د بڼ طوطیانو هېرمو نه یئ
د مرګي په خوله کې هم غلامان نشوئ
په حریت مین ځوانانو هېر مو نه یئ
ستاسو خوږ ژوند د دردونو یو کتاب دی
ای خواږو خواږو دوستانو هېر مو نه یئ
اسلامي امت راویښ ستاسو فریاد کړ
په کفري جېل کې بندیانو هېر مو نه یئ
دزنځیر له شرنګ مو زړه دغربي چوي
دافغان مستو زمریانو هېر مو نه یئ
زولنې مو دازاد ژوندون ثبوت دی
ای خپلواکو شازلمیانو هېر مو نه یئ
هر زحمت مو دمظلوم ملت راحت شو
دردیدلیو او پریشانو هېر مو نه یئ
ستاسې اوښکې به دوخت فرعونیان غرق کړي
دموسی پر لار روانو هېر مو نه یئ
دجالي منتر اثر درباندې نکړي
پاکو کلکو مومنانو هېر مو نه یئ
لېږ لېږ دعا کړي دوطن میندې
درپسې اصلي بچیانو هېر مو نه یئ
په فریب اوپه ډالرو باندې خرڅ شوئ
مسافرو عربانو هېر مو نه یئ
د جواد ملافضل دجېل ملګرو
زمونږ کشرانو او مشرانو هېر مو نه یئ
ستاسې لاسه مو بارود له ځانه تاو کړل
دعافیې خویندو وروانو هېر مو نه یئ
لوراند خدای به مو دهیلو باغ سمسور کړي
په هرځای کې اسیرانو هېر مو نه یئ
درپسې مو نوره مینې لیونۍشوې
زمونږ ګرانو زندانیانو هېر مو نه یئ
هر زندان به دوحشت درپسې مات کړو
دفاتح طالب یارانو هېر مونه یئ

برما ته دمهاجرينو ستنولو

خطرناکه پرېکړه

حسن مومند

دمحترمولوستوالو په علم کې به وي چې په روان کال کې دوحشي-بودايي فوځ او ولسي بودايانو له لورې دبرماپه اراکان ولايت کې روهنگياقبيلې ته دمنسوبو مسلمانانو دقتل عام دنوې خورا خونړۍ لړۍ دپيل کېدو نه پس دخپلو سرونو او غزتونو دساتلو په موخه ديادولايت نه نېږدې ٨ سوه زره مسلمانان بنگله ديش ته په هجرت کولو مجبور شول ؛په بنگله ديش کې ددې مظلومو مسلمانانو ترټولوستر کمپ دنړۍ په سطحه دکډوالو ترټولو ستر او دانساني ژوند لپاره داړينو اسانتياو نه خالي کمپ دی؛دلته ددې مهاجرينو ډېر سخت ژوند دی؛په لږ ځای کې دډېرو انسانانو دراجمع کېدو؛ دخوراکي موادو دکمښت او دصحي اسانتياو دنشتوالي له امله دلته ډول ډول ناروغۍ خپرې شويدي.

گڼ نور مشکلات هم دلته شتون لري خو چې ددوئ ځانونه او عزتونه خوندي دي نو نوبرما ته دتلوپه پرتله دلته په پاتې کېدو او اوسېدوډېر خوښ دي خو له بده مرغه چې دبنگله ديش دولت په خپل هېواد کې داوړدې مودې لپاره ددې مهاجرينو پرېښودو ته ندي چمتو نو ځکه يې دې هېواد ته دبرما نه دراتلونکو مهاجرينو پروړاندې ډېر زيات موانع ايجاد کړيدي او دلته دراغلو مهاجرينو دبېرته لېږلو لپاره هڅې کوي.

پدې لړ کې دبنگله ديش او برما دولتونو ترمنځ يوتازه تړون رامنځته شويدی چې له مخې به يې بنگله ديش ته راغلي ټول مهاجرين بېرته خپل هېواد او خپلو سيمو ته بوتلل کېږي.

په کوم هېواد کې چې مهاجر دمدني حقوقو نه بې برخې وي او هغه هېواد په هيڅ صورت کډوالو ته دتابعيت ورکولو په حق کې نه وي نو په داسې هېواد کې مهاجرين دسختو ستونزو سره مخامخ وي او ډېر دتکليف نه ډک ژوند تېروي.

دبرما دمهاجرينو لپاره بنگله ديش همداسې يو هېواد دی.

دلته دبرما نه راغلي مهاجرين دټولو مدني حقوقو نه بې برخې دي ؛ بيخي ددې اجازه نه ورکول کېږي چې دکمپونو نه بېرون ووځي او دهېواد په نورو سيمو او ښارونوته دمېشت کېدو اوياتجارت په اراده ورشي نو ځکه خپل وطن ته دبېرته ستنېدو خبر ددې مظلومانو لپاره څه بدخبر ندی خو داچې خپل هېواد ته په بېرته ستنېدو کې ددوئ لپاره هيڅ خير نشته بلکې له ځانه سره لوی تاوانونه لري نو ځکه داخبر ددوئ لپاره دغم نه ډک يووېرونکی خبر دی.

تاسې محترمولوستوالوته به معلومه وي چې ددوئ بازارونه او کورونه دلوټ کېدو نه پس ټول سوځول شوي اوپه بشپړه ډول دځمکې سره برابر شويدي او

داوسېدو او کرنيزي ټولې ځمکې يې دولتي شويدي؛دولت اعلان کړيدی چې روهنگيا مسلمان اقليت په برما کې ځمکه نه لري؛کومې ځمکې يې چې کرلې او کومو ځايونو کې چې اوسېدل داټول دبرما ددولت ملکيت دی.

خپل هېواد ته د روهنگيا مسلمانانو دراستنېدو دخبر خپرېدو نه پس داراکان ايالت دکرهنې او مالدارۍ وزير ((کواليواين)) ددولتي تلويزون سره پدې اړه دځانگړې مرکې په ترڅ کې شه په څرگندو تورو وويل چې روهنگيا مسلمان اقليت په قانوني لحاظ ديوې لويشتې ځمکې څښتنان هم نه ندي اونه وو ځکه چې دوئ دبرمادتابعيت هيڅ ډول اسناد نه درلودل او دبرما دتابعيت پرته دلته څوک دځمکې څښتن کېدای نه شي ؛ پدې ايالت کې چې په څومره ځمکو روهنگيا مسلمانانو کورونه جوړ کړيدي او يايې دکرلپاره کارولې ټولې ناقانونه ده نو ځکه ټولې دولتي شوې.

دروهنگيا مسلمانانو ټول جايدادونه چې دولتي شويدي دبنگله ديش نه ستنېدونکي ټول روهنگيا مسلمانان به ددولت داعلان شوي پروگرام له مخې به په خپلې خوښې چرته دمېشت کېدلو حق نه لري بلکې يواځې په هغو کمپونو کې به اوسېږي کوم چې ددولت له لورې دوئ ته جوړ شويدي.

دبرما دولت اعلان کړيدی چې دروهنگيا مسلمانانولپاره له پخوانه جوړشوي دوه کمپونه به بيا ورغول شي اوځلورستر نورکمپونه به هم ددوئ لپاره جوړشي .

دبرما رسنئ وايې چې دهرفاميل لپاره به پدې کمپونوکې يو کوچنی اطاق ځانگړی شوی وي؛دلته شته ټول وگړي به ٢٤ ساعته ددولتي امنيتي ځواکونو ترڅارنې لاندې وي؛دوئ به ددې کمپونو نه بيرون دوتلو اجازه نه لري او که په کوم بل ځای کې دخپلوانو سره څوک دملاقات لپاره تلل وغواړي نو ددې کمپونو ددولتي امنيتي مسئولينو نه به تحريري اجازه اخلي او داجازې اخستلو لپاره په ليکل شوې عريضې کې دملاقات دوجوهو ذکر کولو نه پس به که امنيتي مسئولين مناسب وگڼي دوئ ته اجازه ورکوي.

دبرما مشهور ليکوال ((وان شوای)) پدې اړه په يو ليکلي مضمون کې ليکي چې دبنگله ديش نه ستنېدونکو مهاجرينو ته په اراکان کې دخپلو ړنگ شويو جوماتونو او مدرسو دبيا رغاونې اجازه هم نه ورکول کېږي.

په کمپونو کې دننه که دولت مناسب وگڼي دوئ ته به دمحدودو جوماتونو دجوړولو اجازه ورکړل شي خو دمدرسو جوړولو اجازه به بيخي ونه لري ځکه چې دولت وايي:په مدرسو کې ځوانانو ته دجهاد په اړه معلومات ورکول کېږي.

وان شوای وړاندې ليکي:برما ته دراتلو نه پس به روهنگيا مسلمان اقليت لکه دپخوا په څېر ددې هېواد دتابعيت نه بې برخې وي؛دسختې اړتيا پو صورت کې روغتون ته دتللو او ديو نه بل ځای ته دسفر کولو لپاره به دوئ ته عارضي کارتونه ورکول کېږي.

وان شوای زياتوي چې برما ته راستانه شوي مسلمانانو کې به هره مېرمن يواځې ددوه بچو زېږولو اجازه ولري او ددوه کوچنيانو زېږولو نه پس به دهرې مېرمنې دخېټې نه رحم لرې کولی شي ترڅو دمسلمانانو نسل زيات نه شي.

او ددې لپاره چې دمسلمانانو دنسل راکمول يقيني کړای شي دولت پرېکړه کړيده چې دمسلمانانو دودونو لپاره به ټاکلي عمر کې زياتوالی راولي ترڅو له دې لارې هم ددوئ په نسل کې يو څه کموالی راوستل شي او دژر ودونو کولو له امله دنسل دزياتوالي مخه ونيول شي؛هر څوک به مکلف وي چې دواده لپاره ددولت نه اجازه واخلي او ددولت له اجازې پرته به هر واده ناقانونه گڼل کېږي اومېرمنې اومېړه ته به ددولت له لورې ټاکل شوی سزاورکول کېږي .

که غور وشي نو دبرما او بنگله ديش ددولتونو ترمنځ رامنځته شوی

ترون خورا خطرناک دی؛ددوئ دځانونو او عزتونو دساتنې په اړه دکوم تضمين او ترون پرته بېرته ددوئ برما ته لېږل خپلې قتل گاه ته داستولو او په تمامه معنی ددوئ دنسل ختمولو دپلان پرته په بل شي نه شي تعبيرېدای.

دا خو هماغه برما ده چې پکې دبوداېي ولس او فوځ له لورې ددوئ ټول کلي بازارونه، مدرسې او جوماتونه وسوځول شول؛پکې دځوان، بوډا، نر، ښځې لوي او کوچني دامتياز پرته په لسگونو زره انسانان ووژل شول؛ ژوندي خلک په اور کې وسوځول شول؛ په زرونو مېرمنې بې عفته کړای شوې او گڼ مسلمانان ژوندي ورک شول ؛له بده مرغه چې همدا اوس هم دظلم او جبر دا لړۍ نده تم شوې؛په برما کې پرايسار شويو مسلمانانو اوس هم دفوځ او عامو بوداييانو له لورې حملې رواني دي چې په نړيوالو رسنيو کې هم ددې حملو يادونه کېږي خو څوک پرې غوږ نه گروي او نه دبرما دولت جورنالستان دې سيمو ته پرېږدي .

نو چې هماغه فوځ او هماغه بودايي ولس وي؛هماغه اسلام او مسلمانان دښمني وي ؛بيا ټول مسلمانان يوځای ته راجمع کړای شوي وي او ترځنگ يې ددې اسلام دښمنو داعقيده هم وي چې ددې غريبو او مظلومو انسانانو څوک دپوښتنې کولو نشته نو څوک دا ويلی شي چې دوئ ته به دپخوانه زيات خطرونه ، نه وي متوجې ؛ددوئ دځان او عزت ساتنې په اړه دکوم تضمين او ترون درامنځته کېدو پرته دې دوئ دانسانانو په شکل کې ددې وحشي۔ ځناورو دشر نه خوندي پاتې شي؟

دبرما او بنگله ديش ددولتونو ترمنځ ددې ترون درامنځته کېدو نه پس دملگرو ملتونو اداري ښه په صراحت سره ويلي دي چې برما اوس دبنگله ديش نه دستنېدونکو مسلمانانو لپاره خوندي ځای ندی.

همدا راز دې هېواد ته دملگرو ملتونو ځانگړي استازی پراميلاپاټن ويلي دي چې په برما کې دفوځ له لورې په زرونو مسلمانو مېرمنو په منظم ډول جنسي۔ تېری شويدی او دبرما فوځ جنسي تېری دمسلمانانو دنسل ختمولو لپاره دوسلې په توگه کاروي؛نو څه په يقين سره وايم چې برما ته ورستنېدونکې مېرمنې دفوځ دجنسي۔ حملو دجدي خطر سره مخامخې دي.

عجيبه دا ده چې دملگرو ملتونو اداري برما ته دستنېدونکو مسلمانانو ته دجدي خطرونو يادونه کوي خو دبنگله ديش او برما دولتونه ددې خطرناک اقدام نه،نه منع کوي او نه هم دنړۍ دترټولو مظلومو انسانانو دخونديتوب لپاره کوم ترون او تضمين رامنځته کوي او نه هم دظلم نه دبرما دفوځ دلاس رالنډولو لپاره جدي اقدام کوي.

دامنيت شورا په نوم دملگرو ملتونو ترټولو ځواکمنې اداري دبرما ددولت نه غوښتي دي چې دروهنگيا دمسلمانان روانه ستونزه دې حل کړي خو نور يې هيڅ اقدام کول اړين ندي گڼلي حال دا چې په کوم ځای کې دسترو زبرځواکونو خپل اهداف وي نو پرانسانانو ددې لسمه برخه ظلم نه وي شوی خو بيا هم دا اداره مداخله کوي خو دلته چې دانسانانو پرضد يو بې مثله تاريخي وحشت رامنځته شوی او دالړۍ لا روانه ده نو دا اداره ايله په داسې يوې کمزوري اعلامې جاري کولو اکتفا کوي. نوددې خبرې اشد ضرورت دی اسلامي نړۍ پدې اړه يو نړيوال مؤثر اقدام وکړي او دملگرو ملتونو داداري له لارې په خپل هېواد برما کې دمسلمانانو تابعيت يقين کړای شي؛خپل کورونه بازارونه او جايدادونه ورته ورواپس کړای شي؛په راتلونکي کې ددې مسلمانانو دځان، مال او عزت دساتنې لپاره دبرما دولت متعهد کړي او مسلمانانو ته دخپلو جوماتونو او مدرسو دبيا رغولو اجازه ورکړي.

که اسلامي نړۍ دا کار نه شي کولای نو لږ ترلږه برما ته دې ددوئ دلېږدولو مخه ونيسي؛که بنگله ديش نور ددوئ کوربه توب ته نه وي تيار نو لويه اسلامي دنړۍ ده، په نورو هېوادونو کې دې مېشت کړای شي او خپل دا مهم مسئوليت دې ادا کړي.

صلیب او کلیسا

په ارګ کې

لیکوال: عبد الرحمن مدني

له کله نه چې اشرف غني ته د افغانستان نیمه واک سپارل شوی، له هغه راهیسې د اسلام سپېڅلي دین سره د بې باکانه چلند لړۍ پیل شوې ده، داسې چلند، چې د اسلام د مبین دین سره ګستاخانه او توهیني سلوک بلل کېږي. دا لړۍ بېلابېلې بڼې لري، کله د ګوډ شیطان اتمر د جرأت په بڼه؛ کله د یوې محلي او محدودې ورځپاڼې «افغانستان ایکسپریس» د توهیني لیکنې او کله د مجید قرار غوندي د یو سپک ټوکمار د ټوکو په شکل وي او تر دې ټولو ناوړه او له افغان تاریخ سره په ټکر کې ستره نادوده لا دا ده، چې خپله په ارګ کې د ننه صلیب ته سجدې پیل شوې.

دا هر څه په بې ساري توګه د یوې میاشتې په بهیر کې داسې مسلسل پیل شوي، لکه مخکې له مخکې چې پلان شوي او پروګرام شوي وي، چې ګواکې په تدریج سره به د دین په خلاف د مسلسلې مبارزې په شکل پر مخ وړل کېږي.

له لومړۍ ورځې څخه چې د ولسمشریزو کاندیدانو تر منځ د کمپاین لومړنۍ شیبې وې؛ نو دا خبره هر چېرته تر غوږو کېده، چې ګنې د اشرف غني میرمن عیسوي ده او پخپله اشرف غني هم د خپلې میرمنې د دین څخه د عقیدې تر حده اغېزمن دی. له همدې کبله وه، چې نوموړي د خپلې میرمنې نوم د رولا غني څخه په «بي بي ګل غني» واړاوه او له دې سره جوخت یې دا اوازه هم واچوله، چې ګواکې هغه مسلمانه ده. په دې برخه کې د نوموړي د فیسبوکي کمپاینرانو استدلال دا وو، چې هغې په یوه انتخاباتي غونډه کې د قران کریم څو آیتونه تلاوت کړل؛ نو ګواکې مسلمانه شوې او دې ته یې د اشرف غني د یو بل کمال او لاسته راوړنې په ستر ګه کتل. خو چې کله اشرف د نیمه واک ولسمشر سو، دا دی هر څه په ډاګه سول او هغه دا چې رولا غني اوس هم رولا ده؛ په خپل دین پاتې ده او دا په تاریخ کې لومړۍ ځل دی، چې د افغانستان لومړۍ ښځه یوه نصرانۍ او د بهرني هېواد تبع ده او افغانستان ته تر راتګ مخته یې خپل مېړه او اولاد په خپل رنګ اړولي وو، او هر وخت به یې هغوی له ځانه سره کلیسا ته بېول.

که څه هم په دې وروستیو کې د رولا غني د زامنو له خولې دا را ووتل، چې ډېډي «پلار» به هر وخت د خپلې کورودانې سره کلیسا ته تګ راتګ کاوه؛ خو د دې پته ونه لګېده، چې آیا اشرف غني هم کله رولا د مسجد په لور بیولې او آیا هغې ته یې

هم یو وخت د اسلام د مبین دین دعوت ورکړی او کنه.؟!

که له یوه اړخه خپله اشرف غني په دین کې سست مالومیږي؛ خو ویل کیږي چې رولا غني هم د تعصب او افراطیت تر حده د نصرانیت پیروې ده او په ډیرو تبشیري (عیسویت ته د تبلیغ) مؤسسو کې غړیتوب هم لري او په پام کې لري، چې د همدې مؤسسو له لارې د افغانستان د مظلومو ښځو لپاره اواز اوچت کړي او د هغوی د مظلومیت څخه په استفادې خپل تبشیري عمل لا ګړندی کړي.

د اشرف غني لور او زامنو په اړه تر اوسه هیڅ بحث نه دی شوی؛ خو ویل کیږي چې لور یې یو هنرمنده ده، د لویدیځې نړۍ او د خپلې کورنۍ د بې باکانه ژوند دود له امله، چې کومې جامې اغوندي هغه په هیڅ توګه د افغانستان او افغان کلتور نمایندګي نه کوي.

دا خو نو اوس معلومه خبره ده، چې د افغانستان لومړۍ میرمن یوه متعصبه نصرانۍ ده؛ خو په دې اړخ تر اوسه چا رڼا نه ده اچولې، چې دغه متعصبه نصرانۍ به خپل عبادت چیري ادا کوي. ځکه افغانستان کې خو د لویدیځ په څېر کلیساوې نشته، چې اشرف غني به پکې خپله کورودانه په موټر کې د کلیسا تر دروازو رسوي، داسې چې ښځه به یې موټر کې سپره کړې وه، غاړه په غاړه به د کلیسا مخته ودریدل او د کلیسا د پاپ څخه به یې د پیسو په بدل کې د خپلو تیرو ګناوو د بخښنې چیک اخیست، اوس په دې وطن کې هغه کلیسا چېرته وي او متعصبه نصرانۍ به خپل عبادت چیري ادا کوي.

رولا غني له بي بي سي سره په یوه وروستۍ مرکه کې، چې په انګریزي یې خبرې کولې، په دوه مخي سره وویل، چې ټول د یو خدای عبادت کوو، خو هر سړی یې په خپل طرز او طریقه باندې کوي او په دې یې اعتراف وکړ، چې اوس هم نصرانۍ ده، مطلب د تثلیث یا دریو خدایانو معتقده ده؛ خو دا یې ونه ویل چې اخر، دا به دا خپل عبادت چیرته کوي.

له کله نه، چې اوسنی نیمه ولسمشر اشرف غني ته د لومړي ځل لپاره په دیموکراتیکه توګه قدرت انتقال شوی، له دې سره جوخت د «لومړۍ ځل» تکرار هم زیات شوی. د ساري په توګه، د لومړي ځل لپاره یو حکومت دوې کابینې چلوي، د لومړي ځل لپاره نیم افغانستان یو تن ولسمشر بولي او دوهمه نیمایي یې یا د بل ولسمشر اتباع دي.

خیر دا «سیاسي لومړي ځلونه» به نه تکراروم؛ خو د لومړي ځل لپاره د تیري جونز پلویانو په یوه افغانۍ ورځپاڼه کې الله، د هغه رسول او د هغه دین او شریعت ته سپکاوی وکړ او د هغه تر مخه د لومړي ځل لپاره د ولسمشر د امنیتي سلاکار په توګه یو لوړ رتبه مامور د دې جراأت وکړ، چې د اسلام مبین دین ته منسوب مدارسو او ادارو د بندولو ګوابښ وکړي او له هغه وروسته د لومړي ځل لپاره په دین ملنډې وهونکی کس امریکا ته وتښتول کیږي او هلته داسې خبرو ته هڅول کیږي، چې په پوره صراحت او وقاحت سره د الله جل جلاله په انصاف باندې نیوکه کوي او د فیسبوک د مشر مارک زوکبرګ انصاف د الله جل جلاله تر انصاف پورته بولي او وایي چې فیسبوک ښځې ته هغه حق ورکړی چې الله پاک نه دی ورکړی، او ښځه یې د سړي په نیمایي کړې. (نعوذبالله(

د «لومړي ځل» دا تکرار بالاخیره موږ تر دې را رسوي، چې د لومړي ځل لپاره د افغانستان «لومړۍ میرمن» نصرانۍ ده، د

«لومړي ځل» لپاره د ارګ استوګنه مېرمن «نصراني د »ه، په «لومړي ځل» به ارګ ته صلیب د عبادت لپاره ننوزي او د «لومړي ځل» لپاره به په ارګ کې کلیسا جوړېږي او دا چې د کلیسا چلول بې پاپه ناشوني دي، نو لنډه دا چې په «لومړي ځل» به په ارګ کې پاپ هم استوګن کېږي او دا لړۍ به تر دې پورې لا غځېږي، چې په «لومړي ځل» به د ارګ په انګړ کې په خلاص مټ، ښکاره یا پټ د صلیب عبادت کېږي.

باید ووایم، چې په ګوګل کې له لږ پلټنې وروسته ماته دا معلومه شوه. چې په افغانستان کې تر اوس مهاله په رسمي بڼه یوه کلیسا هم نشته، وروستۍ کلیسا د ۲۰۱۰ کال په مارچ میاشت کې ړنګه شوې او له هغه راهیسې کلیساوې یوازې د امریکایي ځواکونو تر نظامي مرکزونو، پې آر تي ګانو او سفارتونو پورې محدودې شوې دي. کوم وخت چې دا پیښه وسوه، له هغه راهیسې د صلیب پیروانو او تبشیري مؤسسو ته هم ځمکه سره تبۍ ګرځېدلې. هغوی خو دا فکر کاوو، چې د امریکایي پوځیانو په شتون او د امریکا په شمول د ټولي غربي او شرقي نړۍ تبشیري مؤسسې به په دې وتوانیږي، چې اقلاً د کابل رنګ بدل کاندي او د کابل مسجدونه په کلیساوو بدل کړي، خو د ډېرو لاملونو له کبله چې عمده یې د افغان ولس پر اسلام مینتوب او کلکه عقیده ده، هغوی ونه وتوانیدل چې په خپلو په شومو اهدافو کې بریالي شي، بلکې هغه زوړ حال هم پر خپل حال پاته نشو او هغه یوازینۍ کلیسا هم، چې نصرانیان به د عبادت لپاره ورتلل، ونړول شول، ځکه نو دوی له هغې ورځې راهیسې د یو داسي کس په لټه شول، چې د دې هر څه د کولو وړتیا ولري، همدا وړتیاوې یې ټولې په اشرف غني کې وموندلې، هغه څوک چې ښځه یې نصرانۍ ده، خپله هم د نصرانیت څخه د عقیدې تر حده متاثره دی او دا هم ورته مهمه نه ده چې اولاد یې د اسلام لاره غوره کوي او که د نصرانیت؛ له همدې کبله یې نو په نوموړي پیسې ولګولې، هغه یې د نړۍ دوهم ستر مفکر او د ورانو او ویجاړو هیوادونو دبیا رغوني مسیحا ونوماوه او له ده څخه یې د افغانانو په نظر داسي یو جادوګر جوړ کړ، چې د افغانستان ټولې مسئلې به په یوه چومنتر حل او هر څه به ګل وګلزار کړي؛ خو اصلي هدف یې ارګ ته صلیب دننه کول، په ارګ کې کلیسا جوړول او د صلیب لپاره د ارګ څخه کمپاین پیلول وو، تر څو خو یو له یوه اړخه د افغان ولس څخه انتقام واخلي، او دا ورته ووایي چې تاسو کلیسا په کندهار، هرات، کابل او مزار کې نه پرېښوده او آن د کابل وروستۍ او یوازینۍ کلیسا مو هم ونړوله، نو مونږ به همدا کلیسا ستاسو د واکمنو په زړونو کې، ستاسو د واکمنو په بسترو کې، ستاسو د واکمنو په کورونو کې او ستاسو د واکمنو په ماڼیو کې جوړې کړو، تر څو ستاسو «اشراف» د صلیب سره عادي شوي نه وي، تاسو ورسره هېڅکله نه عادي کېږئ.

او تر څو وکولای شي، چې صلیب ته تبلیغ په اسانۍ سره وکړلای شي او د افغاني ټولنې اساس چې ښځې او میرمنې جوړوي، پر هغوی باندي هم په رسمي ډول د «لومړۍ میرمنې» په سرپرستي کار پیل کړي او د هغو له لاري د هغوی په اولادونو او خاوندانو باندي کار وکړي.

دوه تقاعد شوي سپي

او دوه برحاله وزیران ....!!

موسی فرهاد

آوازه ده چې په لویدیځه نړۍ کې ډېر مهذب، متمدن او بشردوسته وګړي ژوند کوي. هغوی نه یوازې د انسان بلکې د حیوان حق هم ښه پیژني ، له همدې ځایه ده چې په کلچر او فطرت کې یې د ظلم په نوم څه نشته. د دې بریالي صفت د ثبوت لپاره هغوی کله نا کله د دریېمي یا وروسته پاتي نړۍ انسانانو ته عجیبې او غریبې بیلګې هم وړاندې کوي. چې یوه یې همدا د دوو متقاعدو سپیو د ژوند ژغورلو واقعه ده. کیسه به یې په راتلونکو پیراګرافونو کې ولولئ ، خو تر مخکې به یې لږ دې ته متوجه شو چې آیا رښتیا هم لویدیځوال همدومره مهذب، سیولایزډ، او د بشر خواخوږي دي..؟

په دا نژدې یوه پیړۍ کې د پیښو شویو بشري واقعاتو په اړه چې تاریخونه موږ لولو ؛ رابښیي چې بشریت ته ورپیښې ټولې ناخوالې د همدې لویدیځوالو له لاسه رامنځ ته شوي، په اټم بم انسانان دوی وژلي ، په عالمي جنګونو کې ناحسابه خلک د دوی له لاسه ورک شوي، د استعمار او پراختیا غوښتنې په موخه انسانیت د دوی له لاسه کړیدلی، په اقتصادي استثمار بشریت له قحط او لوږې سره دوی مخ کړی، د آزادۍ او دیموکراسۍ په نوم د بشریت فطري خپلواکۍ او حریت دوی له منځه وړی ، د تروریزم تر لیبل لاندې د مسلمان ټکوني لوبه همدوی پیل کړې، د زروږ وسلو په نوم تاریخي عراق دوی په جهنم بدل کړی، د منځني ختیځ ناپایه غمیزې د دوی له لاسه دوام موندلی، د ناین ایلیون د معمایي چاودني په پلمه افغانستان دوی اشغال کړ چې تر دوه سوه زره زیات بې ګناه انسانان یې له ژونده محروم کړل. په بحرو بر کې د وحشي زندانونو ایجاد د همدوی ابتکار دی ، په سپیو انسانان داړل او جامې ترې ایستل د همدوی ناانساني کلچر دی . دا او دې ته ورته نوري بې شمېره ناخوالي چې را وسپړل شي ټولي د همدې لویدیځوالو له لاسه را پیدا دي او لا هم ادامه لري.

مګر له دې ټولو بشري فجایعو سره سره ، بیا هم لویدیځوالو ته ځانونه د نړۍ پرمخ مهذب او انسان دوسته مخلوق ښکاري ځکه چې د دوو جنګي سپیانو ژوند یې ژغورلی دی .....!!!؟؟

د ډیلي ټیلګراف ورځپاڼې، « د سپیو ژوند وژغورل شو»، تر سرلیک لاندې یو راپور کښلی او وایي چې په هلمند کې میشت بریطانوي عسکرو له ځان سره پوځي سپي هم درلودل ، چې د انسان داړني او ماین پاکوني لپاره یې کار ترې اخیسته، دوه سپې یې چې یو کیون Kevin او بل ډز Dazz نومیږي څلور کاله وړاندې

له خپلي پوځي دندی تقاعد شول ، بریطانیا ته واستول شول ، هلته یې د سپیو په سرکاري استوګنځای کې په داسی حال کې واچول چې سمه پالنه یې نه کیدله ، نژدي وو چې مړه یا مریضان شي. او له مریضی وروسته به ورته وژونکي ستني لګیږي.

د دوی په مرسته یو عسکر Andy McNab را اوچت شو احتجاج یې وکړ، د ۳۷۰،۰۰۰ درې لکه اویا زره خلکو لاسلیکونه یې له ځان سره واخیستل چې باید د سپیانو ژوند وژغورل شي.

له یادې پیښې خارجه وزیر Sir Alan Duncan او دفاع وزیر Gavin Williamson خبر شول فوراً یې مداخله وکړه او د سپیو له حاله یې له نژدې ځان آګاه کړ ، د ستونزې د فوري حل لپاره یې ټول حکومت په حرکت راوست . د سپیو د ژوند ژغورني دنده یې مخ ته بوتله. بالآخره یې سپیانو ته د اکسیجن تابیا وکړه او نور ټول هغه لوازم چې ورته اړتیا یې وه ؛ مهیا کړل. او ژوند یې وژغورل شو.

دفاع وزیر یې احتجاج کوونکو ته داسي ډاډ ورکړ :

"We're going to ensure they have a "We'll do everything we golden future," can to look after animals that form such an important part of the military Said, Defense Secretary Gavin family." Williamson.

موږ هڅه کوو چې دوی (سپییان) یو زرین راتلونکی ولري. موږ به هره هغه څه وکړو چې کولای یې شو او د دوی پالنه به د یو پوځي د فامیل په شان وکړو.

همدا رنګه د بهرنیو امورو وزیر آلن ډانکن داسی وایی :

Hero dogs who saved lives in Afghanistan due to be put down in Melton's Defence Animal Centre in my constituency, though there are experienced handlers willing to look after them. Even my dog Noodle says "Save the army hero dogs!"

هغه اتلوال سپي چې په افغانستان کې یې د ډېرو خلکو ژوند وژغوره ؛ نژدې دي چې دلته د ملیټن په هغه پوځي مرکز کې چې ځاروي پکي ساتل کیږي؛ خپل ژوند له لاسه ورکړي. د سپیانو د ساتني دا پوځي مرکز په هغه سیمه کې دی چې زه ورسره تړاو لرم. که څه هم هلته ډېر باتجربه د سپیو ساتونکي شته ، حتی زما خپل سپی نوډل Noodle ماته وایی چې باید د دغو اتلوالو پوځي سپیانو ژوند وژغورئ.!

ورځپاڼه وایی چې د خارجه امورو وزیر سر آلن ډانکن وویل :

"They can now enjoy a very happy Duncan and well deserved retirement." said.

اوس هغوی کولای شي چې خوشحاله ژوند ولري او د ریټایرمینټ یا تقاعدۍ له ټولو امتیازاتو به برخمن وي.

د غربي کفارو د منافقت او دوه مخۍ ټولي نښې له دا ډول نمایشي بیلګو نه ښه څرګندیږي چې په نړۍ کې د انسانیت د وینو ویالي د دوی له لاسه بهیږي خو دلته بیا د دوو مردارخورو حیوانانو په اړه دومره نمایشي ډرامې رغوي. مسلمانان باید همیشه د لویدځوالو کفارو له حیواني او ابلیسي فطرته آګاه واوسي. ترڅو یې له شره د ځان ساتلو تابیا وکړای شي.

پای



مرکه کوونکی: ابوعابد

د افغانستان د روان وضعیت په اړه له لیکوال او شنونکي

ښاغلي سید سعید صاحب سره مرکه

یادونــــه

ښاغلی سید سعید صاحب زموږ د هیـواد ځـوان لیکـوال او د روانـو حـالاتو څـارونکی تحلیـل ګـر دی. نومـوړي د افغانستان د روانو سیاسي موضوعاتو په اړه ګڼ شمیر مقالې په بیلابیلو مجلو او ویب پاڼو کې خپرې کړي دي. محترم سعید صاحب په جګړه کې د ملکي وګړو مرګ ژوبلو او جنګي جنایاتو ته ځانګړې پاملرنه لري او په موضوع یې ډیرې مقالې لیکلي دي. دا چې اوس په هیواد کې د امریکایانو لخوا یو ځل بیا ړندې بمبارۍ او بریدونـه زیـات شـوي او ورسره د ملکـي خلکو تلفات هم زیات شوي دي د موضوع د اهمیت له امله مو له ښاغلي سید سعید صاحب سره مرکه کړې چې ستاسو پام ورته راګرځوو.

پوښتنه

که په پیل کې د هیواد د روان وضعیت په اړه خپل نظـر راسره شریـک کـړئ، څـو میاشـتې وړانـدې د امریکایي ولسمشر د نوې جنګي ستراتیژۍ له اعلان سره په هیواد کې د دښمن پوځي تحرکات او بمبارونه زیات شوي دي، څه فکر کوئ آیا د امریکایي ستراتیژۍ د بریا کوم څرک ښکاري او کنه؟

ځواب

امریکـایي یرغلګـر افغانسـتان کـې د یـوه نیمې لسیزې ښکېلتیا او ناکامي جګړې وروسته لا هـم دلتـه د بریا خوبویني، ګومان کوي چې پـه یـوه اوبلـه حربـه او ستراتیژۍ به خپل اهداف ترلاسه کړي، خو دافغانسـتان تاریخ او د پردیو پرضد دافغانانو ټینګ مقامت ته په پام سره امریکا به هم د نورو اشغالګرو په څېر له ماتي سره مواجه کیـږي. پـه ځـانګړې توګـه د افغانسـتان لپـاره د ټرمپ نوې جنګي ستراتیژي له پیله په ماته محکومه ده، ځکـه د دې سـتراتیژۍ مهمـه برخـه د څـو زرو پوځیـانو رالیـږل او دهـوایي بریدونـه زیاتیـدل دي، د پوځیـانو او بریدونو ډیرښت کومه نوې خبره اوداسي څه نه دي چې مجاهــدین دي ورسره نابلــده وي، لــه ۲۰۰۹-۲۰۱۴ میلادي په افغانستان کې یو نیم لک یرغلګر عسکر او تر دې لکه زیات قراردادي ټوپکیان د بلک واټر او نورو کمپنیو په چوکاټ کې موجود وو، خو نه یوازې داچې

مجاهدین یې کمزوري نه کړل، بلکې دیرغلګرو تلفات ورسره ډېر شول ، نو اوس که یو ځل بیا تښتیدلي یرغلګر عسکر راځي، بېله شکه په تلفاتو کې به یې زیاتوالی راځي، که وګورو په تېرو درو میاشتو کې چې د یرغلګرو تحرکات نسبي زیات شوي، ورسره ددوی ځاني او محاربوي زیانونه هم ډېر شوي دي، د بېلګې په توګه په کندهار او کابل کې پریرغلګرو فدایي بریدونه چې ډېر زیان یې ورته ورساوه او په لوګر کې د یرغلګرو د لوېې چولکې نسکوریدل چې لسګونه عسکر پکې ووژل شول، همدارنګه دهیواد په نورو برخو کې هم د یرغلګرو زیانونه زیات شوي دي.

ډېره د پام وړ داده چې د یرغلګرو د نوې ستراتیژۍ سره چې دهیواد په کومو برخو کې دداخلي عسکرو سره یرغلګرو ګډ عملیات کړي، په پرله پسې دول له ماتي مخامخ شوي دي،دمثال په توګه په کندوز او هلمند کې اشغالګرو عسکرو دداخلي عسکرو سره په ګډه عملیات وکړل،خو بې له دې چې له تلفاتو سره مخ شي کومه لاسته راوړنه یې نه ده ترلاسه کړې. البته د یرغلګرو په هوایي بریدونو کې ولسي زیانونه زیات شوي او پراخ مالي زیانونه هم رامنځته شوي دي. برعکس مجاهدینو ددښمن د هوایي او ځکنیو عملیاتو سربیره دهیواد په مختلفو سیمو او سمتونو کې ډېري سیمي فتحه کړې او حتی دولسوالیو مرکزونه یې هم ونیول، د بېلګې په توګه دمعروف، شیبکوه او شلګر ولسوالۍ یادولای شو.

که دیرغل په خلاف د روان جهادي مقاومت استقامت ته وکتل شي، دټرمپ نوې او نوري ستراتیژۍ به د بوش او اوباما دستراتیژیو په څېر ناکامه وي. تېره یوه نیمه لسیزه کې یرغلګرو دروان جهادي پاځون دخاموش کولو په موخه کومه دسیسه او ستراتیژي ونه کاروله او له کوم وحشت او بربریت څخه یې مخ واړاوه؟ چې اوس دڅو زره عسکرو په رالیږلو او دهوایي حملو په ډیرولو سره د بریا خیال پلونه وهي. امریکایان نور باید خپلې سرټمبګۍ ته دوام ورنه کړي،خپل عسکر له افغانستانه وباسي،افغانان پرېږدي چې دخپلې خوښې سره سم نظام جوړ کړي.

پوښتنه

تاسو د روانې جګړې په لړ کې د عامو خلکو حالت او بشري وضعیت څارئ، د امریکا د نوې یرغلیزې پالیسۍ سره د عامو خلکو د مرګ ژوبلو کچه په څه حالت کې ده؟

ځواب

دټرمپ د نوې جنګي ستراتیژۍ سره بشري وضعیت ډیر خراب شوی،د هیواد په بیلابیلو سیمو کې د یرغلګرو او ګډ حکومت په شپنیو چاپو، بمبارونو او مخامخ بریدونو کې خلګو ته پراخ ځاني اومالي تاوانونه اوښتي دي، ښځې، ماشومان او بوډاګان شهیدان شوي، ګڼ شمېر خلګ بندي شوي، تهدید شوي او په مختلفو شکلونو ربړول شوي دي.دخلګو کورونه، مسجدونه، مدرسې، بازارونه او نور دخلګو د راټولیدو ځای کیدو ځایونه بمبار شوي او ویجاړ شوي دي.د ساري په ډول دې وروستیو کې اشغالګرو دهلمند دموسی کلا ولسوالۍ په مربوطاتو کې ښایسته بازار ویجاړ او د خوراکي توکو او رختونو دوکانونو ته یې اور واچاوه.همدارزا د یرغلګرو د نوې ستراتیژۍ له اعلان سره دهیواد په بیلابیلو برخو کې خلګ په مختلفو ډولونو ځورل شوي او لوټ شوي دي.

پوښتنه

د اولسي مرګ ژوبلو د څو تازه پيښو ځينې نمونې او ارقام که راسره شريک کړئ، مهرباني به مو وي؟

ځواب

د نومبر په ۴مه د غزني ولايت د ګيرو ولسوالۍ مرکز ته نژدې داخلي عسکرو په سيمه کې بمبار کړی، په بمبار کې اته تنه ملکي وګړي شهيدان اوټپيان شوي دي.

دنومبر په ۹مه دفراه ولايت دخاکسفيد ولسوالۍ دننګ اباد بازار اوشاوخوا کليوباندي يرغلګرو بمبار کړی،په يادشوي بمبار کې دوه ويشت تنه ولسي- هيوادوال شهيدان او ټپيان شوي او ګڼ شمېر کورونه تخريب شوي..

دنومبر په ۱۹مه دهلمندولايت دموسی کلا ولسوالۍ مرکز ته څيرمه يرغلګرو دملکي خلکوپه کورونو بمبار کړی، په بمبار کې اووه کورونه تخريب شوي اوديوې کورنۍ لس تنه غړي(ښځي ماشومان اونارينه) شهيدان شوي دي..

د نومبر په ۳۰مه د هلمند ولايت دسنګين ولسوالۍ دمالمند بازار سيمه کې يرغلګرو دچاپې په مهال اووه تنه ولسي وګړي شهيدان کړي او شپږ نفره بنديان کړي دي.

داکتوبر په ۱۲مه رسنيو دولسي جرګې د ځينو غړو او عيني شاهدانو له قوله خبر ورکړ چې: دکونړ ولايت دڅوکۍ ولسوالۍ په ګلدرې سيمه باندي د يرغلګرو په بمبار کې دوه کورونه ويجاړ شوي او څوارلس تنه ملکي هيوادوال د ښځو اوماشومانو په ګډون شهيدان شوي دي.

د اکتوبر په ١٦مه د ننګرهار ولايت د پچيرآګام ولسوالۍ په لاندي صبر سيمه کې يرغلګرو دداخلي عسکرو په ملګرتيادخلګو په کورونو چاپه وهلې، خلګ يې وهلي، دکورونو دروازې يې په بمونو الوزولي او په اخر کې يې پر سيمه بمبار کړی، بمبار کې اته تنه ملکي هيوادوال چې ښځې او ماشومان هم پکې وو شهيدان شوي دي.

داکتوبر په ۲۳مه د ننګرهار ولايت دغني خيلو ولسوالۍ په نهه ويشتم وياله سيمه کې اشغالګرو او داخلي عسکرو د ملکي خلکو په کورونو چاپه وهلې،په دغه چاپه کې د يوې کورنۍ اووه تنه غړي چې ټول وروڼه او داکا زامن وو شهيدان شوي،همدارازدچاپې په مهال دکورونو دروازې ماتې شوي، قيمتي توکي تري تم شوي او خلګ وهل شوي دي.

پوښتنه

تاسو وويل چې د امريکايانو د بمبارونو، چاپو او ډرون بريدونو له امله ولسي- خلکو ته ډير زيانونه رسيدلي، دغه ډول وحشيانه کړنې څه پايلې درلودلی شي؟

ځواب

پښتو کې متل دی: په زور کلي نه کيږي،د زور او جبر له لاري واکمني بقا نه لري، اشغالګر او دغني اداره ګومان کوي چې د زور او وحشت په توسط به خپلو موخو ته ورسيږي،خو دې ته فکر نه کوي چې روسانو او داخلي کمونستانو همدا د زور او وحشت فارموله په خورا زور سره وکاروله، مګر نتيجه يې نه يوازي داچې افغانستان کې يې پښې تينګې نشواى کړاى، بلکي پيرۍ وړاندي چې روسانو کومي مځکي غصب کړي وې

هماغه یې لاهم لاسه ووتلې. دامریکایي اشغالګرو وحشت به نور هم ددوی په خلاف روان جهادي پاڅون غښتلی کړي،خلګو کې به دانتقام جذبه پیاوړې کړي اوپای به دنورو یرغلګرو په څېر مات سر له افغانستانه تښتي.

پوښتنه

ویل کیږي چې د اشرف غني حکومت د دیني شعائرو په خاص ډول د دیني علماء کرامو، داعیانو دغه راز د دیني اماکنو لکه مدارسو او کلیوالي حجرو د تهدید او فعالیت بندولو کار هم پیل کړی دی او په دې برخه کې په زهرجنو تبلیغاتو سربیره یي یو شمیر بریدونه هم ترسره کړي په دې اړه ستاسو معلومات څه دي؟

ځواب

بلې! دې وروستیو کې پر دیني مدرسو او عالمانو بریدونه ډیر شوي،څو بېلګې یې چې زموږ لاسته راغلي په لاندي ډول دي،واقعي ارقام او پیښې ښایې تر دې هم ډیري وي.

دنومبر په ۱۷مه د لوګر ولایت د خرخ ولسوالۍ په ملاعلیم کلي کې اشغالګرو د داخلي عسکرو په ملتیاچاپه وهلې،دوې مدرسې او کورونه یې تلاشي کړي او دمدرسې د زده کونکو په ګډون یې پنځه تنه ولسي-وګړي بندیان کړي دي

دنومبر په ۲۰مه د ننګرهار ولایت د شیرزادو ولسوالۍ مرکیخېلو سیمه کې اشغالګرو د داخلي عسکرو په ملتیا چاپه وهلې،یوتن دیني عالم (مولوي صاحب شیریندل) یې شهید کړی او درې تنه نور ملکي وګړي یې بندیان کړي دي.

دنومبر په ۲۲ مه د میدان وردګ ولایت د نرخ ولسوالۍ په عمر خیلو کلي کې یرغلګرو او داخلي عسکرو پر یوې دیني مدرسې چاپه وهلې، دځایې خلګو په ویناګډو ځواکونو اته تنه واړه طالبان او حافظان راټول کړي، دېوال ته یې کښېنولي او بیا پر سر- سر ویشتلي دي.

دنومبر په ۲۶مه یرغلګرو ځواکونو د لغمان ولایت د قرغیو ولسوالۍ په چار باغ او امبیړسیمو کې دیو دیني عالم په ګډون پنځه تنه ولسي وګړي شهیدان کړي او درې نفره بندیان کړي دي

داکتوبر په ۲۲مه دزابل ولایت دشاجوی اونوبهار ولسوالیوترمنځ دلوړمرغې دغټ بټخیلو په سیمه کې یرغلګرو پر یو مسجد بمبار کړی، درې تنه طالب العلمان یې پکې شهیدان کړي او په پنځه تنه کلیوال یې بندیان کړي دي.

د سپټمبر په ۱۷مه د غزني ولایت ده یک ولسوالۍ په بالای سیمه کې داخلي عسکرو یو دیني عالم (عبدالهادي اخندزاده) شهید کړی او یو زوی او میرمن یې ور ټپیان کړي دي.

دې ته ورته نورې هم ډیرې پیښې شوي دي چې دښمن د مدارسو او دیني مراکزو د بندولو او وحشت خپرولو په غرض ظالمانه عملیات کړي وي او یا یې هم طالبان او علماء کرامو پرته له دلیله بندیان یا شهیدان کړي وي، چې دغسې اعمال ددوی په ښکاره اسلام دښمنۍ دلالت کوي.

پوښتنه

ولې اشرف غني د دیني تفکر او اسلامپالو په وړاندې دښمنانه بریدونه پیل کړي، آیا دا یو تصادف دی

او که د اشغالگرو د یوه طرح شوي پلان له مخې دغه عملیه پر مخ وړل کیږي؟

ځواب

تاسي ته بهتره معلومه ده چې ښکېلاکګر یوزاي د سیمو په نیولو بسنه نه کوي، دوی غواړي چې په یرغمل کړې مځکه کې خلک دزور اوزر له لارې له خپلو معتقداتو څخه منحرف کړي،له خپل اصیل کلتور څخه یې واړوي او په پایله کې یو داسي نسل وروزي چې پیدایښت او دژوند دټولو چارو مصرف یې دلته شوي وي، خو ګټې داستعمار ورته لومړیتوب ولري. زه فکر کوم دا دیرغلګرو خورا مهم پلان دی چې ددیني مدرسو، عالمانو او داعیانو دفعالیت مخه ونیسي، خو په تدریج سره،مګر داچې دې پیښو اوس زور اخیستی ګومان کوم له دیني تعلیماتو او افغانیت سره داشرف غني او اتمر دښمني او دلادینیت او امریکایتوب سره ددوی دوستي مهم رول پکې لري.

پوښتنه

ستاسو په نظر د امریکایي وحشیانه ستراتیژۍ او د اشرف غني د اسلام ضد چلند په وړاندې د ټولنې د بیلابیلو قشرونو مسؤلیت څه دی؟ زموږ علماء کرام، پوهان، محصلین، ځوانان او عام خلک باید څه وکړي؟

ځواب

موږ ټول الحمدالله مسلمانان یو.د ټولنې ټولو اقشارو په اسلام پوري لاسونه نیولي دي. اسلام زموږ د نجات هغه مقدس څلی دی،چې موږ ته یې عزت راپه برخه کړی دی، له ډیروناخوالو یې نجات راکړی او له ځنګلي ژوند څخه یې یوه مهذبه ټولنه راته جوړه کړې ده.موږ داسلامي شعایرو،دیني ارزښتونو، ملي منافعو، ارضي تمامیت اوخپلواکۍ څخه د دفاع مبارزه جاري ساتلې اوپه دې سپېڅلې مبارزه کې دټولنې ټولو اقوامو او اقشارو برخه اخیستې ده.اوس چې زموږ په پاکه خاوره کې دټرمپ او اشرف غني په مشري ددیني مقدساتو او ځایونو سپکاوی کیږي، دیني علماء او داعیان ځورول کیږي، د ټولنې دټولو اقشارو مسؤلیت اوحق دی چې ددې کرغیړن عمل پر ضد عکس العمل وښیې،ددین او وطن ددښمن پر ضد وسله واله مقابله وکړي،قلمي مبارزه ترسره کړي او حد اقل لارو او ښارونو ته راووځي،مظاهرې وکړي او دیرغلګرو اوکابل رژیم روان وحشت په سختو ټکو وغندي.

پوښتنه

یو شمیر خلک هغوی چې ځیني خپل ځانونه د فکر او قلم څښتنان هم بولي او هر وخت د هیواد او اولس سره د مینې او تعهد ډېرې په سینه ټکوي، مګر د هیواد په اوسنی بحراني وضعیت کې چوپ یا بې طرفه پاته دي او یا هم په یوه شکل د اشکالو د اشغالګرو په پلوي موقف نیسي. تاسو دوی ته څه ویل غواړئ او تاریخ به د دوی په اړه څه حکم کوي؟

ځواب

داچې ځیني خلګ افغانستان کې دکفر او اسلام ترمنځ روان جنګ فقط د طالب پر ضد جګړه ګڼي، ځان بې طرفه ګڼې او یا دیرغل ملاتړ کوي،په ډېره لویه اشتباه کې لویدلي دي،ځکه داخو ترلمر روښانه ده چې امریکا پر افغانستان ناروا یرغل کړی دی، دلته یې په لکونو خلګ شهیدان او ټپیان کړي، په لسګونو زره یې بندیان کړي او په مختلفو بڼو ځورولي دي، کیمیایي وسلې او فاسپورس زهرجن مواد یې کارولي چې له امله یې زموږ ژوند،ګټو او چاپیریال ته لوی زیان اوښتی

دی. دداسي دښمن په وړاندي چې ستاخاوره یې غصب کړې وي، وینه یې توی کړې وي،خپلواکي یې سلب کړې وي،دیني او ملي ارزښتونو یې تر پښو لاندي کړي وي،چوپ او بې طرفه پاته کیدل دخپل دین، خاوري او ولس سره ستره جفا ده،د پردیو څخه خپله ازادي اخیستل شرعي او فطري حق دی،د اسلام اوکفر ترمنځ مقابله کې بې طرفي څه معنی؟، دلته خو دوه جهته موجود دي ،حق اوباطل، قران کریم هم دغه تقسیم کړی، دحق پلویان یې حزب الله او دباطل طرفداران یې حزب الشیطان نومولي.د صلیبي جګړې سر اعلی قوماندان (جورج بوش) هم وویل چې دوه ډلي دي،یابه له موږ سره ملګري کیږئ او یابه له تروریستانو(داسلام ددفاعي ځواک مجاهدینو)سره دریمه(بې طرفي) پکې نشته.ای دکفر اواسلام ترمنځ جګړه کې بې طرفه !افغانستان یوازي دطالب دی، اسلام یوازي دطالب دی، ته برخه نه پکې لرې؟، که ځان برخمن پکې بولې نوبیا ولي بې طرفي اختیاره وې، یرغلګرو کفارو خو هم پراسلام برید کړی او هم یې افغانستان لاندي کړی دی.

اوهغه کسان چې دیرغلګرو ملاتړ کوي، دوی دي د خلقیانو اوپرچمیانو او تر هغوی مخکي د لاتیانو له تور برخلیک څخه وډاریږي، چې په دنیا کې یې جنازه اوفاتحه ونشوه او خلګ یې په خپلوی شرمیږي او په اخرت کې به د یرغلګرو کافرانو سره یوځای راپورته کیږي.

پوښتنه

په آخره کې که د مجلې لوستونکو ته کوم مشخص پیغام لرئ هیله ده راسره شریک یې کړئ

لوستونکي دحق اوباطل ترمنځ روانه جګړه کې باید محتاط واوسي،دښمن دروان پاک جهاد دبدنامی لپاره ډیري حربې په کار اچولي، په سلګونو بریښنایې او چاپې رسنی یې جوړی کړي او په ډیرو لویومصارفو یې د پوهانو او متخصیصنو په نوم خپلو ګټو ته ژمن کسان پکې ګومارلي، همدغه کسان شپه او ورځ لګیا دي روان مقدس جهاد ته د پردیو ګټو او نیابتي جګړې نوم ورکوي او په مختلفو بڼو دیرغلګرو ناروا شتون ته دمشروعیت دلایل تراشي.دوی په خپلو پروګرامونو،ویناوو او لیکنو کې د ځوانانو دبې لارې هڅې کوي،غربي کلتور ته یې هڅوي،پر خپلو معتقداتو یې بې باوره کوي، اسلام او دیني ارزښتونه دوروسته پاته والي اسباب ګڼي او په تېره جهاد، خپلواکي، دیني علماء او مرکزونه دانتهاپسندی لاملونه بولي.لوستونکي دمجاهدینو نشرات باید تعقیب کړي،ددښمن په پروپاګند باور ونه کړي، په کوه موضوع کې چې مجاهدینو خپل موقف نه وي اعلان کړي، انتظار وکړي، په غلطو تاویلاتو پسي-ولاړ نشي-، ددیني علماوو، پوهانو او دیني ارزښتونو اوملي ګټو ته ژمنو هیوادوالو سره خپله راشه درشه جاري وساتي.په ځانګړې توګه مې د طالب العلمانو او محصلینو څخه غوښتنه داده چې دخپلو درسي کتابونو دمطالعې ترڅنګ بنوي سیرت، صلیبي جنګونه،داسلام او افغانستان تاریخ هم مطالعه کړي.

ـ ډیره مننه! محترم حافظ صاحب چې وخت مو راکړ او زموږ پوښتنو ته مو ځواب ووایه

ـ له تاسو هم مننه کوم، بریالي اوسئ...

داسلامي سرمشريزې له ستيـجه

د يو مؤثر غـړ زوړ !

فرهاد ...

په ترکيه کې د دسمبر په ۱۳مه نيټه داسلامي هېوادو ولسمشرانو او بهرنيو چارو وزيرانو بيړنۍ ناسته وکړه او په پای کې د ۵۷ اسلامي هېوادو د استازو له لوري په يوه ګډه اعلاميه

کې راغلي: اشغال شوي بيت المقدس په اړه دامريکا دولسمشر نوی اعلان په حقيقت کې دامنيت کوښښونه سبوتاژ کول دي، بناً امريکا بايد منځي ختيځ کې دامنيت راوستلو لړ کې خپل کردار پای ته ورسوي ،په اعلاميه کې په نړيواله ورولۍ غږ شوی چې ټول هېوادونه دې بيت المقدس دفلسطين دپلازمينې په توګه اومني.

داسلامي هيوادو يادې بيړنۍ سرمشريزې په اعلاميه کې له نړيوالې ټولنې چې کومه غوښتنه شوې، په اړه يې رسنيو کې له بېلابېلو زاويو څخه بحثونه او نظرونه روان دي، دځينو په اند: په ټوله کې دا ديو مثبت حرکت غږ دی او داسې ښنې ترستر ګو کېږي چې داسلامي هېواد سازمان يا تنظيم په دغه ګام پورته کولو سره له اوږده ځنډ وروسته دخپل جوړښت اصلي هدف ته د ژوند ورکولو نوې تاييا لري او يوځل بيا له دې ستيجه داسلام او مسلمانانو ديوې اجتماعې ستونزې دحلولو په باب مؤثر غږ واريدل شو دکتونکو په اند: دې خت کې داغږ هم له غنيمت نه کم ندی، خوښکاره ده چې دبيت المقدس ستونزه دومره ساده او اسانه هم نده چې بس ديوې اعلاميې په خپرولو به سره حل وفصل شي او يهودان او امريکابه دخپلو شومو اغراضو او ارادو نه ژر په شا شي او يا داستنبول اسلامي سرمشريزه رابلل به پر بيت المقدس ديهودانو دکلي سلطې او قبضې په وړاندې خنډ او مانع شي

اوس مهال داکتل دي چې ايا امريکا داسلامي نړۍ ددې اجتماعي دريځ په وړاندې څه غبرګون ښيي؟ ايا هغه دنرمښت مظاهره کوي که پخپلو عزايمو او ارادو باندې دټينګار، ضد او عناد کوي، خو دامريکا مزاج او فطرت ته په کتو په دې اړه دکومې خوشبينۍ تمه پکار نده، او نه دامريکا په پلان او اراده کې دکوم تغير او بدلون توقع ګټه لري ځکه امريکا تل په اسلامي هېوادو او د دريمې نړۍ

پر واکمنو دمختلفو نومونو او عنوانو په پلمه خپلې ارادې او پالیسۍ تحمیلوي دې لړ کې دامریکا تاریخ ګواه دی چې هیڅ ډول مصالحت او یا مفاهمت دریځ نه غوره کوي په دې صورت کې به اسلامي هېوادونه دیته اړوي چې سرچپه داسلامي نړۍ په دریځ او موقف دامریکا قانع کولو لپاره له نرمښت او مصالحت کار واخلي



لیکن د اسلامي کانفرانس سازمان سره بل غوره چانس دا شته چې دبیت المقدس په خلاف دیهودو د سیسو او سازشونو دمستقل حل لارې چارې اولټوي او خدای دې نکړي که دا ځل هم دغه ناستې او غونډې دنشستند ګفتند برخاستند مصداق شوې په نړۍ کې به دمسلمانانو لپاره بدمرغه پایلې ولري او له امله به یې اسلامي امت دزوال او بربادیو کندې ته پریوزي دکومې تصور چې هم مسلمانانو ته زړه بوږنوونکی دی

هو ! په کوم درد او فکر چې داسلامي هېوادو استازو دا بیړنۍ ناسته وکړه په خاصه توګه دنیمې څخه دزیاتو هېوادو ولسمشرانو ګډون او دبهرنیو چارو دوزیرانو شرکت داحساس قوي کړ چې اسلامي هېوادونه دخپلمنځي وحدت ، اتفاق او هماهنګۍ په روحیه دیو بل په غم و درد کې ځانونه شریک بولي، په دې سره دنړۍ استعماري هېوادو ته باور پکار دی چې نړۍ کې دروانې ترهګرۍ ریښې دامریکا او اسرایل سره تړلې دي چې دمخنیوي مسؤلیت یې دټولې نړۍ په غاړه دی

ولې نن ورځ ټوله نړۍ دسر په سترګو ګوري چې دټرمپ ددې فیصلې په خلاف نړۍ کې نه یوازې مسلمانان احتجاجونه اولاریونونه کوي بلکې د نړۍ ټول د ازاد فکر، دخپلواک ضمیر او فراست خاوندان په دغو لاریونو او احتجاجونو کې ونډه او ګډون لري او دامریکا د ناوړه اعلان پرضد دکرکې او ناراضایت اظهار کوي ټرمپ، اسرایل او امریکا غندي امریکا ته احساس پکار دی چې اسلامي نړۍ ته بیت المقدس یوازې دفلسطین دپلازمینې په توګه دمنلو او قناعت وړ دی له دې پرته بله هره پریکړه ورته دمنلو او قناعت وړنده او بل هر پلان او تصمیم په کلکه ردوي.

امریکا له لومړي سره په بیت المقدس دیهودانو دقبضې لپاره هغوی ته مختلفې اسانتیاوې برابرې کړې هغه ښکاره دي له امله یې مسلمانان په دې باور کولو مجبور دي چې ترڅو په منځني ختیځ کې دامریکا له لوري روانه لاسوهنه او مداخله پای ته رسیدلې نه وي ترڅو اسلامي ارزښتونو او مقدساتو ته پیښ ګواښونه او خطرات له منځه وړل شوي نه وي، ترهغې ټولې روانې هلې ځلې هیڅ کومه نتیجه نه ورکوي ، بس په منځني ختیځ کې دامنیت او ثبات

راتلو لپاره اړتیاده چې امریکا هلته خپل کردار پای ته ورسوي او له ټولو لاسوهنو او شررتونو څخه لاس په سرشي او د فلسطین خلک دې پرېږدي چې هغوی ځانو لپاره د خپلې خوښې ممثل نظام او حکومت جوړ کړي

که څه هم د اسلامي هېوادو د سرمشریزې په دې نظر او تجویز عمل ناشونی بریښي خو شک نشته چې په دې باندې په عمل کولو کې د نړۍ او بشـریت د بقـا راز مضـمر دی هغـه ټـولنې او سـازمانونه چـې بشـري ارزښـتونو او قوانینوتـه احترام لري هغوی ته پکار دی چې د اسلامي نړۍ سره اوږه په اوږه ودرېږي او د امریکـا او اسـرایل دنـاروا کـردار او عمـل مخنیـوی وکـړي دبیـت المقدس د تولیت واک د تاریخي، دیني او قـانوني پلوه د مسـلمانانو حـق دی او د نړۍ هـیڅ ځـواک نشـي کـولی چـې مسـلمانان د خپـل حق نـه محروم کـړي خو مسـلمانانو تـه پکـار دي چې هغـوی په رښـتیا د زړه نـه مسـلمانان شـي غمیـزه داده چـې اسـتعماري قومونـو د مسـلمانانو څخـه د ایمـان جذبه، غیرت او حمیت تروړلی او د پوهې باوجود د مسلمانانو اکثریت د هغوی په لومو کې نښتي او د مسـلمانانو همـدا بـې عملـي د مسـلمانانو د ناکامۍ وجه ده، د دې ناروغۍ درمل لټول پکار دي او دیني ارزښتونو او احکـامو بانـدې مکمـل عمـل پکـار دی د حـالاتو د بـدلون لپـاره د اسبابو کـارولو ترڅنګ د روحاني اعمالو لورتـه هم توجه پکـار ده انشـاءالله بیـا د بـري پړاو نیـږدې دی او شـته مسافت به ژر قطع شي...

طالبان
ولی د چهارشنبې په ورځ سبق شروع کوي؟

عام خلګ هم باید د خیر د کارو شروع د چهار شنبې په ورځ وکړي.

في تعليم المتعلم: كان الاستاذ الشيخ الامام برهان الدين يوقف بداية السبق على يوم الاربعاء، و كان يروى في ذالک حديثا و يقول: قال رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ما من شئ بدئ في يوم الاربعاء الا و قد تم، و هكذا كان يفعل ابوحنيفة رَحِمَهُ ٱللَّهُ، و سمعت من اثق به أن الشيخ يوسف الهندواني يوقف كل عمل من اعمال الخير على يوم الاربعاء، و هذا يوم خلق فيه النور، وهو يوم نحس في حق الكفار، فيكون مباركا للمؤمنين. خزانة الروايات ص ٨]

ژباړه: په تعلیم المتعلم کښې راغلی چې: امام برهان الدین د سبق شروع تر چهارشنبې تر ورځې پورې موقوفه کول، په دغه باره کې یې یو حدیث روایت کوی چې: رسول الله علیه وسلم فرمایلی دي چې (هر هغه شی چې د چهار شنبې په ورځ شروع سي، هغه به پای ته رسیږي)

د امام ابوحنیفه رح هم دغه عمل ؤ، ما د ځینو هغه کسانو څخه اوریدلی چې زه ورباندې اعتماد لرم چې شیخ یوسف الهندواني به هر د خیر کار شروع د چهار شنبې تر ورځې پورې موقوفه کول، چهارشنبه د نور د پیدا ایښت ورځ ده، دغه ورځ د کفارو په حق کې بد بخته خو د مسلمانانو په حق مبارکه ده.

سعد کټوازی

زموږ ساده ولس د نوي، وروسته او سبا

اصطلاحاتو په دام کې

ښايي پورتنی سرليک به په ځينو ډيرښه ونه لګيږي؛ خو د يو تريخ حقيقت په منلو او له هغه څخه په تعبير کې د داسي اطلاقاتو له کاروني پرته چاره نه وي، اول خو د يومؤمن لپاره سادګي د هغه د ايمان نښه وي او بيا زموږ مظلوم او کړيدلي خو ميړني ولس په همدې سادګی د پرلپسي سرښندنو او قربانيو په ترڅ کې تيرې امپراطورۍ ړنګي او استعمارونه يې را وپرځول او د هغو واکمنانو ته يې د سر په کاسه کې اوبه ور کړې، نو سادګي په خپل ذات کې ښه او د ستايني وړ صفت دی چې زموږ ولس ترې سرشاره دی؛ خو دا هم بايد ومنو چې همدغو امپراطورانو او استعمارچيانو د هغه وخت د ځينو غولونکو اصطلاحاتو تر سيوري لاندې د خپل راتلونکې خلف په توګه زموږ د ولس بچيان په خپل فکر وروزل او لاسپوڅي يې کړل چې اوس هغوی خاورې شوي خو په هيواد کې د هغوی ارمانونه همدغه لاسپوڅي خاورې کيدوته نه پريږدي.

هو! په پرديو اصطلاحاتو غوليدلي که څه هم ټول ولس نه بلکي همدغه ګوتشميره کسان دي؛ خو دا چې دې بې سواده، نا اهله، بي ضميره او بي وجدانه نسل د ولس له منځه سر را پورته کړی او په خته افغان ولس دی؛ په عامه سطح يې ټول ولس د دوی په بي ننګۍ ور سره رنګ کړی چې بيا هيڅ يو افغان ته چاپه ښه نه کتل؛ هغه ولس چې خپل هيواد يې د امپراطوريو او د هغو د ځيره خورو چوپړيانو په هديره بدل کړ او د همدوی په را پرځولو سرلوړی شو.

په هيواد کې د طالبانو له راتګ سره سم چې ولس لږ د ارام خوب يووړ پرې نابېره غربي امپراطورۍ سر را ښکاره کړ، دوی هم د ځينې اصطلاحاتو دام و غوړا و چې د هغه له مخې يې د لاسپوڅو په پاتې شونو لا زياته پانګونه وکړه او سيکولران يې هم پرې را پيدا کړل.

له هغو څخه يو هم د «نوي/نوښت» اصطلاح ده، «نوی/نوښت» په رښتيا هم چې له اوريدلو سره سم يې د هر وګړي په ذهن کې د هغه د تمې سره سم د مثبتو او يا چې هغه له کوم ګواښ سره مخ کوي د هغه په اړه منفي خيالونو د يوې نوې دنيا دروازه خلاصيږي تمه دومره ورسره پراخه او ځواکمنيږي چې هسې پوره کيدلو ته يې شيبي شماري او د ژمن شخص نازونه او منتونه په ځان وړي.

خو د ګواښ په صورت کې له «نوي/نوښت» څخه له تمي پورته ويره احساسوي، زموږ ولس چې په ډيرحساس وخت کې قرار درلود د تمي او ګواښ تر منځ په راتلو او وار خطايي سره يې دوکه وخوړه، د نوښت غږ يې د تمي پله درنه او ګواښ يې ترې هير کړ، او اوس د تيرو۱۷ کلونو ور اوښتو زيانونو ثابته کړه چې دغه نوښت هغه ته نه يواځي ګواښ بلکي لا ستر ټکان يې هم ورکړ.

دا په داسي حال کې چې ولس ته لا له مخکي د برم ځلو ديني عالمانو اوجهادي مشرانو لکه؛ مرحوم مولوي محمدنبي محمدي، مرحوم مولوي محمديونس خالص (بابا)، شهيدمولوي نصرالله منصور، مرحوم ملا محمدعمر مجاهد

او...دا وړاندوينې کړې وې چې زموږ شوروي ضد ملاتړي که امريکاده اوکه نور زموږ د ولس اوهيواد په ګټه نوښت نه غواړي، او بيا ولس وليدل چې د لوی نوښتګر مشر ملا محمد عمر مجاهد په مشرۍ اسلامي امارت مو هيواد او ولس د رېښتيني نوښت په لور روان اوخه نوښتونه يې را منځ ته هم کړل؛ خو د يادو مشرانو له وړاندوينو سره سم د شوروي ضد ملاتړو له خواه له منځه يوړل شول او نور يې مخه ډب شوه.

هغه وخت رښتياهم يوه نوې داوه چې دپردي نمکو پاتي شونو ته يې يو نوی روح ور کړ اوبله داوه چې دولس د شوروي ضد ملګري د هغه دارام دغه خوب په ترهګري تعبيرکړ او پرې د يوې بلې خونړۍ امپراطوري په بڼه را و ګرځيد ترڅو يې هيواد، ملي شتمنۍ ، ارزښتونه او هرڅه ترکومي تير او اسلامي نظام ور ړنګ کړي؛ له شکه پرته دغه تعبير نوی او د نړۍ د ټولو ژبو په قاموس کې يې د نويو تعبيرونو يو ډير نادر باب خلاص کړ.

بس د دوی تر دې اصطلاح لاندې همدغه دوه نوې وې نور يې ولس ته له غولونې پرته د ښيرازۍ هيڅ نوښت له ځان سره نه درلود، بلکې په دې نوم يې دريښتيني نوښت مخه نيولې وه، اوداځکه چې يو خو اوس هر چاته معلومه ده چې د نن امپراطوران او استعمارچيان په هر حقيقت او واقعيت د هغه سرچپه نوم ږدي، او بل دا چې امپراطوري په خپل ذات کې هيڅ نوښت نه لري، ولس خو د همدغو امپراطوريو رانسکورولو اوپرې ريښتيني نوښت ترلاسه کولو سترې کړې و او بيا لکه چې مو وويل د رواني امپراطوري وړاندويني هم ورته شوې وې.

د «نوي» له اصطلاح سره يې د «وروسته/سبا» اصطلاح هم جوړه، او جوګه کړه، داسې چې ددوی په اصطلاح «نوی» سبا لري د هغه انتظار شرط دی پرته له انتظاره نه دغه سبا راځي نه دغه نوښت، دغه اصطلاح هم له لومړۍ څخه کمه نه وه، بلکې له هغې سره په جوړه کولو خو د ډيرې لويې بلا په شکل واوښته.

که لنډ و وايم کله چې د «نوي/نوښت» زيری وشو او راتګ يې «وروسته/سبا» شو، نو «وروسته/سبا» ډير (۱۷کاله) وخت واخست او تر هغه پورې ډير ضد او نقيض پړاونه را منځته شول، له يو لوري پکې ډير زيانونه واوښتل را واوښتل او وګالل شول او له بل لوري همدغه «وروسته/سبا» پکې د وخت د غوښتنو او شرائطو په پلمه عنقاشو.

اوس نو ولس ته دوه لارې پاتې دي يابه نورهم د دې عنقا په تمه همداسې ترږندو بمباريو لاندې شپې ورځې سبا کوي او يابه دريښتيني هغه نوښت د ترلاسه کولو لپاره په خپله لاس په کار کيږي چې۱۷کاله مخکې دهغه په لور روان شوی و، ياني د امپراطوري او استعمار نړول او د يو سوچه اسلامي نظام او حکومت را وستل.

نو زموږ ولس که بيا هم د ټرمپ د «نوي» په نوم ستراتيژي د «نوښت» په تمه د هغه ړانده او شپني نازونه (بمبارۍ او چاپې) پر ځان وړي ستر زيانونه به نور وويني.

ولس نور بايد درک کړي وي چې د دروغي نوښت ورځ چې دا له۱۷کاله راسې سبا نه لري ۱۷۰۰کاله يې نور هم نشي لرلای، هسې په يوه تپل شوې لوبه کې په ډيره لوړه کچه زيانونه را وښتل.

د نن امپراطوران د خپلې امپراطوري په پايښت کې له يو اړخه بل ته د اوښتلو او د جګړې نوي رنګ لکه؛ اربکيزم پروژه، امنيتي تړون، نيمه انخلاء، د واک انتقال، داعشيزم، دقواو زياتولوياعام وژنو پراخولو ته د نوې پاليسي- نوې ډيپلوماسي ، نوي ستراتيژي او...نومونه ور کوي يواځې د دې تحميلي لوبې تسلسل، په يو او بل رنګ همغه د امپراطوري د پيل زړې عام وژنې زياتول او هغو ته لار اوارول دي اوبس، يا نې د «نوي» اصطلاح اوس د دوی تکيه کلام دی چې د زړو د رنګ بدلولو لپاره يې کاروي، نوښت عنقا دی څوک يې نه پيژني.

مسلمانان

ولې سترې او ستونزمن ژوند لري؟

مولوي عبدالرحمن

د دنیا په ژوند کې عموما مسلمانان له ډول ډول مصیبتونو او مشکلاتو سره لاس او ګریوان وي او کافران بیا په عیش او عشرت، امن او امان کې ژوند کوي. د ژوند له هر ډول هوسایي څخه برخمن وي، دا یو داسې کیفیت دی چې عوام لا څه بلکې ځینې خواصو ته یې هم دا سوال پیدا کړی چې څه وجه ده، چې مسلمانان په دې نړۍ کې په داسې مصیبتونو کې راګیر دي چې کافرانو په خوب هم نه دي لیدلي. لکه فقر او غربت، د کافرانو له طرفه وهل، ټکول او سوځول، بندي کول او په مختلفو طریقو تکلیفېدل او تعذیبېدل او داسې نور.

او کافران بیا په هغو ډول ډول نعمتونو او راحتونو کې اوسېږي، چې مسلمانانو یې تصور هم نه وي کړی. په کار خو دا وه چې الله تعالی مسلمانان له دنیوي ستونزو څخه ژغورلي وای او هر ډول اړتیاوې یې ورپوره کړې وای، ځکه دوی د الله تعالی دوستان دي او دوست خو د خپل دوست لپاره خیرخوا وي او کافران یې باید په مصیبتونو او مشکلاتو کې مبتلاء کړي وای ځکه دوی د الله تعالی دښمنان دي.

د دې سوال د ځواب څخه وړاندې د دوو خبرو یادونه په کار ده.

لومړی: داسې سوالونه له خپل دین څخه د غفلت او خپل اسلامي تاریخ څخه د ناخبرتیا له کبله پیدا کیږي. کنه د داسې سوالونو او ځوابونو هیڅ اړتیا نه پیدا کیده.

دوهم: د مصیبت معنی. په دنیا کې په انسان ځینې داسې حالات راځي چې دده له طبعیت او مزاج سره موافق وي دې ته نعمت وایي. او ځینې بیا داسې حالات ورباندې راځي چې دده له طبیعت او مزاج سره مخالف وي. دې ته مشکل او مصیبت وایي. نو د پورتني سوال لپاره مختلف ځوابونه شته.

اول

مصیبتونه او مشکلات له ایمان سره لازم دي. کوم بنده چې د الله تعالی پر وحدانیت او د خپل رسول په رسالت باندې یقین وکړ، هغه بیا الله تعالی صرف د آمنت یا آمنا په کلمه نه پرېږدي. بلکې په ده باندې مصائب راولي تر څو دده د صدق او کذب، اخلاص او نفاق اظهار خلکو ته وکړي. لکه څنګه چې په لوی قرآن کې الله تعالی ددې ښکاره بیان کړی دی:

أَحَسِبَ النَّاسُ أَن يُتْرَكُوا أَن يَقُولُوا آمَنَّا وَهُمْ لَا يُفْتَنُونَ (٢ (وَلَقَدْ فَتَنَّا الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَلَيَعْلَمَنَّ اللَّهُ الَّذِينَ صَدَقُوا وَلَيَعْلَمَنَّ الْكَاذِبِينَ(٣)

ژباړه : آیاګومان کوي دا خلک د دې چې پرې به ښودل شي دوی په همدې قدر چې دوی ووايي موږ ايمان راوړی دی او دوی نه ازمويل کيږي. او خامخا موږ ازمويلي وو هغه کسان چې له دوی څخه روميي وو نو خامخا به الله تعالی معلوم کړي(په علم ظاهري سره هم) هغه کسان چې رښتيني دي(په دعوه د ايمان کې) او خامخا به معلوم کړي دروغجنان.

مفسرين حضرات د دې دوو آيتونو په تفسير کې وايي. يعنی په ژبه سره د ايمان دعوه کول کافي نه ده.هرڅوک چې د ايمان دعوه کوي نو امتحان او ابتلاء ته دې هم تيار شي. تفسير کابلي٥٣٩ صفحه دوهم جلد، سورة العنکبوت.

دوهم

الله تعالی دا قضاء او فيصله په ازل کې کړې، چې مسلمانان به جنت ته ځي د چا په زړه کې چې ذره د ايمان وي د هغه ځای به جنت وي، خو هغه څوک جنت ته تلای شي چې له هر ډول ګناه څخه پاک او صاف وي.په دې اړه علامه عبدالرؤف مناوي رحمه الله په فيض القدير کې داسې وايي. لان الله حرم الجنة علی من في قلبه خبث فلايدخلها الا بعد طيبه و طهره فانها دار الطيبين. فيض القدير جـ ٢ صـ ٣٢٩ ـ ژباړه: ځکه چې الله تعالی جنت حرام کړی دی په هر هغه شخص باندې چې په زړه کې يې خيري(ګناهونه) وي. نو له پاکي پرته يې نه ورداخلوي ځکه جنت د پاکو خلکو کور دی.

نو ددې دوهم ځواب حاصل دادی چې الله تعالی په مسلمانانو باندې د دنيا په ژوند کې مصيبتونه او مشکلات راولي چې د ګناهونو کفاره يې شي. او له الله تعالی سره يې په داسې حال کې ملاقات وشي چې له ګناهونو څخه پاک او صاف وي. لکه څنګه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي.

لا يزال البلاء بالمؤمن في نفسه وماله وولده حتی يلقی الله وما عليه من خطيئة. رواه الترمذی.

ژباړه د مؤمن نارينه او ښځينه په ځان، مال او اولاد کې تر هغو ستونزې او مشکلات راځي چې کله يې له الله تعالی سره ملاقات کيږي په داسې حال کې چې هيڅ ګناه يې نه وي.

همدا ډول علامه عبدالرؤف مناوي رحمه الله فرمايي: فمن طهر فی الدنيا من البلايا والمصائب و لقی الله طاهرا من خبثه دخلها بغير تعوق. فيض القدير جـ ٢ ضـ ٣٢٩. ژباړه : څوک چې په دنيا کې د مصيبتونو او مشکلاتو په سبب له ګناهونو څخه پاک شي او له الله تعالی سره يې ملاقات په داسې حال کې وشي چې پاک وي، جنت ته به داخل شي بې له ځنډه.

دريم

مصيبتونه او مشکلات کله مسلمان ته راځي چې د ده درجې پرې لوړې شي، عمل يې د هغې مرتبې ور نه وي نو الله تعالی يې په مصيبتونو کې راګير کړي چې تر هغه بلندې مرتبې او درجې پورې يې ورسوي. لکه څرنګه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي.

ان العبد اذا سبقت له من الله منزلة لم يبلغها بعمله ابتلاه الله فی جسده او في ماله او في ولده ثم صبره علی ذالک حتی يبلغه المنزلة التی سبقت له من الله.(رواه احمد و ابوداود.

مشکوة المصابیح کتاب الجنائز باب عیادة المریض)

ژباړه: یقینا یو بنده ته چې د الله تعالی لخوا یوه مرتبه وړاندې معلومه شوې وي او هغې مرتبې ته په خپل عمل سره نه شي رسیدلی نو الله تعالی هغه بنده په خپل بدن یا مال یا اولاد کې ازمويي بیا صبر هم پرې ورکوي تر څو دی هغې مرتبې ته ورسوي کومه چې د الله تعالی لخوا ورته مقرره وي.

همدا ډول علامه عبدالرؤف مناوی رحمه الله فرمایي: و فیه اشعار بأن للبلاء خاصة في نیل الثواب لیس للطاعة و ان جلت مثلها و لذالک کان ما یصیب الانبیاء اشد بلاء. فیض القدیر شرح جامع الصغیر.

ژباړه: له پورتنې حدیث څخه معلومه شوه چې په ځینو مشکلاتو کې داسې خاصې وي چې په لویو لویو عباداتو او طاعاتو کې هم نه وي، همدا وجه ده چې انبیاء کرامو ته سخت سخت مشکلات راځي.

څلورم

کله بیا پر مسلمانانو باندې، مصیبتونه په دنیا کې راځي څو د دوی لپاره سزا او جزاء وي. دا سزا ورکول په دنیا کې هم د دوی لپاره خیر دی. ځکه په دې سزا د آخرت له عذابه ژغورل کیږي. لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:اذا اراد الله بعبده الخیر عجل له العقوبة فی الدنیا و اذا اراد الله بعبده الشر أمسک عنه بذنبه حتی یوافی به یوم القیامة. (رواه الترمذي)

ژباړه: که یو چا ته د الله تعالی د خیر اراده وي، نو ژر په دنیا کې لا سزا ورکوي او کوم بنده ته چې د الله تعالی د خیر اراده نه وي، نو له ګناه سره سره یې سزا آخرت ته ځنډوي، چې بیا په هغه دنیا پوره سزا ورکوي.

ددې ځوابونو خلاصه دا شوه چې الله تعالی په دې دنیا کې کوم مصیبتونه په مسلمانانو راولي، دا یو کرامت او رحمت دی، ځکه کومې فایدې چې یې موږ بیان کړې هغه ټولې د مسلمانانو په ګټه تماميږي. لکه څرنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: ان الله لیبتلی المؤمن و ما یبتلیه الا لکرامته علیه.

ژباړه: یقینا الله تعالی پر مؤمن مصیبتونه او مشکلات راولي خو دا مصیبتونه پر ده نه راولي مګر په سبب د کرامت دده پر الله تعالی.

یعنې مؤمن پر الله تعالی باندې ګران دی نو ځکه مصائب او مشکلات ورباندې راولي.

فایده

علماء حضراتو لیکلو دي چې د مصیبتونو فضیلت خو زیات دی. البته په خپله یې سوال نه کوي. بلکې که الله تعالی ورباندې راوستل نو صبر به پرې کوي. ځکه موږ ته د مصیبتونو د غوښتلو امر نه دی شوی. بلکې د عفوې غوښتلو امر راته شوی دی. په دې اړه علامه عبدالرؤف مناوي رحمه الله داسې وایي:و فیه فضل الابتلاء و لایلزم من طلبه، بل المأمور به طلب العفو و العافیة کما فی الاخبار مر بعضها و یأتی بعضها. فیض القدیر ۳۲۹/۲

ژباړه: له پورتنې حدیث څخه د ابتلاء او مصیبت فضیلت معلوم شو. خو غوښتنه یې لازمي نه ده. بلکې عافیت یا نجات غوښتنه ځینې ضروري دي. ځکه مأمور به طلب دعافیت دی. همدارنګه په احادیثو کې دي چې ځینې یې تیر شول او ځینې به راشي. او پاته شول کافران هغه خو هیڅ قدر او عزت په الله تعالی باندې نلري. او نه الله تعالی غواړي چې دوی له ګناهونو څخه

پاک کړي. بلکې په دنیا کې یې چې څه نیک کارونه کړي وي د هغو بدله الله تعالی په دنیا کې ورکوي. نو ځکه یې په دوی د نعمتونو دروازې راخلاصې کړې وي. چې د دوی ټول ارمانونه ورپوره کړي او آخرت ته یې هیڅ نیکي پاته نه شي. په دې اړه امام قشیري رحمه الله داسې وایي: لیس کل احد اهلا للبلاء لان البلاء لارباب الولاء و اما أجانب فیتجاوز عنهم و یخلی سبیلهم لا لکرامة محلهم و لکن لحقارة قدرهم.ژباړه: هرڅوک د ابتلاء اهلیت نلري، ابتلاء الله تعالی پر خپلو محبوبو بندګانو راولي، پاته شول پردي خلک هغو ته الله تعالی درګذر کوي او لار یې خلاصه پریږدي. په دې سبب نه چې دوی د الله تعالی په نزد مکرم دي. بلکې په دې سبب چې هیڅ قدر یې پر الله تعالی نشته.

په مسلمانانو کې څوک ډېر ازمویل کیږي؟

په مسلمانانو کې ډېر مصیبتونه پر هغه چا راځي چې ایمان او دین یې محکم او کلک وي. او د چا چې بیا ایمان ضعیف وي پر هغه آسانه تکلیفونه او مصیبتونه راځي. نو د ایمان په اندازه یې مصیبتونه او تکلیفونه وي. په دې اړه رسول الله صلی الله علیه وسلم داسې فرمایلي دي. يُبْتَلَى الرَّجُلُ عَلَى حَسَبِ دِينِهِ، فَإِنْ كَانَ دِينُهُ صُلْبًا اشْتَدَّ بَلَاؤُهُ ، وَإِنْ كَانَ فِي دِينِهِ رِقَّةٌ ابْتُلِيَعَلَى حَسَبِ دِينِهِ ، فَمَا يَبْرَحُ الْبَلَاءُ بِالْعَبْدِ حَتَّى يَتْرُكَهُ يَمْشِي عَلَى الْأَرْضِ مَا عَلَيْهِ خَطِيئَةٌ(رواه الترمذي)

ژباړه: یو شخص د خپل دین په اندازه ازمویل کیږي.که په دین کې سخت او محکم وي امتحان یې هم سخت وي او که په دین کې یې نرمي وي، ابتلاء او امتحان یې هم آسانه وي او دا تر هغه پورې وي چې په ځمکه کې روان وي او هیڅ ګناه نلري.

#بې ارزښته پاچاهي!!!

علامه جلال الدین سیوطي رحمه الله په خپل کتاب (تاریخ الخلفاء کي لیکي : یو وخت ابن سماک رحمه الله د خلیفه هارون رشید په دربار کي ناست ؤ ، په همدغه وخت کي خلیفه د اوبو څښلو غوښتنه وکړه ، کله چي خدمتګار اوبه راوړې ، نو ابن سماک رحمه الله خپل مخ د هارون رشید طرف ته واړاوه او ورته وې ویل : اې امیرالمؤمنینه ! مخکي تر دې چي اوبه دي وڅښې ، لومړی یوې پوښتني ته ځواب راکړه ، پوښتنه داده:

که چیري تاسو ته اوبه در نه کړل سي ، نو په څومره قیمت اخیستلو ته یې تیار یې؟

هارون رشید ځواب ورکړ : په خپله نیمه پاچاهي!

ابن سماک رحمه الله بیا ورڅخه وپوښتل : صاحبه! دا راته ووایه که د بدن څخه د اوبو په وتلو کي له مشکل سره مخامخ سوې ، نو څه به وکړې؟

هارون رشید ځواب ورکړ : ښایي ددغي ستونزي د لیري کولو په بدل کي خپله ټوله پادشاهي ورکړم.

ابن سماک رحمه الله وویل : اې امیرالمؤمنینه ! هغه حکومت او پاچاهي چي ارزښت یې د یوه غوړپ اوبو او بولو برابر وي ، هیڅکله ددې وړ نه ده چي خاص ارزښت ور کړل سي او تا د اخرت له یاده چي تل ترتله دی، لیري کړي ،. صاحبه ! په ټولو معاملاتو کي له ډېره احتیاطه کار اخله ، ځکه یوه داسې ورځ په مخکي ده چي موږ به د خپل خالق او مالک په وړاندې دریږو او د یوه یوه شي حساب به ورکوو او د هغه ستر ذات په وړاندې به نه د کوم شي د پټولو کوښښ کولای سو او نه به پر خپل بد عمل پښیمانه کېدلای سو.

هارون رشید ددغو خبرو په اوریدلو تر ډېره وخته وژړل او ویل یې : هو ، همداسې ده ، تا یقیناً صحي خبره وکړه.

هسې په لویه کې خو ټوله لوبه دوی روانه کړې، خو ځینې پېښې داسې وې، چې دآقایانو مخامخ لاسونه پکې درسوایی ترحده ورسېږي او دپټولو او اصولي ښوولو بې ځایه کوششونه یې کیږي، چې وروسته بیا په خپله له دغو تاویلونو او حیلو پردې پورته شي .

وایي چې دبلخ یا مزار والي عطامحمد نور له دندې گوښه شو یا یې استعفا ورکړه، خو له کلونو راهیسې ددغې گوښه کېدنې خبرونه او تبصرې وینو یایې اورو، یو والي چې په حکومتي تشکیل کې تر ارگه هم رانښکته دوزارت مربوط وي ، دیوه پټ راز له مخې دومره لوی شي چې بیا وزارت څه چې له ارگ سره ډغرې وهی شي، دا یوداسې پټ قوت ښیي چې له رسمي چوکاټه هاخوا پټې معاملې او سازشونه په ډاگه کوي ، په دغو معاملو او سازشونو دکابل بېچاره گان خبر نه وي، نن هم دده استعفا دهغوی کار دی چې په دغو معاملو یې ورسره پټې گوتې خوږې کړې وې او سبا به یې بیا هم چې وغواړي یوې بلې معاملې ته رامخته کړي او دوی به یې دمقابلې توان هیڅکله ونه لري .

په ټوله کې دهیواد داشغال مسئله یوخواته، خو دمزار اشغال او وېش پکې یوه ځانته لوبه ده چې لویو قوتو پکې جلا وېش او تقسیم کړی، دلته وتلې څېرې او مشهور قوماندانان هم جلاآقایان او باداران لري اوله نورو یې توپیرشته، که څه هم هغوی دې دمرکز او پلازمېنې واکمنان وي، مونږ ولیدل چې دعطانور دقضیې له تشهیر سره سمدستي دالمان د دفاع وزیره نابېره اوپه نا اعلان شوي سفر مزار ته راورسیده، داچې څه یې وکړل اوله چاسره یې ولیدل اودکوم مقصد لپاره راغلې وه ؟ دا سر هم له کابله همداسې پټ دی لکه دمزار دښاغلو لوبول .

دمزار ددغې لوبې یوبل اتل هم شته چې یوځل دارگ ترمرستیالی ورسیده او بیا دمزار دلوبې جانبي عوارضو ځنډ واهه او اوس دیوبل سازش په انتظارله هیواده بهر دجلاوطنی شپې سبا کوي.

نه په ارگ کې ددې توان شته چې له ارگ دباندې په ارگ پورې تړلی سرخوږی ورک کړي، نه په دوی کې خپل دومره څه لیدل کیږي چې له خپلو بادارنو پرته دې په ولسي ملاتړ ترارگه ورسیږي، بس ارگ ته درسېدو کاذبو وعدویې حواس مختل کړي او په یوه هیواد او یوه حکومت کې یې یوسمت ورته داوزلوبې ډگر گرځولی ، نو ارگ ناستو ته دزرکلنی دعاوې بې ځایه دي ، هغوی بې چاره گان ترکمونستي ارگ نشینانو هم ډېر دترحم وړ دي! چې که نور نه وو دخپل حکومتي تشکیل په واحدونو خو مسلط و ، نه لکه دوی چې په خپل والي او رئیس! هم خپله خبره نه شي منلی !!

عزیز/ځاروان

10 هغه قوانین

چې تنهایي په شمالي کوریا کې لیدلای شی !!

لکه چې شمالي کوریاپه سیاسي اوپوځي میدان کې ځانګړتیاوي لري اودنړۍ له لوی ابرقدرت (امریکا) اوغرب سره په قاطع مزاحمت لګیادی اودامریکااوغرب دهرمغرورحرکت اوهڅې په وړاندې دوه برابره غبرګون اوموقف نیسي ؛دغسې یې داخلي جوړښت اوقوانین هم له نورې دنیاڅخه پیچلي اوجالب دي

راځئ چې ۱۰ هغه قوانین ستاسي مخته کیږدوچې له شمالي کوریاپرته یې بل ځای نشی لیدلای .

۱.دولسمشری په ټاکنوکې سل په سله شرکت

په شمالي کوریاکې دولسمشری په ټاکنوکې برخه نه اخیستل قانوني جرم ګڼل کیږي ، له هروه کلونوورسته یوځل دکوریاوګړي مکلف دي چې دخپل مشردټاکلوپه پروسه کې ګډون وکړي اوجالبه خبره داده چې تراوسه دولسمشری په ټاکنوکې هیڅ یومخالف کاندیدمخي ته ندی راغلی اونه تراوسه چامخالفه رایه کارولي ، ټول خلک اړدي چې خپل هغه رهبرته رایه ورکړي چې دخپل عمرترپایه به پردوئ واکمن وي .

۲ - په پلازمینه کې داوسیدو قانوني مجوز

په شمالي کوریاکې ځوک اجازه نلري چې دنوموړي هیوادهرې برخې ته ولاړشي اویاهلته میشت شي،بلکې دهغه ایالت اوسیمي دولتي مسؤلین به رسماخبروي چې هغه ولې له خپل اصلي ځایه څخه دلته راغلي اواستوګنه غوره کوي.

دغه راز که ځوک غواړي دنوموړي هیوادپه پلازمینه (پیونګ یانګ) کې استوګنه اختیارکړي لازمي ده چې اړونده ا منیتي اداروته رسما وړاندیزوکړي او د هغو کلکو شرایطو په رڼاکې خپله وړتیا او لیاقت ثابت کړي چې په پلازمیني کې دوګړود اوسیدلو لپاره وضعه شویدي

وئیل کیږي چې دشمالي کوریاواځې هغه خلک په پیونګ یانګ کې اوسیدلای شي چې دولت ته زیات وفاداراونیږدي وي اوداسې یوه کارنامه یې سرته رسولي وي چې هغه له دولت اوخاوري سره دمینې دثبوت په توګه یادیدای شي .

۳ .دغرب دسرمایه داري نظام په تجارت ، فیشن اولباس بندیز

دغرب اوامریکادسرمایه داري نظام دوسائیلو، فیشن، غذا اولباس په تجارت، اغوستلواوخوړلوباندي چې دولت مشخص کړي کلک بندیزدی

۴ - اجباري ننداره

شمالي کوریا ۳ تلویزوني دستګاوي جوړي کړي اونصب کړي چې دولت له لوري په بشپړه توګه اداره کیږي ، په دغوتلویزوني دستګاووکې دولت خپلووګړوته دخپل هیوادسیاسي ، اقتصادي اوپوځي وضعیت تشریح کوي اودهغې حاکمي فضاپه باب چې دولت یې دیمکراسی بولي معلومات ورکوي ، دشمالي کوریاوګړي

مکلف دي چې هره ورځ دهغو تلويزوني دستگاوو ننداري اوتبليغاتوته ورشي اواستفاده ترينه وکړي .

۵ - اوس په شمالي کورياکې ۱۰۶ کال دی

شمالي کورياد‌جوچي له مروجې اصطلاح څخه استفاده کوي ، جوچې د«خوداتکايي»او«خود کفايي» په معناده چې همدادکوريادسياسي ايډيالوژي اړانه بلل کيږي يعنې ړومبی کال يې دروان ميلادي کال ۱۹۱۲ سره سمون خوري چې هغه دشمالي کوريا دړومبي رهبر او مؤسيس (کيم ايل سونگ) دپيدا کيدو او دکوريا د تاسيس له نيټي څخه پيل کيږي.

۶ - ددريونسلونومجازات اوتنبيه .

که په شمالي کورياکې کوم شخص دجرم ارتکاب وکړي ، پلار، موراواولادونويې هم ورسره په جرم کې شريک بلل کيږي ، دمثال په ډول که مجرم له زندان څخه وتښتي اوقانون ترپښولاندي کړي ، نه يواځې چې دهغه کس دنيولوهڅه کيږي بلکي دهغه دکورنی ټول ژوندي غړي ، لکه نيکه ، پلار ، مور ،نيا وروڼه ، خويندي اوبچيان يې هم نيول کيدای اوزندان ته اچول کيدای شي اوترهغوبه بنديان وي چې ترڅواصلي مجرم ځان دولت ته ونه سپاري .

۷ - دويښتانوداصلاح کولو مصوبه

که غواړي خپل ويښتان په يونوي اوخاص ډول جوړاواصلاح کړي که په کورياکې ياست نوددغه کار تصور مه کوي ، کنه له يو لوی جنجال سره به لاس اوگريوان شی،ځکه په شمالي کورياکې دويښتو جوړولو لپاره ۲۸ ډولونه تصويب اوپه نښه شوی ، چې سم نيم يې دښځواونيم يې دنارينه لپاره په نظرکې نيول شوي

تنها دشمالي کوريامشرکولای شي چې په خاص ډول خپل ويښتان جوړکړي هغه له دغه قوانينوڅخه مستثنی دی دهغه تقليدڅوک نشي کولای ، دغه راز ويښتاڅوک نشي رنگولای

۸ - په مقدس کتاب پابندي

له ځان سره څوک کوم مقدس کتاب نشي ساتلی او گرځولی، که له چاسره وموندل شوسزايې مرگ اواعدام ده

په شمالي کورياکې (العياذبالله) دعقيدي اوباور مرجع د(کيم)خاندان اوحکومت دی ، دکيم جونگ په اړه خلک مجبوردي داعقيده ولري چې دکوريايانوذهن اوفضا هغه کنترول کړي.

۹ - خارجي تابعيت خطرناک دی

دشمالي کورياقوانين دمهاجرت اوسياحت په اړه مبهم اوگونگ دي ، په دې معناچې دبهرني تابعيت لرونکی کس هره لحظه ددولت له لوري دنيول کيدوله گواښ اوخطرسره مخ کيدونکی دی

په دې سربيره شمالي کورياته دسياحت په نيت تلل هيڅ خصوصي حريم اومصؤنيت نلري ، هرچيرته چې څوک ځي دولتي کس به ورسره ملگری وي ، تنها دسياحت ځايونه ليدلای شي که يوگام هم بلی خواته ولاړشي دولت يې نيولی اوسزاورکولای شي ، ددولت له دغوسختو قوانينو څخه هدف دادی چې څوک شمالي کورياته په استخباراتي نيت رانشي

۱۰ - دشمالي کوريارهبرله هرډول دولتي گرفت څخه معاف اودقانون پاپندندی

که څه هم دکورياقوانين په زيات جديت اوقاطعيت تدوين شوي ، خويواځي هغه څوک چې له دغوقوانينوڅخه معاف اوترهيڅ پوښتني اوگرويژني لاندي نه راځي هغه دشمالي کوريارهبراوټولواک دی يعني هغه ترقانون اودولتي مقرراتولوړ دی هرڅه چې وغواړي پرته له کوم ځنډ اوخنډ يې ددوئ په اند ترسره کولای شي.

شهیدزوی

دټرمپ نوی اعلان

او د اسلامي نړۍ کمزوری دریځ

دټرمپ په نوم دوخت لوی دجال خپل دجالي ښکاره کړه اودغاصب اسرائیلي دولت لپاره دپلازمېنې په صفت دبیت المقدس په رسمیت پېژندلواو دتل ابیب نه دلته دخپل سفارت درا انتقالولو داعلان له لارې یې دنړۍ دمسلمانانوسره ددښمنۍ یوبل باب پرانست .

له یوې خوا په منځني ختیځ کې دپردومداخلو اولاسوهنوله امله رامنځته شوی انتشار؛ فرقه یزې شخړې اوتعصبات؛دنظامونوړنګېدل ؛ کورني خونخوارجنګونه اوپه نتیجه کې یې دآبادو ښارونو ورانېدل ؛ په ملیونونوانسانان قتل کېدل اوپه لسګونوملیونه دخپلوکورونو پرېښودوته داړکېدلونه پس دنړۍ په مختلفوبرخوکې دسترو دربدریو اونه ختمېدونکو مشکلاتوسره مخامخ کېدل ؛دلته روان خوراناوړه سیاسي جریانات دنړۍ مسلمانانو لپاره دسخت خفګان اوغم سبب شویدي اوله بلې خوا دامریکا دولسمشر له لورې دغاصب اسرائیلي دولت لپاره دپلازمېنې په صفت دبیت المقدس منل بې له شکه چې دنړۍ دمسلمانانو په غم ، خفګان اوذهني کوفت کې لا ډېر زیاتوالی راوستلو.

غالباً دابه دامریکا په تاریخ کې ړومبی داسې اعلان وي چې په نړۍ کې هیچا نه وي تائیدکړی ؛ له غاصب اسرائیلي دولت پرته نېږدې ټولې نړۍ دټرمپ دا اعلان غندلی دی او ورسره یې خپل مخالفت ښکاره کړیدي .

د۲۰۱۱م کال په جنورۍ کې چې په شام کې کورني جنګ پیل شونوپکې دنړۍ دزبرځواکونواوپه ځانګړي ډول دامریکاکړنلارې اوعمل ته په پام سره دااندېښنې راڅرګندېدلې چې دکورني جنګ بل شوی دا اوربه ټول شام په خپلولمبوکې وسوځوي اوترڅنګ به یې ټول منځني ختیځ ته دخپرولو هڅې وشي ؛ هغه مهال چې کومې اندېښنې ښکاره کېدلې نن حالات پرهماغي لور روان ښکاري اوبې له شکه چې دامریکا دولسمشرپه صفت دټرمپ دټاکل کېدونه پس سعودي ته دهغه سفر او اوسنی اعلان ددې هڅودوه ډېر ستر عملي اقدامونه دي .

لویدیځه نړۍ هم دامني چې دټرمپ دا اعلان په تمامه معنی نامعقوله دی اوله دې امله به دفلسطین دستونزې دحل لپاره دمذاکراتوجریان ته لوی تاوان ورسېږي چې ټوله پړه به یې دامریکا پراوړو وي . دامذاکرات له کلونو راهیسې دفلسطیني دولت اوغاصبې اسرائیلي ادارې ترمنځ روان دي چې تر اوسه یې هیڅ نتیجه نده ورکړې خوچې دصهیونستي رژیم پرضد دفلسطیني مسلمانانو دروان جهاد دکمزوري کولواودجهادپرځای دمذاکراتوسره دفلسطینیانود هیلودترلولپاره دلویدیځ په اند مؤثره لار ده نوځکه یې ټول لویدیځ سخت طرفدار دی او دداسې اقداماتوسره په ښکاره خپل مخالفت ښکاره کوي له کومو چې دې مذاکراتوته تاوان رسېږي.

په ۱۹۴۸م کال کې دبرتانې په لاس دغاصب اسرائيلي دولت درامنځته کېدونه مخکې اوله دې نه پس چې په لويه پيمانه دخپلوکورونواوسيمونه دفلسطيني مسلمانانو د ويستلو او ددوئ دځمکودغصبولولړۍ پيل شويده له هرې نه بلې ورځې ته پکې زياتوالی راځي .

دفلسطين دآزادۍ لپاره تر اوسه دعربو او اسرائيلو دجنګ په نوم ۴جنګونه رامنځته شويدي چې له بده مرغه دهرجنګ نه پس اسرائيلوخپلو پولوته وسعت ورکړی اولا زياتې سيمې يې ترخپلې قبضې لاندې راوستی دي ؛ په ۱۹۶۷م کال کې رامنځته شوي دريم جنګ کې اسرائيلوټول بيت المقدس قبضه کړ ؛ له دې جنګ نه وړاندې دبيت المقدس ختيځه برخه داردن برخه وه.

پدې جنګ کې ۵ ستروعربوهېوادونو داسرائيلوپه مقابل کې چې ترشا يې امريکا اوټول لويديځ ولاړ و سخت شکست وخوړ ؛ اسرائيلودمصر نه دسينا دښته او شرم الشيخ ونيول ؛ دشام نه يې دګولان غرونه قبضه کړل او داردن نه يې غرب اردن اوختيځ بيت المقدس ونيول ؛ دکمپ ډيوېډ اوځنې نورو رامنځته شويو تړونونو له لارې نيول شوی سيمې اسرائيلو بېرته پرېښودې خو ختيځ بيت المقدس يې همداسې ترخپلې قبضې لاندې وساتلو .

هسې خولا ډېرمخه په ۱۹۹۵م کې دامريکا دولت بيت المقدس ته دخپل سفارت دانتقالولو پرېکړه کړی وه خوپه عمل کې به دامريکا هر ولسمشر اوقانونجوړونکو ددې پرېکړې دعملي کولونه ډډه کوله ترڅو چې دټرمپ په نوم اسرائيلوته خورا نېږدې اوداسرائيلوډېر خوا خوږی شخص دامريکا ولسمشر شونوداسلام اومسلمان سره پر دښمنۍ دولاړو ګڼونورو اقداماتوترڅنګ يې داسرائيلودپلازمېنې په صفت دبيت المقدس منل هم اعلان کړل .

دکمپ ډيوېډ ددوهم تړون په نتيجه کې دفلسطين داداري رامنځته کېدل ومنل شو اودفلسطين دآزادۍ دغورځنګ مشر ياسر عرفات يې ړومبی ولسمشر شو؛ ددې اداري اوسنی ولسمشر محمود عباس دی ؛ په ۲۰۱۵م کال کې دملګروملتونو اداري کې دنړۍ په ۱۹۳ هېوادونوکې ۱۳۶ هېوادونو فلسطين يانې لويديځه غاړه اودغزې تړانګه ديو آزاد هېواد په صفت په رسميت وپېژندلو؛ دا ويل شوي ووچې اوس به ددې هېوادچارواکي درمله نه ددې هېوادچارې پرمخ بيايي او داسرائيلوسره دمذاکراتونه پس به ددې هېوادپلازمېنه بيت المقدس وي .

امريکاپه ښکاره تل دفلسطيني مسلمانانودآزاهېواد سره خپله همغږي ښودلی ده ؛ همېشه به يې په بيت المقدس داسرائيلودقبضې او داسرائيلو دپلازمېنې په صفت ددې ښار له منلو سره خپل مخالفت ښودلونوځکه به غاصب اسرائيلي دولت دلته دډېروتصرفاتونه ډډه کوله اودټرمپ پورې ټولو ولسمشرانو دفلسطينيانو او اسرائيلو ددوه مستقلو هېوادونو د رامنځته کېدونه خپل حمايت ښکاره کړی ؛ پدې اړه يې د هردول مرستې کولوخبره هم کړيده اوهر نوي ولسمشرچې دخپلې دورې دختمېدونه وړاندې وړاندې دازادفلسطيني دولت درامنځته کولو خبره کړيده نودډېروګومان داوچې شايددامريکا په مشرۍ کې دمذاکراتو له لارې داستونزه حل اوورسره دمنځني ختيځ کرکېچ هم راکم شي خو دټرمپ اوسني اعلان دامريکا اصلي څېره خلکوته راښکاره اودفلسطين په موضوع کې دنفاق ټولې پردې يې له مخ نه پورته شوې .

امریکا نړۍ ته ځان ډېر دیموکرات ؛ امن خوښونکی ؛ دمذهبي بستپالنې اوتعصباتو خلاف ، اودسخت دریزۍ ضد معرفي کوي اودنړۍ نه هم تل داغوښتنه کوي چې دبستپالنې او سخت دریځۍ په له منځه وړلوکې دې خپل مسؤلیت ادا کړي خوپدې اعلان دنړۍ دترټولوستر دین اسلام پیروانو احساساتودمجروح کولو له لارې دامریکا دادروغجنتوب اومنافقت هم لازيات راښکاره شو اوټولې نړۍ ته ښه روښان شوه چې امریکا پخپله په خپلو لاسونو مذهبي تعصباتو، سخت دریځۍ اوبنستپالنې ته وده ورکوي اوقصداً دنړۍ امن دخطرونوسره مخامخ کوي .

دټرمپ پدې اعلان په ۱۹۹۳م کې رامنځته شوی داوسلوهغه تړون هم دخطر سره مخامخ شو دکوم په نتیجه کې چې فلسطینیانو اواسرائیلو دیوبل عبوري حیثیت منلی او ددواړو لوروترمنځ دامن په نوم مذاکرات پیل شوي وو.

دټرمپ اوسنی اعلان دلازیات تشویش وړ خکه دی چې دا په داسې وخت کې شوی چې عربي نړۍ په ډېروستروبحرانونوکې واقع ده ؛ دشام روان کورنی جنګ ؛ دعراق ناوړه حالت ؛دلیبیاضعیفه اداره ،ګډوډې اوطوائف الملوکي ؛ په یمن کې روان جنګ ؛ دقطر نزاع ؛ دسعودي اوایران ترمنځ دبرلاسۍ لپاره روان سوړ جنګ اوس داسیمه دلویې بربادۍ اودبحراني حالت سره مخامخ کړیده .

ددې پرېکړې دردچې ټولې اسلامي نړۍ محسوس کړیدی نوپراسلامي نړۍ مسلط حاکمان یې خپلو ولسونوته سخت بې اعتباره کړل او ټولوعامو مسلمانانو ته یې داخبره ښه روښانه کړه چې مشران یې یواځې دفلسطین دستونزې په حل اوداسرائیلوپه نوم دیوکوچني غاصب هېوادنه دخپلې ړومبۍ قبلې په دفاع نه شي توانېدلی .

اوپه ځانګړي ډول داسلامي نړۍ پرځینو هېوادونو مسلط هغه مشران خویې دلوی مشکل سره مخامخ کړل چې دټرمپ د راتلو نه پس یې امریکاته دځان ډېر نېږدې کولو هڅې کولې او د امریکا دخوشالولوپاره یې یولړدشرم نه ډک اقدامات هم وکړل .

نوځکه داسلامي هېوادونوټولو مشرانودټرمپ دا پرېکړه وغندله اوترې ویې غوښتل چې دا پرېکړه دې بېرته ماته کړي.

دلومړي نړیوال جنګ نه پس دسخت دریځو یهودیانو دخوشالولو په موخه برتانې د ((اعلان بالفور)) په ترڅ کې دخپلې قبضې لاندې دفلسطین خاوره کې دیهودي دولت درامنځته کولوبنسټ کېښود چې ټول لویدیځ تائید کړ اوبیا دعربو او اسرائیلو په څلورو واړو جنګونوکې غربي نړۍ دتل ابیب ترڅنګ ولاړه وه خوپه تېروڅولسیزوکې چې هم په عربي نړۍ کې ښه ډېر تېل کشف شول اوبیا ورپسې په نړۍ کې ستر سیاسي بدلونونه هم رامنځته اوپه عربي نړۍ کې دلویدیځې نړۍ ډېرې ګټې رامخې ته شوې نوپه لویدیځ کې هم دآزاد فلسطیني دولت درامنځته کېدوسره دلویدیځوالو تائید مخ په زیاتېدو شو ؛ اوس داتائید په لویدیځ کې تر بل هروخت نه خکه زیات دی چې ټرمپ ګنو اروپایې هېوادونوته هم خوله وراچولی ده اودټرمپ کرنلاره هم دټولواروپایي هېوادونولپاره دمنلو وړ نده چې اوسنی اعلان هم له همدې ناسمو کړنلاروڅخه دی نوځکه ورسره اروپا خپل مخالفت ښکاره کړ اوژربې دامنیت دشورى غونډه راوبلله ؛ دامنیت شورى که څه هم خپل مسئولیت ادا نه کړ اوامریکا ، یې دخپلې پرېکړې ماتولو ته اړ نکړه خولړ ترلړه دایې وویل چې ټرمپ باید خپله پرېکړه ژر تر ژره ماته کړي ؛ ددواړو لوروتر منځ دمذاکرتو عمل ته ځانګړې توجو وکړي .

پدې کې هیڅ شک نشته چې په منځني ختیځ کې دعربانو اوایران خپلمنځي اختلافاتو دفلسطین مسئله بېخي له پامه غورځولې وه خودټرمپ اوسني اعلان دامسئله ښه راژوندۍ کړه اوفلسطین یوځل بیادټولې نړۍ دتوجومرکز وګرځېد؛ دایران اوعربي نړۍ روان کشمکش دفلسطین مسئله بېخي شاته کړی وه .

اوس ددې خبرې ډېره زیاته اړتیا ده چې دبیت المقدس سره دمینې اوعقیدت داظهار تر څنګ ټوله اسلامي نړۍ اوخصوصاً دمنځنۍ ختیځ هېوادونه عملي اقدامات هم وکړي ؛ دټرمپ دپرېکړې پر ضد داحتجاج تر څنګ داسلامي نړۍ په خپلوکې دیووالي اوددښمنیوو دختمولوډېر ه زیاته اړتیا ده ؛ ایران اوسعودي بایددفلسطین دستونزې دحل لپاره دبرلاسی دحصول لپاره خپلو روانواختلافاتواو روان سوړجنګ ته دپای ټکی کېږدي ترڅو داستونزه حل شي .

دفلسطین ستونزه یواځې دفلسطینیانوستونزه نده دادټول مسلمان ملت ستونزه ده اوټول مسلمان ملت پدې اړه مسؤلیت لري خوله بده مرغه چې داسلامي هېوادونوحاکمان پدې اړه دخپلو مسؤلیتونواحساس نه کوي او ددې ستونزې ټول بار دفلسطین دمسلمانانوپر کمزوروواوږو وربار دی اوپدې لار کې په یواځې خان دعددپه لحاظ دې کمو اود وسایلو په لحاظ دې کمزورو مسلمانانو ډېره اوږده مبارزه وکړه اوډېرې سترې قربانۍ یې ورکړې نوکه او س هم مسلمان هېوادونه پدې اړه دخپل مسؤلیت احساس نه کوي او ددې ستونزې دحل لپاره اړین اقدامات نه کوي دابه دخپلې قبلې اودفلسطینیانودلویوقربانیو سره ډېره ستره جفا وي .

هو! دترکې دولسمشراوداسلامي کانفرانس اوسني مشر طیب اردګان اقدامات یوڅه دستاینې وړدي چې دټرمپ داعلان نه پس یې بې له دې چې وخت ضایع اودوخت نه خبره تېره کړي سمدستي یې داسلامي هېوادونو مشرانوسره تلېفوني تماسونه ونیول اوپه ٦ ورخوکې دترکې په پلازمېنې استنبول کې د او آی سي یانی اسلامي کانفرانس دبېړنۍ غونډې په رابللو وتوانېد؛ سره له دې چې پدې غونډې کې سعودي عربستان اودعربومتحده اماراتو هغسې لېوالتیا ښکاره نکړه څرنګه چې پکاروه خودنوروهېوادونو وفودو دبیت المقدس سره دخپلې مینې اوعقیدت اظهار وکړ او په کانفرانس کې شرقي بیت المقدس دفلسطین دپلازمېنې په صفت ومنل شو اوترڅنګ یې پرېکړه وشوه چې دملګروملتونو اداري کې دمنظورېدا لپاره به داترون دې اداري ته هم وړاندې کړای شي ؛ چې همداسې وهم شوه؛ تمه کېږي چې په همدې اوونۍ کې پدې اداري کې ددې تړون په اړه غوروشي .

دامنیت شورى کې خوددې دتائید تمه خکه نشي۔ کېدای چې امریکا یې ویټوکوي خوکه په جنرال اسمبلی کې وړباندې رای ګیري وشي نوپه ١٩٣ هېوادونوکې چې ٩٧ هم ددې دتائیدپه هکله رای ورکړي منظور به شي اولړ تر لږه دابه وشي چې هیڅ هېواد به بیاتل ابیب نه بیت المقدس ته دخپل سفارت درا انتقالولو قانوني حق ونه لري .

دکانفرانس نه پس دترکې په مختلفوځایونوکې ولس ته دخطاب په ترڅ کې وویل چې ډېر ژر به خپل سفارت دفلسطین په پلازمېنې بیت المقدس کې پرانیزو؛ هغه په خپلو ویناووکې څوځلې دا وویل چې که بیت المقدس مو له لاسه ورکړ نوبیابه دمکې اومدینې هم همدا حال وي ؛موږ له دې یو نه هم تېرېدونکي اوپه سر یې له چاسره سودا کونکي نه یو؛ دازموږدعزت ، وقار او ناموس خبره ده ؛ دازموږ دمرګ اوژوند خبره ده پدې لار کې زموږ هرڅه قربان دي ؛دنړۍ په مختلفوبرخوکې دمسلمانانوپرضد دروانوظلمونوپه اړه نړۍ سترګې پټې کریدي موږ به ددې ظلم پرضدخپل اواز اوچتوو.

سره له دې داسلامي نړۍ مشرانو پدې اړه کومه اغېزمنه اودجرأت نه ډکه پالیسي وړاندې نه شوه کړای اونه یې هم کوم مؤثر اقدام و کړ خو چې دطیب اردګان په څېر دجرأت نه ډک اظهارات ټولوکړی وای دابه هم غنیمت ګڼل کېدای خوله بده مرغه چې داسرائیلوسره دعربي نړۍ دپټو روابطواودامریکا سره ددوستۍ په نوم په تمامه معنی دغلامۍ قبلولونه پس دداسې جرأت تمه ددوئ نه نه شي کېدای .

محمدالیاس فاتح

د اسلامي نړۍ ځلانده ستوري

الإمام شهاب الدين بن أرسلان رحمه الله

هغه په لس کلنۍ کې د قران کريم حافظ او په ځوانۍ کې د فلسطيني ټاټوبي تر ټولو ستر عالم و پېژندل شو

که څه هم د فلسطين مسلمان ملت د اسراييلي صهيونستي زبېښاک دلاسه د ناامنۍ پر سکروټو رغړي، او د غاصبو يهوديانو د بوږنونکو وحشتونو له وجې يې د انساني تمدن د نورو سکتورونو په څېر د ديني علومو اداري هم له زيانونو سره لاس او ګريوان دي، خو د دې سترناورين باوجود دغو مومنو پرګنو بيا هم د شرعي علومو د مختګ مخه ډب کېدو ته نه ده پرېښې او په هر ډول ناسمو شرايطو کې يې وار په وار په نړيواله کچه اسلامي ټولنې ته درنې علمي ستې وړاندې کړې دي، چې له هغوی څخه يو هم مشهور امام، ستر محدث ، شافعي فقيه،نامتو اديب او روحاني شخصيت علامه ابن ارسلان رحمه الله دی.

نوم او نسب يې: خپل نوم يې شهاب الدين کنيت يې ابو العباس او لقب يې ابن ارسلان دی او د نسب لړۍ يې په دا ډول ده : شهاب الدين احمد بن حسين بن حسن بن علي بن يوسف بن علي بن أرسلان، الرملي ثم القدسي. د هغه لقبي نوم اصلاً د ليکدود له مخې په همزه سره «ابن أرسلان» دی، مګر ډېری خلکو يې په تلفوظ کې همزه حذف کړې«ابن رسلان» يې ويلی.

زوکړه او زده کړه يې: علامه ابن أرسلان په (۷۷۳او يا ۷۷۵)سپوږميز کال، د فلسطين په « الرمله» لرغوني ښار کې نړۍ ته راغی او همدلته (په الرمله کې) رالوی شو. د هغه پلار سوداګر (تجار) مفکر او د قران کريم ښه قاري و، او مور يې هم ډېره دينداره او بزرګه ميرمن وه او ماما يې هم لوی عابد او د وضائفو او اذکارو خورا زيات پابند و.

ابن ارسلان له لومړي سره په يوه دينداره کورنۍ کې او په ځانګړې توګه د خپل مور پلار او ماما تر ښې پالنې لاندې وده کوله، او کله يې چې د عمر پر لسم پسرلي قدم کېښود نو د قران کريم حفظ يې ترسره کړی و.

ويل کېږي، چې پلار يې په دوکان کې کيناوه او د دوکانداری (د پېرودنې او پلورنې) مسوليت يې ور په غاړه کړ، هغه چې د تجارت پر ځای خپل زړه پر علم پورې تړلی و، نو هر وخت به پر مطالعه بوخت و، او (الخاصکيه)مدرسې ته به تله او هلته به پر سبقونو مشغول و،چې له امله يې د تجارت چارې ټکنۍ شوې او په نتيجه کې يې دوکان تاوان وکړ او د ې پکې ملامت

راغی، نو هغه خپل پلار ته داسې وویل: «زه یوازې دمطالعې صلاحیت لرم او بس» . هماغه وه چې ددوکانداری مسولیت یې بیرته پلار ته وسپاره او په علم پسې یې ملا وتړله، او دعلم پیل یې له نحوې،لغت او نظم څخه وکړ.

استاذان او شاګردان یې: نوموړي په دې مبارکه لیار کې زیات سفرونه وکړل، زحمتونه یې وګالل او له نامتو استاذانو یې زده کړې ترلاسه کړې، چې د ځینو نومونه یې په لاندې ډول دي:

الشیخ العلامه شمس الدین القلقشندي .

الحافظ ابن حجر العسقلاني.

الامام العلامه شیخ الاسلام سراج الدین البلقیني.

الشیخ العلامه ابن الهائم.

الإمام العلامة قاضي القضاة جلال الدین البلقیني.

العلامة ابن الناصح.

الشیخ الولي شمس الدین التركستاني.

الشیخ العلامة شهاب الدین العلائي.

الإمام العلامة شمس الدین الغزي.

الشیخ المحدث شهاب الدین التركماني الأصل الدمشقي .

الشیخ جمال الدین المخزومي المكي.

الشیخ المحدث أبو العباس الماردیني.

الشیخ المحدث عفیف الدین النشاوري.

قاضي القضاة أحمد بن ناصر المقدسي .

الشیخ شهاب الدین الحنبلي.

دعلامه ابن ارسلان مشهورو شاګردان هم دېلګې په توګه :

۱.ابن أبي عذیبه.

۲.الكمال بن ابی شریف .

۳.ابو الأسباط العامري.

تصنیفات او تالیفات یې: ۱ـصفوة الزبد؛ دا دعلم فقه ګټوره منظومه ده ، چې په مقدمه کې یې داصول الدین له جمع الجوامع څخه او په خاتمه کې یې دتصوف نظم راخیستی دی.

ددې کتاب په فضائلو کې ویل کېږي، چې کله یې دا کتاب مکمل کړ،نو له ځان سره یې سمندر ته یې یووړ،او یوډبره (کاڼی) یې ورپسې وتړله او دسمندر تل ته یې وروغورځاوه، ویې ویل: «ای الله! که دا کتاب خالص دستا لپاره وي،نو له اوبو یې بیرته سلامت راوباسې او که نه،نو پکې لاهو یې کړې (په اوبو یې یوسې) نو دغه کتاب بیرت ددریاب له تله راوخوت او داوبو پرسر باندې پاسه ودرید او یو حرف یې هم اوبو نه و، وړی.

دغه منظومه وروسته په (بولاق) ښار کې په ۱۲۸۵هـ کال چاپ شوه، داسې حال کې چې ګڼ شمېر حواشي پرې کښل شوي وو. له دې کتاب څخه بېشماره خلکو ګټه پورته کړه او وخت په وخت نامتو عالمانو پرې حاشیې او شرحې ولیکلې او په جامعه ازهر کې هم دتدریس په توګه وټاکل شو .

پر یادې منظومې ځینې کښل شوې شرحې دا دي: (فتح الرحمن؛ دوه جلده)،(عایة البیان فی شرح زبد ابن رسلان)،(فتح الصمد بشرح صفوة الزبد)،(فیض المنان بشرح ابن رسلان)،(افادة السعادة العمد بتقریر معانی نظم الزبد).

-٢ كتب قطعًا متفرقة في التفسير.

-٣شرح البخاري ؛ تر آخر الحج يې درو جلدو ته ورسوله خو نېمګړې پاتې شوه.

-٤ شرح لسنن أبي داود ؛ يوولس جلده .

-٥نظم في علم القراءات .

-٦شرح منهاج البيضاوي .

-٧مختصر أدب القضاء للغزي.

-٨فوائد مجموعة نفيسة تتعلق بالقضاء وبالشهود.

-٩شرح تراجم ابن أبي جمرة .

-١٠شرح الشفا معتنيًا فيه بضبط ألفاظه.

-١١شرح ألفية العراقي في السيرة.

-١٢تنقيح الأذكار.

-١٣شرح على التنقيح للزركشي.

-١٤استشكالات على شرح الكرماني ؛ يو جلد ، نامكمله.

-١٥شرح جمع الجوامع .

-١٦شرح الأربعين النووية.

-١٧شرح منهاج الطالبين للنووي.

-١٨شرح على مختصر ابن الحاجب.

-١٩شرح البهجة الوردية ؛ نيمګړې.

-٢٠تصحيح الحاوي. پوره نشوه.

-٢١شرح ملحة الحريري .

-٢٢نظم إسناده بصحيح البخاري مع حديث من ثلاثياته.

-٢٣مختصر حياة الحيوان للدميري مع زيادات فيه لقطعة من النباتات.

-٢٤طبقات الفقهاء الشافعية.

-٢٥إعراب الألفية.

رحلت او كرامت يې: علامه ابن ارسلان رح علمي ډګرونو ته ترزياتو خدمتونو وروسته، د بيت المقدس د مسجد اقصى د «الختنية» په مدرسه کې د ٨٤٤هـ کال د شعبان ٢٤مه د چهارشنبې په ورځ داجل داعي ته لبيک وو ايه، او له دې نړيدونکې نړۍ سره يې د تل لپاره خدای پاماني وکړه

او مبارک جسد يې په «تربة ماملا» کې د ابوعبدالله القرشي تر څنګ خاورو ته وسپارل شو. د علامه ابن ارسلان په مرګ د بيت المقدس او نورو ښارونو د فراق اوښکې تويې کړې. او په جامع ازهر ،جامع الأموي او نورو ځايونو کې يې غائبانه جنازې هم وشوې.

وايي: کله چې قبر کندونکي ورته لحد جوړاوه، نو دا غږ يې واورید: «رَبِّ أَنْزِلْنِي مُنْزَلاً مُبارَكاً وَأَنْتَ خَيْرُ الْمُنْزِلِينَ». د ده له مرګ وروسته له صالحينو څخه يو تن حسين الكردي په خوب وليد، ورته ويې ويل: الله تعالى څه معامله درسره وکړه؟ هغه وويل: زه يې خپلې مخې ته ودرولم او راته ويې ويل: ای أحمده! ما تاته علم درکړی و، تا څه عمل پرې وکړ؟ ما ورته وويل: ما علم وکړ او پر هغه مې عمل هم وکړ. ويې ويل: احمده! تا رښتيا وويل، له ما څه څه غواړې؟ ما ورته وويل: ته هغوی ټولو ته ببښنه وکړه چې زما جنازه يې کړې. نو ويې ويل: بېشکه ما هغوی ته مغفرت وکړ چا چې دستا جنازه کړې، او چا چې دستا په جنازه کې ګډون کړی. له دې خوب وروسته (حسين الكردي) هم ډېر ژر له نړۍ سترګې پټې کړې.

دوه تاریخي لیکونه، چې د یوه نظام د مشـــرتابه او غړو باطني سپېڅلتیا ښه ترې جوتیږي. یو لیک د طالبانو د یوه لوړپوړي چارواکي مولوي احسان الله احسان صاحب د خپل لاس لیک دي چې تر خپل شهادت وړاندې یې خپلې کورنۍ ته لیکلی، نوموړي خپلې کورنۍ ته لیکلي چې په کور کې یې اتیا زره ډالر پراته دي هغه باید شخصا امیرالمومنین ملا محمد عمر مجاهد ته وسپارل شي، او ما په خپل ژوند کې هم امیرالمومنین ته ویلي وو چې لما سره پیسې شته که ضرورت شو راته وو ایاست.

نوموړي په لیک کې لیکلي چې په خپل ژوند کې یې د بیت المال پیسې په کور کې نه دي مصرف کړې ددې یاد رقم اجازه هم نشته چې زما په کور کې مصرف شي. دوهم لیک د امیرالمومنین د دفتر لیک دی چې اتیا زره ډالر یې د شهید


بسم الله الرحمن الرحیم


محترما!



د کلیسا د ناقوس ګرد چې په حرم پریوځي
د مسلمان په لوی کاله لړې د غم پریوځي

د قدس قاتل وینځي لمنه د خلیج په اوبو
خون یې له غاړې نه په غسل د زمزم پریوځي

د پیغمبر د کورنۍ ازار وهلي خلک
ستړه د شر یې په هر لور سپیره قدم پریوځي

هغه افغان کلا بند کړی رسوا کړی کفر
بې دمه ساه د اطمینان اخلي په دم پریوځي

دلته او هلته مسلمان ناځانخبرې ګوډا
د چا په ناز باندې پاڅي د چا په رم پریوځي

په مد و جزر د خلیج کې دا د کفر نڅا
هره نغمه یې له شیطانۍ نه زیر و بم پریوځي

د مسلمان ګریوان ته لاس ورور مسلمان اچوي
دارالامان باندې بلوا د ستر ماتم پریوځي

د اسلامي ویښتابه وړانګې د ختیځ په مورګې
ختلې ستورې د سهر په شومه دم پریوځي

د ذوالفقار وارثه هېر دې شو پیغام د خیبر
کاږه واږه د زر او زور په توره سم پریوځي

ازمېښت لیدلې دا یوه د مسلمان جونګړه
چې تندرونه د ستم پرې چم په چم پریوځي

سرخي به یې هیڅ چپاو د وخت له پاڼې لرې نه کا
د زړګي وینې دې ناګاره له قلم پریوځي

استاد ناګار